# د سره رود

# تاریخي او فرهنګي څېړنه

**(د ماسټرۍ تېزس)**

*څېړونکی*

**میرویس رحماني**

*لارښود استاد*

**پوهنوال ډاکټر ببرک میاخېل**

۱۴۰۱ل/ 2023م

**کتاب پېژندنه**

**د کتاب نوم:** د سره رود تاريخي او فرهنګي څېړنه

**څېړونکی:** ميرويس رحماني

**منځپانګه:** په دې څېړنه کې هره تاريخي سيمه څېړل شوې، جغرافيوي موقعيت يې څرګند شوی، فرهنګي وضعيت او لرغونتوب يې په ډاګه شوی، خلکو سره پرې خبرې شوي او د هر ځای اوسنی وضعيت تشريح شوی، برسېره پر دې تاريخي زيارتونو ته هم سر ورښکاره شوی او په اړه يې پلټنه شوې.

**د کتاب چاپښه:** A5 کچه، ساده کاغذ، (۱۳۶) مخونه

**چاپوار:** لومړی چاپ

**ختيځ خپرندويه ټولنه- جلالکوټ**

**۰۷۸۷۴۱۲۰۵۰ - ۰۷۷۱۱۰۴۲۴۳**

**khatiz.press@gmail.com**

**د کتاب نوم:** د سره رود تاريخي او فرهنګي څېړنه

**څېړونکی:** ميرويس رحماني

**ډيزاين:** عبدالهادي اثر ۰۷۸۸۰۰۳۷۰۳

**چاپچارې:** ختيځ خپرندويه ټولنه – جلال آباد

**چاپشمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپکال:** ۱۴۰۱ ل/ 2023م

د چاپ حقوق له خپرندويه ټولنې سره خوندي دي!

**د ترلاسه کولو پتې: ننګرهار: لومړۍ پته:** ختيځ کتابپلورنځی، اسحاق زی مارکيټ لاندينی پوړ / **دويمه پته:** درونټه، ننګرهار پوهنتون ته مخامخ

**اړيکه: ۰۷۷۲۷۱۹۰۳۰ـ ۰۷۸۴۰۰۱۲۳۷**

بسم الله الرحمن الرحيم

# تقریظ

فرهنګ دیوې ټولنې دټولو ارزښتونو یو ه پراخه هنداره ده چې دټولنې ټولنیز ارزښتونه، د وګړو د پوهې، باورونو هنري ځانګړتیاوو، دودونو وړتیاوو او عادتونو انځور په کې ښکاره کېږي، پر فرهنګي ارزښتونو له پوهاوي پرته دیوې ټولنې، ژبنۍ، اقتصادي، سیاسي او ټولنیزه مطالعه خورا سخت او پیچلې بهیر دی، فرهنګ دی چې دغو ټولو چارو ته لوری ورکوي.

هره ټولنه ځانګړی فرهنګ او فرهنګي ارزښتونه لري چې له نورو سره په توپیر کې مطالعه کېږي، فرهنګ دخپلو ځانګړتیاوو په رڼا کې د زده کړې پرمټ له یوهٔ نسل نه بل نسل ته لیږدول کیږي.

افغانستان تر ډېره یوه قبیلوي ټولنه ده چې بېلابېلې سیمې یې ځانګړي دودونه لري. په ټوله کې افغانان مسلمانان دي، او اسلامي رسوم یې دکړنو تر ټولو لویه مرجع ده خو سیمه ییز کولتور بیا هغه څه دي چې د اسلامي اصولو په نه نفې کولو سره په هره سیمه او ټولنه کې توپیر لري، دعربو چلتار د افغانانو له لونګۍ سره د بڼې له مخې توپیر لري یا یې جامې د افغانانو په څېر نه دي، دافغانانوپه څېر خولۍ، سادر او څپلۍ عربان یادنړۍ نور قومونه نه کاروي،همدارنګه د افغانانو ځینې رواجونه هم سره توپیر لري او هره سیمه یې ځانګړي دودونه لري چې له سلګونو کلونو را پدیخوا په څه ناڅه توپیر سره یې خپل کړي دي.

ستاسې په مخ کې پروت اثر (د سره رود تاریخي او فرهنګي څېړنه) هم د یوې ځانګړې سیمې د تاریخ او فرهنګ پیژندنه ده، چې لیکوال په کې د سره رود په اړه هر اړخیز معلومات را ټول کړي دي.ښاغلي

میرویس رحماني، د دې ځېړنې پر مهال ډېر زیارګاللی او دځپل کړي کار په اړه یې له مانه وخت پر وخت سلا مشورې اخیستې دي.
د ننګرهار د سره رود سیمه د سترو هستیو ټاټوبی دی په دې سیمه کې عبد الله بختاني خدمتګار، عبد الرحمن پژواک، برکت الله کمین مجددي او ګڼو نورو قلموالو او فرهنګیانو سترګې غړولي دي. پر دې سربیره سره رود ګڼې تاریخي سیمې، مشهور زیارتونه او فرهنګي ابدات لري چې ښاغلي رحماني په ترتیب سره پر بحث کړی دی،.
میرویس رحماني په کتابوني ځېړنه بسنه نه ده کړې بلکې، د ځېړنې له ساحوي میتود نه یې هم کار اخیستی او دا ځېړنه یې پرمخ وړې ده.
ښاغلي رحماني راتلونکو ځېړونکو ته هم کار اسانه کړې که په راتلونکي کې ځوک نورې ځېړنې کوي دا ځېړنه ورسره د یو لاسوند په توګه مرسته کولی شي. زه یې د لاښود استاد په توګه ګاللی زیار، لوړ ارزوم، داثر د چاپ مبارکي ورته وایم او بریالیتوب یې غواړم.

په درنښت

پوهنوال ډاکتر ببرک میاخېل

# سور رود

## (تاريخي او فرهنگي څېړنه)

هغه دوستان چې د افغانستان د ختیزو ولایتونو د ادب، فرهنګ او ژورنالېزم په برخو کې منډې ترړې وهي، نو د ښاغلي میرویس رحماني له نامه او د هغه له ادبي، فرهنګي، ژورنالېستيکو او په ټوله کې له ټولنیزو هلو ځلو هرومرو خبر دي او په ښه ډول سره يې پېژني او همدغه فوق الذکر درې ډګرونه دي چې د نوموړي د شخصیت بشپړونه ترسره کوي، یعنې همدغه درې ټکي د ده په شخصیت کې راغونډ شوي دي.
د ښاغلي رحماني په شخصیت کې تر ټولو غوره ځانګړنه دا ده چې د دوستانو په هر مړي ژوندي کې حاضر وي او د دغه همدغه ټولنیزې منډې ترړې دي چې د خپل کلي نظرآباد په نامه يې له نورو فرهنګي دوستانو سره په ګډه د نظرآباد علمي او کولتوري ټولنه یو ټولنیز بنسټ رامینځته کړ چې له دې لارې یې ډېرې ټولنیزې، فرهنګي او خیریه چارې او ادبي غونډې جوړې او ترسره کړې دي.
ښاغلي رحماني په ژورنالېستيک ډګر کې هم ډېر وخت کار ترسره کړی دی او په دې برخې کې يې ډېرې تجربې حاصلې کړې دي چې د ژورنالېستيک ډګر د چاپي رسنیو په برخې کې يې د "هار" او "چینه"

مجلو د مرستیال مدیر دندې د بېلګې په ډول یادولی شو او پـه همـدې ډول یې له افغان نیوز راډیو او ټلویزیون سره د رپـورټر او کېمـره‌مین او میوند ټلویزیون سره د رپورټر دندې ترسره کړې دي.
نوموړی دا مهال لـه ۲۰۱۴ زېږدیـز کـال راهیسـې د تلوسـې راډیـو او د دغې راډیو د خبري وېبپاڼې د رپورټر او له ۲۰۱۵ زېږدیز کال راهیسـې د ننګرهار پوهنتون کې د برېښـنایي کتـابتون د رېفـرنس آفیسر ـ دنـدې ترسره کوي.
ښاغلي میرویس رحماني خپلې لومړنۍ زده‌کړې د سـور رود ولسـوالۍ اړوند د امرخېل عالي لېسې کې حاصـلې کـړې دي او لـه دغـې لېسـې څخه پر ۲۰۰۸ زېږدیز کال بریالی شوی دی او پـر ۲۰۱۰ زېږدیـز کـال یې د لېسانس تـر کچـې لـوړې زده‌کـړې د ننګرهـار پوهنتـون اړونـد د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو ژبې او ادبیـاتو څـانګې کـې مـخ تـه وړې دي، چې له دغه پوهنځي څخه پر ۲۰۱۴ زېږدیز کال بریالی فارغ شوی دی او په همدې ډول یې د ماسټرۍ د کچې زده‌کړې د ننګرهـار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې کې پر ۲۰۱۵ زېږدیـز کال پیل او پر ۲۰۱۷ زېږدیز کال پای ته رسولې دي.
دا چې د لېسانس د کچې او تر دې ورپورته د لوړو زده‌کړو زده‌کړیالان د خپل فراغت د حصول له پاره اړ دي چې یوه علمي رساله ولیکي، نو د لېسانس د فراغت التحصیل له پاره ښاغلي رحماني د خپل یوه کلیوال ښاغلي ضیاءالرحمان حسرت پر ادبي هلو ځلـو بانـدې چـې د ادبیـاتو استاد او ژورنالیسټ هم دی، "د حسرت ادبي هڅـې" تـر نامـه لانـدې مونوګراف وکېښ او دغه ستاسې په لاسونو کې حـاضر اثـر چـې سـور رود (تـاریخي او فرهنګـي څېړنـه) نـومېږي، د نومـوړي د ماسـټرۍ د

دورې تيزېس دی.

ښاغلی میرویس رحماني دم ګړی د پېښور پوهنتون د پښتو آکاډمۍ کې د دوکتورا محصل دی او تمه ده چې د دوکتورا د ډیزرټېشن شاهدان يې هم واوسو، ځکه چې نوموړی ځوان دی او په مخ کې ورته ډېره لاره پرته ده چې په مينه مينه په خپلې خوږې ژبې پښتو کې لا نوي نوي تحقيقات ترسره کړي.

په ادبي او فرهنګي مينه

نجيب الله نايل

۲۸ ليندۍ ۱۴۰۱ لمريز

## لنډیز

سره رود ولسوالي يوه پراخه او سمسوره ولسوالۍ ده چې د جلال ښار غرب ته موقعيت لري.

ختيځ ته يې دجلال اباد ښار، غرب ته د خوګيانو ولسوالي، شمال ته يې تورغر او جنوب ته يې د شيخ مصري پراخه دښته او د چپرهار ولسوالۍ پرته ده. اوسېدونکي يې اکثره باسواده دي په پښتو او لږ شمېر خلك يې د دري ژبې يوه سيمه ييزه لهجه کاروي.

په سره رود ولسوالۍ کې بېلابېل قومونه اوسېږي، چې د وګړو ترمنځ يې ولسي دودونه خورا زيات دي. لکه د واده، مړو، جرګو او نور چې ډېره برخه يې اوس هم پالل کېږي او يو څه اندازه يې له منځه تللي دي.

په دغه ولسوالۍ کې پخواني تاريخي اثار د ارزښت وړ دي، ډېر شمېر زيارتونه، لرغونې سمڅې او هستوپې لري. هستوپې هغو برجونو ته ويل کېږي، چې د بودايانو د خپلو ښارونو په سرونو کې د پيره خانو په شکل جوړې کړې، چې د خبراوي کار يې ترې اخيسته. د همدې هستوپو له سره به بلې سيمې ته د شپيلۍ په وسيله خبر ورکول کېده.

د سره رود ولسوالۍ د درونټې په سيمه کې هستوپې لري، چې د هېواد د تاريخ په مختلفو دورو پورې اړه لري. داسې هستوپې پکې هم شته چې د زردشتيانو د دورې پورې تړاو لري؛ خو که ددې هستوپو

جغرافيوي موقعيت ته نظر واچول شي، په حقيقت کې د امنيتي پوستو په څېر جوړې شوي دي، چې د وروستيو جنګونو له امله يې ډېره برخه ويجاړه شوې او غير مسلکي کيندل ترسره شوي دي.

سره رود ولسوالي د ډېرو شاعرانو، ليکوالو او فرهنګي شخصيتونو ټاټوبی دی، ګڼې کولتوري او مدني ټولنې لري، چې د ولسونو د خيرښېګڼې لپاره کار کوي.

ما په دې څېړنه کې د پورته موضوعاتو د تشريح او څېړنې ترڅنګ د ځينو اوسنيو شاعرانو او ليکوالانو ژوندليکونه او د هغوی د شعراو نثر بېلګې را اخيستي دي.

# پیلیزه

د تیزس لیکل د ماسترۍ په دوره کې حتمي دي او دا ددې لپاره چې د ترسره شوې دورې ارزونه پکې په سمه توګـه وشي او د محصـل وړتیـا وپېژندل شي.

په همدې لړ کې ما هم په ننګرهار پوهنتون کې د ژبواو ادبیـاتوپوهنځي پښتو ماسترۍ دویمې دورې څخه د فراغـت پرمهـال د پوهنـوال بـبرک میاخېل تر مستقیمې لارښوونې د اړونده علمي بورد له لـوري د((د سره رود د ولسونو کولتوري څېړنه)) موضوع د خپل تیزس او څېړنـې لپـاره غوره کړه.

ما ددې موضوع لپاره د لارښود استاد په سلا مشوره د ننګرهار سره رود ولسوالۍ اړونده تاریخي ځایونـه، زیارتونـه، دودونـه، فرهنګـي اوادبي هستۍ او ټولیز فرهنګي وضعیت د څېړنې د موخو پـه توګـه وټـاکلې او وروسته مې پرې کار پیل کړ.

ددې څېړنې ترسراوي لپاره مې پوره چمتووالی ونیوه او د خپلو ملګرو په مرسته نږدې هرې هستوپې ته لاړم، کلاګانې مې له نـږدې وکتلـې او زیارتونه مې هم ولیدل، خلکو سره کېناستم له حالاتو مې په بشپړه توګه ځان خبر کړ، آثار مې ورته پیدا کړل.

په دې څېړنه کې هره تاریخي سیمه څېړل شوې، جغرافیـوي موقعیـت مې څرګند کړی، فرهنګي وضعیت او لرغونتـوب مـې پـه ډاګـه کـړې،

خلکو سره مې خبرې کړي، د هر ځای اوسنی وضعیت مې تشریح کړی او په همدې ترتیب مې هره برخه پای ته رسولې ده.
له دې وروسته مې بیا تاریخي زیارتونو ته سر ورښکاره کړی، د هر زیارت د شخص په اړه مې پلټنه کړې او د هغې پر پېژندلو مې رڼا اچولې، بیا مې د زیارت موقعیت او په سیمه کې اغېز څېړلی او وروسته مې پر لرغونتوب او اصلیت بحث کړی.
کله چې د پښتو ماسترۍ علمي بورد او د ننګرهار پوهنتون علمي بورد راته ددې موضوع د څېړلو رسمي اجازه راکړه نو ما تر خپلې وسې پورې د موادو په برابرولو کې له هرې ممکنه لارې نه ګټه پورته کړې او اړوند د اړتیا وړ مواد مې لاسته راوړي دي.
دیوشمېر پخوانیو اثارو یا مجلو دپیدا کولو لپاره د ځینو درنو مشرانو ادبیانو حضور ته کېناستم او له هغو مې پخواني کتابونه را واخیستل او له هغو مې د یوې باورې سرچینې په توګه ګټه پورته کړه.
د سرمحقق استاد زلمي هېوادمل څخه مننندوی یم چې ددغه څېړنیزې موضوع په ټاکنه، لیکنه او د سرچینو په موندلو کې یې راسره ډېره مرسته کړې، همداراز له حقدار لیکوال استاد سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار څخه هم نړۍ منه کوم چې په ناروغ او زهیر ځان یې د سره رود د تاریخي ځایونو او اثارو په باب هر اړخیز معلومات راکړل، له ستر څښتن څخه ورته د کاملې روغتیا او اوږدعمر غوښتونکی یم. د نغرک د ځوانانو ټولنې مسئول لمر مومند څخه هم منه کوم چې د سره رود ولسوالۍ په تاریخي ځایونو راسره وګرځېد.
په تلو تلو کې دخپل تیزس له لارښود استاد ښاغلي پوهنوال ببرک میاخېل څخه د زړه له تله مننندوی یم چې واقعاً یې دیوه لارښود استاد

حق اداکړی او دیوه مرستندویه په توګه یې مور سره د درس او دې ځېړنیزو موضوعاتو په ترتیبولو کې کار کړی ،مشورې یې راکړي او ښه لارښوونه یې کړې ده، دا ډول د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو ماسترۍ د علمي بورد مشر پوهنوال استاد معروف شاه خان شینواري او د دې بورد له هر غړي نه ځانګړې ځانګړې مننه چې د موضوعاتو په ټاکلو او د اوټلاین په ترتیبولو کې یې مور هڅولي او لارښوونه کړي یوو. د پوهنتون له علمي بورده هم مننداوی یم چې زما دا څېړنیزه موضوع یې اړینه او ارزښتمنه ګڼلې او تائید کړې یې ده چې د ماسترۍ دتیزس په توګه یې ولیکم.

درنښت

میرویس رحماني

دپښتو ماسترۍ دویمې دورې محصل

# فهرست


سریزه ........................................ ۱
د ښېرنې ارزښت ........................................ ۲
د لیکنې موخې ........................................ ۳
د ښېرنې تګلاره ........................................ ۴
د موضوع شالید ........................................ ۵
د سره رود ولسوالۍ کلتوري ښېرنه ........................................ ٦
د سره رود ولسوالۍ لنډه پېژندنه ........................................ ٦
د سره رود ولسوالۍ موقعیت ........................................ ٦
د سره رود ولسوالۍ څلورخواوې ........................................ ۷
د سره رود ولسوالۍ کرنیز پیداوار ........................................ ۷
په سره رود ولسوالۍ کې ښوونه او روزنه ........................................ ۷
د سره رود ولسوالۍ د ټولو ښوونځیو لیست ........................................ ۸
عالي لیسې ........................................ ۸
ابتدایه ........................................ ۹
د سره رود ولسوالۍ مشهور کلي ........................................ ۱۱
سره رود په ولسوالۍ کې تاریخي هستوپې ........................................ ۱۴
د بیمارانو تپه ........................................ ۲۳
شهید سخي سرور غونډۍ ........................................ ۲۸
د سخي سرور غونډۍ او دچینو (لال چشمه ها) ترمنځ د ........ ۲۹
کوز سلطانپور (سلطانپور سفلی) ........................................ ۳۱
ظلم آباد کلا ........................................ ۳۵
د سره رود ولسوالۍ زیارتونه ........................................ ۳۸
۱. سید الیاس پهلوان زیارت ........................................ ۳۸
۲. باباجي صاحب زیارت ........................................ ۴۰
۳. شاه ناصر آغا زیارت ........................................ ۴۱
۴. د شاه قاسم بابا مزار ........................................ ۴۳

۵. غازي شاولي بابا مزار ........................................ ۴۴
٦. موی مبارک ........................................ ۴۴
۷. اخوند بابا (اخندبابا) زيارت ........................................ ۴۸
۸. غيبي بابا زيارت ........................................ ۵۴
۹. لعل قاسم اغا زيارت ........................................ ۵۵
۱۰. شاه فيض الله اغا زيارت ........................................ ۵۸
۱۱. د پيرسيدحسن گيلاني زيارت ........................................ ٦۱
۱۲. سلطان بابا زيارت ........................................ ٦۲
۱۳. احمد دشت غازي ........................................ ٦۳
١٤. حضرت لوط پېغمبر ........................................ ٦۳
۱۵. د زيدعلي پاچا زيارت ........................................ ٦۵
۱٦. د قندهاري بابا زيارت ........................................ ٦٦
۱۷. مبارک شاه اغا ........................................ ٦٦
۱۸. حضرت ضيا معصوم مجددي ........................................ ٦۸
۱۹. خليفه بابا ........................................ ۷۱
۲۰. شهيد حاجي صيب مزار ........................................ ۷۴
۲۱. پيرمکان زيارت ........................................ ۷٦
۲۳. پير سبزولي بابا زيارت ........................................ ۷۷
٢٤. شاولي بابا زيارت ........................................ ۷۸
۲۵. د شيخ نيکه زيارت ........................................ ۷۸
۲٦. د سرې مخې چينه ........................................ ۷۹
۲۷. پخوانۍ سمځې ........................................ ۷۹
د سره رود ولسوالۍ دودونه ........................................ ۸۱
د جينۍ کور ته په مرکه ورتلل ........................................ ۸۲
گوړه ماتی ........................................ ۸۳
خوره کونډۍ (خوره کاسه) ........................................ ۸۴
د اخترونو جوړه ........................................ ۸۵

د واده پریکون ........................................۸۶
د جینکو ناری ........................................۸۷
د واده ورځ ........................................۸۷
په قرآن شریف کې کتل ........................................۸۹
د واده اوله شپه ........................................۹۰
د نکاح تړل ........................................۹۰
د ماشومانو سُنتول ........................................۹۱
د جرگې دود ........................................۹۲
ننواتې ........................................۹۳
سیمه ییزې لوبې ........................................۹۳
۱. چیندرو ........................................۹۴
۲. پټپټوانې ........................................۹۴
۳. هنگۍ ........................................۹۵
۴. پسته ډبلۍ ........................................۹۶
۵. توت کانې ........................................۹۶
اصطلاحات یا گړنې........................................۹۷
کېږنې، انگیرنې........................................۹۸
کیسۍ ........................................۱۰۵
د سره رود د خلکو متلونه ........................................۱۰۸
د سره رود دخلکو نذرونه او باورونه ........................................۱۰۹
پایلـه ........................................۱۱۲
مناقشه ........................................۱۱۴
وړاندیزونه ........................................۱۱۶
ماخذونه ........................................۱۱۷

# سریــزه

سره رود د ننګرهار په شمال کې د کابل سیند په غاړه، لغمان ولایت ته نږدې د تورغره په لمنه کې پرته ولسوالي ده چې پنځوس پـه سـلو کـې سـیمې یـې اوس مهال د جلال آباد ښار برخې ګرځېدلې دي.

دا یوه خورا لرغونې ولسوالي ده او په ننګرهار کـې تـر ټولـو حاصـل خېـزه، تعلیمي او صنعتي ولسوالي هم پېژندل شوې.

ما په دې څېړنه کې چې د ننګرهار پوهنتون ژبو او ادبیـاتو پـوهنځي د پښـتو ماسـترۍ پـه دویمـه دوره کـې د تیـزس لیکنـې لپـاره ده، د دې ولسـوالۍ جغرافیـوي او تـاریخي پېژندنـه، د تـاریخي هسـتوپو، تـاریخي زیـارتونو او تاریخي ودانیو پېژندل شامل کړي، لومړی مې پر خپله ولسوالۍ بحث کـړی او هغه مې په سمه توګه پېژندلې، بیا مې د دې ولسوالۍ لرغونتیـا را اخیسـتې او د علماوو له قوله مـې پـرې بحثونـه کـړي، لـه دې وروسـته مـې تـاریخي هستوپې او تاریخي ودانۍ او کلاګانې معرفي کړي او د هرې یـوې تـاریخي ارزښت او لرغونتیا سپړلې ده، په همدې ترتیب هر زیارت ته تللی یم، انځور مې ترې اخیستې او بیا مې یې په اړه د سیمې له سپین ږیـرو معلومـات خپـل کړي او د هغوی سمه پېژندنه مې وړاندې کړې ده.

څېړنه مې په ښه شان پیل کړې او موضوعګانې مې په سـمه توګـه سـپړلي او شنلي دي، له ښو او ګټورو مأخذونو مې ګټه پورته کړې او تـر ډېـره مـې پـر ژوندیو مأخذونو تکیه کړې چې په سیمه کې لاسته راغلي.

ممکنه ده چې یو شمېر سیمې او زیارتونه رانه پـه دې څېړنـه کـې لـه څېړلـو پاتې وي هغه ځکه چې د دې ولسوالۍ ډېرې سیمې د وسله والو طالبـانو تـر کنترول لاندې دي او له همدې امله ټولـو سـیمو تـه حتـی زمـا غونـدې یـوه محصل لاسرسی هم ډاډمن نه وي.

د خپل تيزس د بشپړاوي پرمهال مې چې د هرې موضوع په اړه ستونزه لرله نو له خپل لارښود استاد پوهنوال ببرک مياخېل سره پرې خبرې کړي او مرسته مې ترې غوښتې، له هره اړخه د گټې اخيستنې سلا مې ترې اخيستې او د تيزس ليکنې ميتود او لاره مې ترې پوښتې بيا مې پر همغه څرنگوالي خپل تيزس ليکلی دی.

دا معمول دی چې هره لومړی ليکنه يا لومړی اثر له بلها ستونزو ډک وي بيا هغه آثار چې څېړنيز او له يوې علمي اکاډمۍ، يعنې پوهنتون څخه د فراغت تيزس وي، نو لرې نه ده چې زما دا څېړنه به هم په خپله برخه کې نيمگړتياوې ولري او ما به په اړونده موضوع کې ښه او غوره کار نه وي ترسره کړی، نو له همدې امله مخکې له مخکې درنه بخښنه غواړم.

## د څېړنې ارزښت

په پښتو ادب کې د لرغونو آثارو او لرغوني فرهنگ څېړل او څرگندول چنداني دود نه دی او دې کار ته هم هرڅوک غاړه نه ږدي، لامل يې يو دادی چې د لرغونو ادبياتو او لرغوني فرهنگ راسپړل زغم او کار غواړي،د آثارو کمښت سره جدي مخ کېدل دي او سيمې ته ورتگ پکې حتمي دی چې دا کار تر ډېره زموږ له وسې پوره نه دی.

د همدې لاملونو له مخې زه دې ته اړ شوم چې د سره رود ولسوالۍ پر تاريخي ارزښت څېړنه وکړم، کلتور يې په سمه او تاريخي ډول راوسپړم او له فرهنگي اړخه يې لرغونتيا څرگنده کړم.

سره رود د هيواد يو له لرغونو ولسواليو ده چې لسگونه تاريخي کلاگانې، تاريخي ودانۍ، تاريخي هستوپې، تاريخي زيارتونه او څمڅې لري چې لرغونتيا يې سوونو کلونو ته رسيږي، د همدې ارزښت له مخې مې دا تاريخي سيمه وڅېړله او په پښتو ادب کې مې د دې پښتني سيمې تاريخي

فرهنګ په اړه معلومات لاسته راوړل چې تر یو ځایه به دا راټول شوي معلومات د موضوع تیاره ګوټونه روښانه کړي.
په دې څېړنه کې ډېر نوي او ګټور مسایل چې تر دې وړاندې پرې کار نه و شوی او چا یې په اړه فکر هم نه دی کړی؛ په دې څېړنه کې ځای شوي.
په یاده موضوع کې د سره رود فرهنګي ارزښت په اړه له بېلابېلو زاویو هڅې کړي او نوي او په زړه پورې معلومات مې وړاندې کړي. هره تاریخي سیمه مې په سمه توګه پېژندلې، هرتاریخي زیارت مې سم معرفي کړی او هر شاعر او ادیب مې هم د ته پېژندلی او په همدې ترتیب سره مې څېړنه پر مخ بیولې ده، چې دا هرڅه په خپل ځای کې ارزښت لري.

## د لیکنې موخې

هره لیکنه موخې لري نو ددې لیکنې موخې داسې په ګوته کوو: د سره رود ولسوالۍ کولتوري ارزښت بیانول او څېړل دي.
د سره رود د تاریخي کلاګانو پېژندل او تاریخ راسپړل دي.
د سره رود ولسوالۍ اړونده زیارتونو پېژندل او د خلکو د عقایدو بیانول دي.
د دې ولسوالۍ لرغونتیا بیانول او د یوې تاریخي ولسوالۍ په توګه یې پېژندل.
د دې ولسوالۍ د تاریخي لرغونتیا راز پیدا کول او پر لاملونو یې رڼا اچول.
په دې ولسوالۍ کې د تاریخي هستوپو پېژندل او تاریخي او کولتوري څېړنه یې.

## د څېړنې تګلاره

هره څېړنه خپله میتودلوژي لري، د هماغې میتودلوژۍ له مخې پیل کېږي او د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره اړونده او مناسب مېتود ورته ټاکل کېږي.
د تګلارې ټاکل د څېړنې د لارښود استاد په سلامشورو وي، هغه سره په همغږۍ باید د خپل علمي کار د ترسراوي لپاره تګلاره وټاکل شي، ما د خپلې دې څېړنیزې موضوع د پیل او بشپړاوي لپاره د اړوندو ارزښتمنو موادو تر پیدا کولو وروسته د خپل لارښود استاد د لارښوونو پربنسټ کار کړی.لارښود استاد سره مې ځکه پرې سلامشوره وکړه چې د اړوندو موادو ارزښت او په څېړنه کې یې د ځای پرځای کولو مناسب تسلسل راته وښيي.
موضوع مې د طرحې سره سمه داسې پیل کړې چې په ښه تسلسل سره مې یوه موضوع له بلې سره پکې ځای پرځای کړې ده، لومړی مې پریوې موضوع خپله تبصره وړاندې کړې او بیا مې د هغې بېلګې رااخیستي دي او بیا مې تر ډېره پورې هره بېلګه څېړلې او بحث مې پرې کړی دی.
ددې لیکنې په بهیر کې مې له کتابتوني او ساحوي مېتودونو څخه ګټه پورته کړې، بېلابېلو کتابتونونو ته تللی یم او د اړتیا وړ کتابونه مې ددې څېړنې د لا غني کولو لپاره لیدلي، مطالعه کړي او ترې د اړتیا وړ ګټه مې پورته کړې ده.
ددې ترڅنګ ددې لیکنې په ترسراوي کې له ماسره ادیبانو، استادانو، شاعرانو او لیکوالو هم مرسته کړې ده.
بېلابېل کتابتونونه مې لټولي او له کتابونو مې ګټه اخیستې ده. له ځینو شاعرانو او ادیبانوسره مې د موضوع د لاښې څېړنې په موخه ژوندۍ مرکې او بحثونه وکړل، ددوی نظرونه مې رااخیستل.
خپله تر سلو ډېرو کلیو او باندو ته لاړم آن تر دې چې د وسله والو طالبانو تر اغېز لاندې سیمو ته هم د قومي مشـرانو په مرسته ورغلم او هلته مې د تاریخي ځایونو او زیارتونو په اړه له نږدې معلومات لاسته راوړل.

## د موضوع شالید

په پښتو ادب کې که څه هم د لرغونو ادبیاتو او لرغوني کولتور په اړه څه ناڅه معلومات شته، خو د یوې ځانګړې تاریخي سیمې په اړه معلومات نه شته دي، نه یې په اړه کوم ځانګړی اثر لیکل شوی او نه هم کومه داسې یوه مقاله چې په هراړخیزه توګه دا تاریخي سیمه راوپېژني.

د ننګرهار ولایت سره رود ولسوالي یوه له هغو ولسوالیو ده چې له تاریخي پلوه ډېره لرغونې ده او لرغونی فرهنګ یې په خپله لمن کې رانغاړلی دی، خو په دې تړاو موږ په خپلو تاریخونو کې کوم ځانګړی باب نه لرو.

تر اوسه په پښتو یا نورو ژبو کې د دې تاریخي ولسوالۍ د تاریخي لرغونتوب په اړه بحث نه دی شوی نو بویه چې زما دا څېړنه په خپله برخه کې لومړنۍ څېړنه وګڼل شي چې په دې اړه ترسره کېږي او د یادې ولسوالۍ په اړه به خورا هراړخیز معلومات درته وړاندې کړي.

تر دې څېړنې وړاندې نه په رسمي توګه او نه هم غیر رسمي داسې څېړنیز کار نه دی شوی چې د دې ولسوالۍ ټول فرهنګي ارزښتونه په خپله لمن کې راونغاړي او د یو ښه تاریخي او معلوماتي مأخذ په توګه وړاندې شوي، نو هیله ده چې زما دا څېړنه به په دې تړاو ټول معلومات ولري.

# د سره رود ولسوالۍ کلتوري څېړنه

## د سره رود ولسوالۍ لنډه پېژندنه:

ننگرهار ولایت د هېواد د ختیځو ولایتونو څخه دی چې د اداري تشکیل له مخې لومړی درجه ولایت شمېرل کېږي او مرکز یې جلال اباد ښار دی. له کابل څخه د (۱۵۷) کیلومترۍ واټن کې پروت دی او مساحت یې (۷٦۱٦) کیلو متره مربع دی.

د ننگرهار ولایت شمال ختیځ ته د کنړ ولایت نورگل ولسوالۍ، شمال لویدیځ لور ته یې د لغمان ولایت قرغیو ولسوالۍ، لویدیځ لور ته یې کابل ولایت او جنوب لویدیځ ته یې لوگر او پکتیا ولایتونه، جنوب او جنوب ختیځ ته یې د پښتونستان او بلوچستان سیمې موقعیت لري. ننگرهار ولایت (۲۲) اداري واحدونه یا ولسوالۍ لري، چې سره رود ولسوالي یې د ستراتیژیکو او مهمو ولسوالیو څخه ده.(۲۱: ٦)

## د سره رود ولسوالۍ موقعیت:

د سره رود ولسوالي یوه پراخه او سمسوره ولسوالۍ ده چې دجلال اباد ښار غرب ته موقعیت لري. دا ولسوالي دختیځ طول البلدد (۷۰) درجو (۲۲) دقیقو او (۹۰) ثانیو اوشمالي عرض البلد د (۲٤) درجو (۲۸) دقیقو ترمنځ موقعیت لري. خاوره یې خورا حاصلخیزه ده.(۲: ٤۹)

## د سره رود ولسوالۍ څلورخواوې:

څلور خواوې يې په دې ډول دي: ختيځ ته يې د جلال اباد ښار، غرب ته د خوګيانو ولسوالي، شمال ته يې تورغر او جنوب ته يې د شيخ مصري پراخه دښته او د چپرهار ولسوالۍ پرته ده. اوسېدونکي يې اکثره باسواده دي په پښتو او لږ شمېر خلک يې د دري ژبې يوه سيمه ييزه لهجه کاروي.(۲۰: ۴۹)

## د سره رود ولسوالۍ کرنيز پيداوار:

په سره رود ولسوالۍ کې ډول ډول حاصلات کېږي، چې تر ډېره يې کرنيز محصولات مرکز کابل ته هم لېږل کېږي. سره رود ولسوالۍ د ننګرهار کرنيزه پلازمينه هم يادېږي او لامل يې دادی چې په دې ولسوالۍ کې کرنې ډېر پرمختګ کړی او د ننګرهار کرنيز پيداوار يو هم له همدې ولسوالۍ څخه دي. په سرود رود ولسوالۍ کې د کرنې او مالدارۍ سلګونه پروژې موجودې دي چې په بېلابېلو کرنيزو برخو کې زرګونه خلک په کې بوخت دي.
د سره رود ولسوالۍ کرنيز پيداوار عبارت دي له: غنم،جوار، شولې اوډول ډول ترکارۍ باب پکې کرل کيږي. همداراز مشهورې مېوې يې انار، انګور، نارنج، لوکاټ او الوچې او نور دي.(۲۱: ۵۱)

## په سره رود ولسوالۍ کې ښوونه او روزنه:

سره رود ولسوالۍ (۵٦)بابه ښوونځي لري، چې عالي او عصري ليسې يې دميافقيرالله جلال آبادي عالي او عصري لېسه،د بالاباغ عالي او عصري لېسه، دکوز ککړک عالي لېسه، د امرخيلو عالي لېسه او بي بي مريم عالي لېسه دي.

## د سره رود ولسوالۍ د ټولو ښوونځیو لیست:

### په سره رود ولسوالۍ کې ښوونځي

**عالي لیسې**

فقرالله عالی لیسه

ذکور ککړك

دکور بالاباغ

دکور فتح اباد

ذکور برسلطانپور

ذکور شهید ادم خان

ذکور شخ مصري ښارکوټي

ذکور چهارباغ صفا

ذکور امرخیل

ذکور شهید محمد اشرف

نسوان ککړك

نسوان بالاباغ

نسوان فتح اباد

نسوان سیدان عربی

نسوان کوز سلطانپور

نسوان شمسه پور

نسوان امرخیل

نسوان شهید محمد اشرف

نسوان چهار باغ صفا

نسوان بی بی مریم

کټه پور مختلط

پیر سید حسن ګیلاني
شیخ مصري
غوچك
عبدالرحمان پژواك
نازنین جبارخیل
عبدالقادر کوچي
لیسه زراعت
زراعت لیسه
متوسطه
برککړك
بړینه
خیراباد
قلعه سلیم
ناله بیك
شال پاچا سیاسنګ
لعل قاسم اغا
بی بی مریم ذکور
همیشه بهار
شهید شفیق الله صدیق
مومن اباد
دوا به

**ابتدایه**

1. پارك صنعتي
2. کاکوخیل

3.کوز فتح اباد
4.صدیق اباد
5.محمد عمر بختاني
6.قلعه شاهي
7.ادم خیل
8.چهارباغ صفا
9.تورغر
10. قاضي فضل محمود
11. شهید صفیر الله
12. شهید ادم خان مدرسه
13. عبدالخالق صدیقي دارلحفاظ
14. احمد هجرت مدرسه
15. لوخي

د هلکانو زده کوونکو شمېر یې (۳۴۵۱۶) تنه او د نجونو زده کوونکو شمېر یې (۲۱۷۶۲) دی تنه.(۲۱: ۵۲)

# د سره رود ولسوالۍ مشهور کلي

سره رود ولسوالي ډېر لوی او واړه کلي لري، دلته یې مونږ یو شمېر کلي مشخص کړي دي، چې جدول یې په لاندې ډول دی:

| شماره | غټ کلي | واړه کلي چې د لوي کليو څخه رامنځته شوي دي |
| --- | --- | --- |
| ۱ | بیماران | هجرت کلی، سهاکو کلی، غیبي بابا کلی، شیخ نیکه کلی، پیکو کلی، شکنهي کلی، عبدالله کلی، شیخانو کلی، ګلانو بانډه، کوچیانو کلی |
| ۲ | ده ولید سفلی وده ولید علیا | نور خان کلی |
| ۳ | ټټنګ قلعه شاهي | کچړه ټټنګ قلعه شاهي کلی |
| ۴ | بازید خیل | |
| ۵ | قلعه دولت | |
| ۶ | شمشپور | زیارت قلعه، جمال قلعه، ادم خیل کلی، لالا قلعه، شیر کوټیان قلعه، احمد دشتی غازي، مغل خیل قلعه، ده مزنګ قلعه، پټان کلی، قلعه اخند، قاضي قلعه، |
| ۷ | ټټنګ نواب جبارخان | بانډه بی بی سعید، بدو کلی، چهار قلعه، قلعه زنجیر دار، شګۍ خوړ، |

| | | |
|---|---|---|
| ۸ | قلعه جمعه دار | قلعه موی مبارک |
| ۹ | قلعه نو علیا | |
| ۱۰ | میرزا علی آباد | بانډی میرزا علی اباد |
| ۱۱ | میرزایان | |
| ۱۲ | ده بلو | |
| ۱۳ | مستي خیل | قلعه حاجي صاحبان، بانډه اخند، بانډه خان، قلعه لعل آغا، |
| ۱۴ | سعیدان فولادي | قلعه نو، سعیدان |
| ۱۵ | چهارباغ صفاء | قلعه اکبر، ناضرا، قلعه پاینده، قلعه کمین اغا، بانډی نسیمو، قلعه صاحب گل، قلعه میرزا جهانگیر، قلعه علی گل، قلعه ملکان، قلعه حضرتا، قلعه ناله بیدك، قلعه خواجه صاحب |
| ۱۶ | گنده چشمه | قلعه نو آباد، گنده چشمه، نمارات معیوبین، کابل هډه، مسکین آباد |
| ۱۷ | فامیل های سیاف | |
| ۱۸ | کوز شیخ مصري | نمرات مسکوني ستیشن برق، خروټو کلی، نمرات مسکوني پارك صنعتي، فامیل هاي سلیمان خیل، فامیل های دولت زي، نمرات سید اسحاق گیلاني، نمرات سید احمد گیلاني، نمرات شمس اغا، نمرات انجنر شکرالله، نمرات لو خي، کمپ دورخان، سیاه سنگ، نواب باد سیاه |

| | | |
|---|---|---|
| | | سنگ ، شهرک معلمین |
| ۱۹ | شهرک شیخ مصري | |
| ۲۰ | بر شیخ مصري | نمرات مسکوني میاه گان علیا ، نمرات مسکوني ملک نادر |
| ۲۱ | قلعه معروف | |
| ۲۲ | سواتي | قلعه پیر صاحب |
| ۲۳ | شاه ناصر آغا غونډۍ | |
| ۲۴ | احمدزي | قلعه پایکو ، قلعه ملایمپور |
| ۲۵ | وټه پور | قلعه مقیم |
| ۲۶ | کوز سلطانپور | بانډه عظیم خان ، چهار قلعه ، نارنج باغ |
| ۲۷ | بر سلطانپور | ډنډه برکت خان ، مومن آباد ، دوست خیل ، قلعه لانظر ، قلعه دشت ، سلطانپور ، اتفاق کلی ، قلعه عبدالله خان ، شهرک ستانکزی ، |
| ۲۸ | سیدان عربي | قلعه بهاولي ، قلعه روبات ، قلعه دشت ، بهاولي |
| ۲۹ | کشکک | قلعه سرمعلم |
| ۳۰ | بانډۍ میر علم جي | |
| ۳۱ | خیر آباد | قلعه کړه سوال ، بانډه مالداران ، بانډه پایکو ، قلعه شیشک ، قلعه ابرو ، قلعه سنگي ، قلعه رایت |
| ۳۲ | کټه پور | قلعه پاچایان |
| ۳۳ | شهرک حاجي ظاهر | |
| ۳۴ | مار غونډۍ | دشت مارغونډي |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۵ | فتح آباد | قلعه سالم اباد ، قلعه ترينان ، قلعه مياگان ، قلعه على خيل ، قلعه شيخاني ، قلعه سيد توبه ، قلعه ديده دوان ، قلعه ده ، قلعه گذار ، قلعه سليم ، كاريز كړم ، خوسا چينه ، فاميل هاى چمتله ، فتح آباد ، قلعه قورتک ، كاريز كړم |
| ۳٦ | بالا باغ | قلعه درياب ، قلعه مالک ، قلعه مرونډينا ، قلعه مايانا |
| ۳۷ | كوز كاكوخيل | |
| ۳۸ | بر كاكوخيل | |
| ۳۹ | باغ باني | دشت باغ باني ، سرور چوک |
| ٤۰ | ككړک | دوعابه كلى ، مياگان كلى ، گزک كلى ، نبو كلى ، منصور كلى ، عطايي كلي ، بړينه كلى ، بلوچ كلى ، كوچيان كلى ، سرخيلى وچ كوړم كلى ، |

(۲۱: ۵۳)

## سره رود په ولسوالۍ کې تاريخي هستوپې

هستوپې هغو برجونو ته ويل کېږي چې بودايانو د خپلـو ښـارونو پـه سرونـو کې د پيره خانو په شکل جوړې کړي چې د خبراوي کار يې ترې اخيسته ، د همدې هستوپو له سره به بلې سيمې ته د شپېلۍ په وسيله خبر ورکول کېده .

د سره رود ولسوالۍ د درونټې په سيمه کې هستوپې شـته دي ، چـې د هېـواد تاريخ په مختلفو دورو پورې اړه لري . داسې هستوپې پکې هـم شـته چـې د

زردشتیانو د دورې پورې تړاو لري، خو که ددې هستوپو جغرافیوي موقعیت ته نظر واچول شي، په حقیقت کې د امنیتي پوستو په څېر جوړې شوي دي.
په هېواد کې د ۱۳۵۷هـ کال د ثور تـر اوښـتون وروسـته د خلکـو نظـر دغـو هستوپو ته واوښت، هغه مهال داسې روایات موجود و چې ګواکې انګریزانو خپله ټوله شتمني تر همدې خاورو لاندې کړې ده، نو په همدې موخـه یـې غیر مسلکي کیندنې پیل کړې، خو په حقیقت کـې دا د انګریزانـو لـه دورې وړاندې جوړې شوې وې، نو ځکه یې څه ترلاسه نه کړل.
د اسلامي انقلاب له بریالیتوب وروسته هم ځایي ټوپکوالو ددغو هستوپو پـه کیندنو پیل وکړ، فکر یې کاوه چې دلته به سره زر ښخ وي خو دوی هـم پـه دې بریالي نه شول. که څه هم څه ناڅه کار په غیر مسلکي ډول پکې تـرسره شو خو دا د لږ وخت کار نه دی او نه هم پـه ورځـو یـا میاشـتو خلاصـېږي، بلکې دغه ډول کیندنې زیات کار ته اړتیا لري.
د سره رود په ولسوالۍ کې هستوپې د بیمارانو کلا، شاهي کلا، عبدالله کـلا، هجرت کلي، کچړه، سبزاباد، سهاکانو او نورو ځایونو کې شته دي چې شمېر یې لسو ته رسېږي. داسې هستوپې اوس هم په کې شته چې د جهاد پر مهال پر توپونو له لګېدو سره سره اوس هم څه ناڅه جوړې دي، ددې سـیمې یـو شمېر جهادي مشـران چې په دغه سیمه کې یې جهاد کړی وایـي چـې دوی به له دغو هستوپو د مورچلو ګټه اخیسته.
په سره رود ولسوالۍ کې د بودایانو د دورې هم ګڼې هستوپې شـته دی چـې اوس یې ډېره برخه ویجاړه شوې ده او یا یې د زورواکو لخوا ځمکې غصب شوي دي.
بودایانو به له دغو هستوپو څخه د خپل ښار د څارنې لپاره ګټـه اخیسـته، پـه دې هستوپو به یې پېرې درولې او له همدې ځایه به یې د ښار د امنیت ساتنه کوله. دا له آره پوځي تانې یا پوستې وې چې تر خپلې ولکې لاندې سـیمې

او حتی د جلال اباد ښار ټول جغرافيوي موقعيت بـه يـې لـه همـدې ځايـه کنترولوه. هغه مهال په سره رود کې کاروان سرايونه هم دهمدې هستوپو پـه واسـطه کنترولېـدل، او د کابـل سـيند پـه کڅونـو کـې کـاروان ځايونـه يـا د کاروانونو لنډمهالي تـم کېدو ځايونه هم د همدې هستوپو څخه ساتل کېدل.

پوهاند رازقي نړيوال د افغانستان تاريخي او فرهنګي وياړونه نومې اثر کـې د مارانو او بيمارانو د تپې په اړه ليکلي: ((له احتماله لرې نه ده چې دا د مـارانو او بيمارانو د سيمو اصطلاح د چيچونکو مارانو له نامه سره تړاو ونه لري،خـو اصلي خبره داده چې ددې اسطوروي نومونو مفهـوم لکـه د کابـل شـهر را د مارانو د تپې مفهوم نه افاده کوي، هغه چې يـو وخـت لـه چيچونکـو مـارانو ډکه ځاله وه او ددې مارانو د درلودلو په وجه پرې دمارانو د تپې نوم ايښودل شوی دی، خو کومې لرغونې سيمې چـې نګارهـارا د بـودايي لرغونـو د يـو شمېر سندونو له معلوماتو څخه بيخي څرګنده ده چې د مارانو د لرلو او يا نـه لرلو سره په هېڅ ډول تړاو نه لري نو ددې لپاره چې ددې موضوع وضـاحت په ډاګه شوی وي، په کار ده چې ددې اسطوروي مارانو په اړه هغه يادونو ته ور وګرځو چې د نګارهاراد د سيمو او اثارو د معرفي کولو په ترڅ کـې پـرې څېړنيز بحث شوی دی.)) (۲۲: ٤۸۳)

ښاغلی نړيوال ليکي: ((د سرمحقق نظرمحمد عزيـزي چـې د نګـا هـاراد پـه ځينو سيمو کې علمي او عملي څېړنې سرته رسولي دي د درونټې د بـودايي ساحې د معرفي کولو په ترڅ کې د درونټې د مارانو تپې په باب په خپـل يـو مستقل اثر کې په دې شرحه رڼا اچولې ده: ((هيوان تسانګ (شونګ تونګ) چينايي ذاير په ٦۳۰ ميلادي کال کې هغـه مهـال چـې د نګاهـاراد د لرغونـو بودايي سيمو څخه کتنه کوله، نو يې د ناګاګوبالا له مهمـې سـمڅې څخـه د نګاهارا مرکز جلال اباد چـې درې يـا څلـو کيلـومتره کـې پـروت دی بحـث کوي، له دې سمڅې څخه په هغسې محل کې يادونـه کـوي چـې نهرونـه او

چینې ترې هرې خواته خپرې شوي او په همدې سمڅه کې بودا (نګاګوبالا) یا د کوبرا د مارانو د خدای سره لیدنې ته ورځي.))(۲۲: ۴۸۳-۴۸۴)

د همدې اثر په یوه بله برخه کې بیا په دې باب داسې ویل شوي دي:

((د ماهیانو رواق د مرکزي معبد په جنوب لویدیځه خوا کې چې د ۲۷ نمبر هستوپې مخامخ د مرکزي هستوپې په کونج کې موقعیت لري او د یوناګا ګالیګا سره د بودا د ملاقات صحنه بیانوي، ښايي یاده شي چې دا صحنه د ناګاراد (د یوناګاګوبالا) د مغارې د تمثال سره ورته ده چې هنرمندانو د هنر او مجسمې په قالب کې د مارانو په خدای (یوناګاګوبالا) د بر رسی د تاریخي سترې پېښې په توګه مجسم کړې ده. د ناګا له خدای سره د بودا د کتنې د افسانې د ممثل رواق تر اوبو لاندې دی، ددې رواق په کونجونو کې پر دې سربېره چې بودا ستوګانو او بودا سوامیتر تجسم موندلی دی، هغه چې له بودا نه ګرچاپېر لیدل کېږي، د پورتنۍ څرګندونې څخه څرګنده ده چې د درونټې د مارانو تپه په نګارهارا کې د شواهدو له مخې د درونټې هغې سیمې ته نژدې پرته ده چې په لویدیځې خوا کې سره رود د کابل د سیند سره یو ځای کېږي او همدارنګه د بګرامۍ (د جلال اباد یوه سیمه ده) په برخه کې د کابل سیند دواړه غاړې رانیسي. د مارا/ ابي مارانو پاچا (مفهوم ته په یو بل روایت کې داسې اشاره شوې ده: جوان پوستین پوش این تپه (کافرها) این جوان محمتلا از مربوطات (مار اشاره مار ابی) است. نظرمحمد عزیزي د هیوان تسانګ د لیدنو یادښتونو د بیانولو په لړ کې د نګارهارا د سیمو په بحث کې د تپه ماران موقعیت داسې تشریح کړی دی. د نګاه د تسمیې په برخه کې ځینې پوهان په دې عقیده دي چې اساسا (نګر، همغه نګ چې د نګاه، له کلمې راوتلې ده ویهارا یا وهارا همغه لوی معبد دی چې د مارانو د رب النوع لپاره چې ددې نګارهارا موقعیت د سره رود د سیند او د کابل سیند د مخامخ کېدو شمال غربي برخه کې وټاکل شي. نو د مارانو د

تپې دا موقعيت سم دی او لکه چې اوس د کابل سيند له ښي غاړې څخه ښکاري دا يوه کيڼ ډوله تپه ده چې پر سر او ترې لاندې يو د يو شمېر نورو هستوپو کنډوالې ښکاري او د سيند غاړې نه لبر ورانـدې دپاسه او مخ پـه ښکته زيات شمېر مغارې همدا اوس هم شته چې د مچيو د چکونو غونـدې منظره يې تشکيله کړې ده او په قوي احتمال سره دا ددې د بودايي ساحې د راهبانو استوګنځی و. بيا هم د نګاه د خدای په باب په يو بل سند کې داسې راغلي دي: د رواق په غولي (طبعا د ماهيـانو رواق) کـې چـې ددې پېښـې د بودا په شتون دلالت کوي او د صحنې نور ټول خلك چې ورته متوجـه دي او مخامخ ورته اتم نمبر مجسمه چې له ناګاه څخه عبارت ده هغه چې بـودا ته د غاړې ايښودنې حالت ښيي.((۲۲: ٤۸٤-٤۸٥)

رازقي نړيوال زياتوي: ((د کوبرا د مـار سر او اورمېږ لـه شـانه راوتلـې وي، لکـه څنګه چې دا شکل ابي ديو مجسم کوي د افرادو ټول حرکتونه او ددې صـحنې بيلابيلې مجسمې د نګاه د خدای سره د بودا د ملاقات صحنه ده، ددې صـحنې کشفېدل تر اوسه پورې د نګاه د خدای په ايګونو ګرافۍ کې نه دی ليـدل شـوی او د ډېر زيـات اهميـت وړ دی، کومـه موضـوع چـې د يـادونې وړ ده، هغـه د غوربند په فندقيستان کې لـه اومـې ختـې څخـه يـوه کشـف شـوې مجسـمه (د شانګاه په) نوم په ملي موزيم کې شته او له دې نه دا خبره ښه څرګندېږي چـې د نګاه نوم له نګارهارا د مارانو له تپـې نـه پـر غـر پرتـه نـورو سـيمو کـې نـه ليـدل کېږي.(۲۲: ٤۸٥-٤۸٦)

مولانا قيام الدين خادم په خپل (نوې رڼا) نومي اثر کې د هستوپو او سـمڅو په تړاو يوه اوږده ليکنه کړې ده چې موږ يې دلتـه پـه لنـډيز سره راوړو: ((د سيند په غاړه شګلن کمر کې د سيند د اوبو د جريان څخه تقريبـا شـل مـتره جګ سمڅې ايستل شوي دي، کمر د غره حيثيت لري، پـه اصـل کـې خـو شګه ده مګر د زمانې په تېرېدو سره يې د سېمټو صورت غوره کـړی دی، دا

کمر چې سیند په تدریج سره وهلی او کېنولی دی، نېغ لکه د یو ډېر لوړ دېوال غونډې سم ولاړ دی، په ښخ کې یې سیند بهېږي د باندې څخه د تپې او د غره ډول لري، موږ چې ورته راغلو نو یوه دروازه غونډې لیاره مو پیدا کړه او ورننوتو، دا لار د تونل په شکل مخ په وړاندې تللې ده، وړاندې لاړو او دا تونل په یو بل لوی تونل ورګډ شو، دا بل تونل د سیند د غاړې په امتداد شرقا او غربا ایستل شوی و، په دغه تونل کې پورته روان وو، تر ډېره حده پورې لار معلومېده، ځکه چې د سیند د ډډې ورته کړکۍ ایستل شوې وې او په هغو کې کافي رڼا راتله، موږ دغه تونل تعقیب کړ، یو داسې ځای ته ورغلو چې نور وړاندې د رڼا څرک نه لګېده، څه لږ وړاندې لاړو خو ووېرېدو، موږ ویل چې کوم مار، لړم یا حیوان راباندې پېښ نه شي! خلکو ویل دا تور غار هېچا نه دی معلوم کړی چې تر کومه او چېرته تللی دی، ځکه وایي چې لاټین او څراغ هم پکې مري، کوم وخت چې بېرته را وګرځېدو نو د سیند له خوا د کړکیو په تلاش کې شو، دا کړکۍ په لږه لږه فاصله کې جوړې شوې وې، د تونل نه د کړکۍ خوا ته د یوې دروازې غونډې ځای نه تېر شوم، دننه ګورم چې یو نهایت ښکلې هندسي کوټه موجوده وه، دا کوټه په مستطیل شکل سره د سیند خواته تللې وه، په پورته سر کې یې ښې ډډې ته یوه بله دروازه ښکارېده چې په یو دوه مترو کې یې پسخانه وه، په خپله کوټه کې چې ما اندازه کړه، ۷ متره په اوږدوالي او ۴ متره په عرض وه، جګوالی به یې تقریبا درې نیم متره و چې د ګنبذې په صورت تیاره شوې وه، د کوټې او پسخانې دواړو څخه د سیند ډډې ته ۵۰ سانتي په ۷۰ سانتي کې کړکۍ پرېښودل شوې وې، په دغه شان سره چې ما حساب کړې، له یوه سره تر بل سره پورې پینځه کوټې روغې ولاړې وې، نوره یوه برخه یې سیند وړې وه، زما ملګري ویل راځه چې ناوخته دی او اصل کې د سیل ځای لا بل دی، موږ بېرته ښکته د سیند غاړه ونیوله، ښایسته په لږه

فاصله کې د دروازې غوندې غار ښکاره شو، دا غار د سيند له سطحې څخه تقريبا شل متره جگ و، پاس وختو چې ننوتو گورو چې په نيم دايره شکل سره يوه خاليگاه جوړه شوې ده، خاليگاه د سرك په صورت ده، په منځ کې يې لويه ستن پرېښودل شوې ده او د واړه خواوې د سيند له پلوه د رڼا ننوتلو دروازې لري، په دغه نيم دايروي شکل تونل کې چې ما وشمېرلې په مرتب صورت سره لس دوکانچې يا صومعې موجودې وې، د هرې صومعې گنجايش دومره و چې يو سړی پکې ځملاستی او کېناستی شي، ځای ځای د چراغانو د ايښودو تاخچې معلومېدې، سړی پوهېده چې په دې تاخچو کې ډېره موده څراغونه لگېدلي دي خو دا نه شوه معلومه چې دا ځای د څه مطلب لپاره و، زه گومان کوم چې دا عبادتخانه وه او دا وړې صومعې د يو يو نفر د چلې ځای و، مگر عوامو ويل چې دا بازار دی او دا يې دوکانونه دي، د قاسم اباد نه تر درونټې او شمشپوره پورې په گرده فاصله کې د غونډيو په سر برجونه جوړ شوي دي، ښکاري چې اوس وران پراته دي، موږ يو وران برج ته ور وختو او لار مو يې پيدا کړه، تر يوه حده ور ننوتو نوره لار بنده وه، زما ملگری مفتي عزيزالله هم بې ذوقه سړی نه و، هغه ويل گوره دا برجونه ددې لپاره جوړ شوي دي چې له دې ځايه د دښمن لار وڅارل شي، دا سمڅي عسکري استحکامات معلومېږي، د سيند نه په جنوبي غاړه د پټيو په منځ کې لويې لويې غونډۍ د کوم يو زوړ ښار علامې دي، داسې برېښي چې دغه ښار والاوو د شمال له خوا د کوم دښمن قام څخه وېره درلوده او ځای ځای يې استحکامات جوړ کړي دي چې دښمن د سيند له هغې ډډې څخه منع کړي چې په سيند راپورې نه وځي، گويا خپل دفاعي سنگر يې د سيند په بله مخه ډډه جوړ کړی دی، دا خبره بې ځايه هم نه وه، ځکه دغلته د سيند په غاړه د ننگرهار يا ناکي په نامه يو ښار د تاريخ په اسفارو کې هم کتل کېږي. په هر صورت د بحر آباد سمڅې د

وطن دوستو ځوانانو لپاره د کتلو او تحقیق وړ زمینه تهیه کوي، که دغه خاورې وکتل شي، ممکن چې له دغه ځایه مهم تاریخي انکشاف وشي، دا د سیند غاړه ده او د قبل التاریخ انسانانو د سیندونو غاړې او دغسې محفوظ او مامونه ځایونه د ځان لپاره خوښول چې د وحشي- حیواناتو او د ښمنانو څخه پکې په امن وي، دلته هم سمڅې د سیند له خوا کاملا په امن دي او د بیرون له خوا فقط یوه لار ورته پرېښودل شوې ده چې په ښه شان یې دفاع کېدای شي او د جنګ په وخت کې ورته اوبه نژدې او د دوی په قبضه کې دي.))(۹: ۲۲۰-۲۲٤)

د سره رود ولسوالۍ د تاریخي ځایونو په اړه محمدداود وفا په خپل کتاب ((ننګرهار فرهنګي بهیر ته یوه کتنه)) کې لیکي: ((دې سیمې هم د خوګیانو په څېر لرغوني ځایونه لرل چې هماغسې تالان شول. ما په خپله ولیدل چې خپل سري لګیا و چې د بتانو او نورو لرغونو لوښو د راسپړلو لپاره یې کار کاوه. دسره رود ولسوالۍ د بهرینې په کلي کې د لمریز ۱۳۷۳ کال په وروستیو کې کار پیل شوی چې په لومړیو ورځو کې یو بت وموندل شو او پاکستاني سوداګرو وپیرود. دا کار په یوه لوړه غونډۍ کېده تر څو وروسته ډېرې پخوانۍ داسې خونې راووتې چې خورا په زړه پورې وې. دلته د څلوېښت-پنځوس پخو خونو په شاوخوا کې وموندل شوې چې تاریخي ارزښت یې لره. ددغه خونو دیوالونه له ډېرو نریو او ښکلو تیږو څخه جوړ شوي و چې هغه ډول کار حیرانوونکي ښکاري. په دغو کوټو کې تر لږ کار وروسته ډېر مات شوي بتان، د سرو زرو منګي او نورې ګاڼې وموندل شوې چې هماغه مهال سوداګرو په ډېره ټيټه بیه وپیرودل. دا ډول د همدغې سیمې په بلوچ نومي کلي کې (دا چې دا د تور غر په لمنو کې پروت او ډېرې لرغونې سمڅې لري) هم کار وشو. یو سیمه ییز واکمن او دوه سوداګرو د کیندلو په ترڅ کې دغلته څو پخوانۍ خونې وموندلې چې د کار په ترڅ کې ترې تاریخي یو نیم متري بتان راووتل چې څرنګوالی یې ښکاره نه شو خو د نه پاملرنې له امله د دریواړو سرونه مات شول.

همدارنګه د درونټې په کچړې نومي ځای کې هم ګڼ شمېر لرغونې نښې لاسته راغلي خو په اړه یې څه څرګند نه شول.(۲٤: ۱٦)
همداراز اسدالله حصارشاهیوال په خپل کتاب ((لوی ننګرهار)) کې د سره رود د تاریخي ځایونو په اړه لیکي: ((هغو سترو هستوپو په لړ کې چې د هون حانګ له خوا یې یادونه شوې یوه دیپناګر هغه ده چې په اتمه پیړۍ کې د چیني ګرځندویو له خوا د ښکلې په نامه یاده شوې ده او درونټه کې د تور غر په لمن کې پرته ده دا راښیي چې سهیل لویدیځ ته د ناګاګوپالا سمڅ چې بودا د خپلو راتلونکو د سوکالۍ لپاره خپل سیوری پرې اچولی وو همدلته ده فاهیان او سونګوین هم دغه سمڅ کتلې او د سپین غر په لړۍ کې تورې تیرې ته نږدې د چهارباغ کلي په سهیل کې د هغې د شته والي په اړه لیکنې سره یو شان دي خو له بده مرغه د هغو ټولو سمڅو په لړ کې چې دلته د پانګره سمڅې موندل ډېر ګران دي. فرانسوي پوه فوشي پدې اړه داسې لیکي: تر یو لړ سپړنو وروسته چې راتلونکي کې به یې لنډ تاریخ وښیو ددغې سیمې په چاپیر کې ګڼ شمېر بودایي څلي موندل شوي دي چې فرانسوي لرغونپوه هم په خپل کتاب کې له هغو سپړنه کړې ده. (٦: ٤٨)
د ننګرهار ولایت او جلال اباد ښار پېژندنه کتاب کې د سره رود ولسوالۍ د تاریخي ځایونو په اړه هم یادونه شوې او پکې راغلي: ((سره رود ولسوالۍ هم لرغوني تاریخي ځایونه لري، لکه د بېرینې کلی، د درونټې کجورې، بلوڅ کلی، د غوچکو څنګلاخ او د لعل قاسم آغا زیارت چې په خپل سر د لوټمارو عناصرو په وسیله په غیر قانوني توګه سپړل شوی، منځپانګه یې لوټ شوې او په بهرنیانو خرڅه شوې ده. دغه راز ددغې ولسوالۍ د غوچکو پورته په محمدجان غونډۍ، سبزاباد غونډۍ او په بر ککړک کې هم خپل سرې کیندنې شوي، اثار یې لوټ او بهر ته وړل شوي دي. اوس یې یوازې کنډوالي پاتې دي. همدارنګه د سره رود ولسوالۍ اړوند د درونټې په ساحه کې د بحرآباد او

نظرآباد سمڅې د تاریخي یادګارونو په توګه پاتې شوي دي چې د کابل د سیند په شمالي غاړه کې موقعیت لري، له ورایه د سړي نظر جلبوي او د بودایي دور یادونه کوي. دغه سمڅې د تاریخي ځایونو په توګه پاتې شوي دي، ددغو سمڅو په داخل کې د بودایي دور دیني ځایونه تر سترګو کېږي چې تر اوسه پورې خونې او دهلیزونه د لیدنې وړ دي. په سره رود کې څو لوی تاریخي باغونه چې له هغې جملې چهارباغ صفا چې د افغانستان د لرغونو بېلابېلو برخو پورې اړه لري یادونه کولی شو.))(۱۰: ۳٤)



۱. انځور: د بحر آباد سمڅې

## د بېمارانو تپه:

په سره رود ولسوالۍ کې د بیمارانو د تپې په نوم هستوپه شته چې اصلي شکل یې ممکن بېماران وي چې د مارانو د تپې متضاد مفهوم پرې افاده کېږي. دا تپه د درونټې د بودایي ساختمانو لرونکې تپه ده چې موقعیت یې هستوپې او ساختماني څرنګوالی یې په دې ډول ښودل شوی دی، هغه چې ډېره مهمه ده د ګندهارا ډوله هستوپو ټیپک ممثل د بیمارانو په اتم نمبر هستوپه کې چې د د رونټې په جنوب کې د کته پور ساحې ته نژدې د

سمسورې کروندې له پاسه پرته ولیدل شي.
د بیمارانو همدا تپه ده چې پکې د چترې هیرمیګا یا د هستوپې چترې پستې او بهرنۍ روغـې سـطحې موجـودې دي او د هونیـک بیرګـر لـه خـوا پکـې کیندنې شوي دي، ددې هستوپې دننۍ سلنډر له منځه یوه فلـزي جوبـه تـر لاسه شوه چې په هغه کې میناتوري شوې کوچنۍ هستوپه چې په اصل کې د دیګوراتیف او مهندسي هنر له پلوه په سرو زرو ښکلې شوې، د نیوترمیګاش یوناني لوی شخص ۲۷ دانې مسي سکې هم ترلاسه شوي دي، د بیمارانـو د نهم نمبر هستوپې په ساحه کـې ښـکلاییز دوه توسـه چـې د ترلـوک دولـس رواقونه یې درلودل د دیاپري خوشه بیز او په ریـګ او چـونې پلسـتر شـوي وو، د بهرني ساختمان سره او د پینځو زرو قطۍ ته ورته جعبه کشف شوه او لکه چې د نګارهارا د سیکو په بحث کې ورته اشاره شوې ده د کـارنیلان پـه کریستال سربېره یاقوت او دیوترنیګاس شپږ دانې مسي سیکې موجودې وې.



۲. انځور: د بیمارانو هستوپه

د بيمار او ننداره له هستوپو څخه د کوشانيانو او ساکانو د دورو پورې تړلي اثار ترلاسه شوي دي، د مثال په ډول: د سرو زرو متحرکه جعبه چې نږدې يوولس سانتي متره لوړه ده او نږدې اووه سانتي متره قطر يې درلود او په لويه کې يې د بدخشان سور لال او څلورپانيز ګلان نقش شوي وو چې د انګليسي چارلمس مسون له خوا کشف او د لندن موزيم ته يوړل شول، ددې جعبې په بهرنۍ سطحه د بودا برجسته هيکل يا منزل کې ښې يا کينې غاړې ته يې د هندو يوناني د (ګريګو بوديک) رب النوع وليدل شو، پوهانو دا انځور د باختر او پالي په نوم ياد کړي دي، د هغه تصوير له مخې چې د بيمارانو د تپې د هستوپې د رواخونو د يوې څنډې په پورتنۍ اثر کې شته دی، څرګندېږي چې ددې تپې د يوې هستوپې د رواقونو د تراپيندو سودين د ساختمان د ګنبذې د شکلي هستوپې د محدبې پاسنۍ برخې لاندې کمان لرونکې رواقونه دي، د هستوپو د پايو سره د يوې ورسره نښتې ستوپې ګرچاپېره جوړې شوې دي، او ډېره ښکلې نما يې تشکيله کړې ده، همداراز د بيمارانو څلورم نمبر هستوپه چې د اراضي په څه لوړه برخه شوې ګنبدي چت لري او ترې راښکته يې بيضوي شکله د يو بل سره نښتي رواقونه ليدل کېږي چې ښايسته بڼه لري، مګر د بيمارانو يوه بله هستوپه چې د خاورينې ډبرې په شکل ده، دومره لوړه نه ښکاري.

که د پايلې په توګه د مارانو تپه او سمڅه او د بيمارانو هستوپې سره مقايسه شي ويل کېدای شي چې د مارانو تپه په شپږو سمڅو کې د يوې هغسې هنري صحنې تمثيل په درلودلو سره چې بودا ته د مارانو د خدای يا د يوناګاګو بالا د تسليمېدو صحنه مجسم شوې او د ماهيانو په رواق کې د يوې مجسمې بڼه يې نېولې ده، حال دا چې د بيمارانو ساحه له يوې څخه د زياتو استوپو درلودونکې ده او د هغو رواقونو په جعبو کې د سرو زرو د سکو په شمول سکې او ګران بيه اثار کشف شوي وو. (۲۲: ٤٨٦-٤٨٨)

پر دغو تاریخي څېړنو او انګېرنو سربېره په دې وروستي لسیزه کې ځینو رسنیو او رسنوالو هم ددې تاریخي سیمو په اړه څېړنیز راپورونه او پروګرامونه جوړ کړل او ددې هستوپو ځینې پټې او وړې برخې یې را برسېره کړې. په رسنوالو کې یو هم د کابل پوهنتون استاد پوهنوال لعل پاچا ازمون دی چې له دغو هستوپو نه یې له نږدې لیدنه کړې او په دې اړه یې نوي معلومات تر لاسه کړي دي، هغه له ازادۍ راډیو سره په یوه مرکه کې ویلي:((دا هستوپې ۲۵۰۰ کاله پخوا د زردشت او بودایانو د وخت هستوپې دي چې د اسلام تمدن نه وړاندې جوړې شوي چې اوس نیم ړنګ شوي دي، د سیمې خلك وایي چې په دې هستوپو کې دننه بوتان او سره زر و، خلکو دا هستوپې د شپې لخوا کیندلې او ځینې خو یې ان خپلو کورونو ته دننه کړي او ګرد دیوالونه یې ترې تاو کړي او دننه په کلا کې یې پکې کار کولو او شته تاریخي شیان یې ترې ویستل)).



۳. انځور: دبېمارانو هستوپه

د استاد لعل پاچا ازمون په وینا دهغه مهال پاچاهي دلته وه، دلته ښار و، دلته روغتون و، د اوسېدو کورونه او عبادت ځایونه موجود وو. دوخت حاکمې

طبقې پر همدې ودانيو او هستوپو خاورې واړولې، تر څو ښار يـې لـه منځـه لاړ نشي خو د وخت په تېرېدو سره ځينو خلکو غير مسلکي کېنـدنې وکـړې او دغه ښار يې په کنډواله بدل کړ.

د بيمارانو کلي اوسيدونکی (۱۰۰) کلن عسکر خان وايـي، چـې دا هسـتوپې په څو کليو کې شته دي، نوموړی زياتوي: ((زه چې پيدا شوی يم، دغه چې تاسې يې هستوپې بولئ، دلته موجودې دي، ما ترې کلا چاپيره کـړې، دننـه په حويلۍ کې مې دي خو ما پکې څه نـه دي مونـدلي؛ دلتـه ځينـې خلـك وايي چې انګريزانو ددې غونډيو لاندې خپل قيمتي شيان ښخ کړي دي،خو تر اوسه موږ پکې څه نه دي پيدا کړي، موږ يې نه ورانوو، خو کله کله چـې مو خاوره پکار شي، ترې يې اخلو)).

په هېواد کې د تېرو جنګونو او انقـلاب راوروسـته د حامـدکرزي د واکمنـۍ پرمهال پرې خلکو بيا له سره کار پيل کړ او په غير مسلکي ډول يـې کېنـدنې وکـړې، د سره رود ولسـوالۍ هجـرت کـلي اوسـېدونکی ليکـوال او شـاعر عبدالواسع انتظار ددغو هستوپو د کيندنو پـه اړه وايـي: ((پـه دې سـيمه کـې لوی انقلاب تېر شوی دی، د جهاد پر مهال ترې مجاهـدينو د مورچلـو کـار اخيسته، اصلي خبره خو دا ده چـې خلـك ددې هسـتوپو د ارزښـت پـه اړه پوهاوی نه لري. موږ چې کله هم دلته کار کاوه نو دې ځای د يو ښار شـکل درلود، کله به مو چې کيندنې کولې،نو ددې هستوپو په شاوخوا کې ډېر لوی او قوي ديوالونه موجود و، خو چې کله به مو راوسپړل د بوټ سر يا بـه پښـه پکې راووته، ځکه غير مسلکي کار پکې شوی او هستوپې يې خرابـې کـړې وې، دغه هستوپې اوس هم شته خو نيم ورانې دي.))

د سيمې دخلکو باور دادی چې دلته د بودايانو پر مهال دهغه وخـت د خلکـو ښار ودان و چې دهستوپو څخـه يـې د خبرولـو ديـوې وسـيلې پـه توګـه کـار اخيسته. او دا هستوپې د سره رود ولسوالۍ په بېلابېلو سيمو کې موقعيت لري.

**شهید سخي سرور غونډۍ:**

د شهید سخي سرور غونډۍ چې اوس د کوز سلطانپور (سلطانپور سفلی) د چینو د غونډۍ په نامه هم یادېږي، د سره رود ولسوالۍ بازار ته نږدې چینو (لال چشمه ها) ته مخامخ موقعیت لري، ددې سیمې د مشرانو په وینا دا غونډۍ د امیر حبیب الله د واکمنۍ پر مهال جوړه شوې او له دې وړاندې یې شتون نه درلود. د کوز سلطانپور کلي یو مشر اول ګل خاکسار وایي چې د امیر حبیب الله خان په وخت کې دغه غونډۍ د خلکو د ګډ کار په پایله کې جوړه شوې چې خلکو په ډېر عادي مزد دلته کار کاوه، د غونډۍ یوه لوري ته د سخي سرور په نامه یو شهید له پخوا راهیسې دفن شوی، دغونډۍ د جوړولو په وخت کې دا مقبره یو څه ترتیب شوه چې تر اوسه یې هم اثار پاتې دي. د غونډۍ او چینو ترمنځ یوه ویاله شتون لري چې اوس هم یکې د چینو اوبه بهېږي. ددې ویالې ترڅنګ یوه بله مقبره وه چې خلکو د شهید بابا په نامه یادوله، دا چې له دې سیمو څخه خاورې د غونډۍ جوړولو لپاره پورته کېدلې نو دلته د شته قبرونو د ورانېدو ترڅنګ ددې مقبرې د ورانولو هڅه هم وشوه خو وتوانېدل، حتی تر دې چې خپله امیر شهید ماشین ته کېناست او دمقبرې ورانولو هڅه یې وکړه، مګر هغه هم بریالی نشو او ماشین یې بند شو. له دې وروسته یې پریکړه وکړه چې دلته باید زیارت جوړ شي چې دا زیارت اوس هم شته.

د سلطانپور کلي مشر اول ګل خاکسار پورته خبرې ددې سیمې یو بل مشر، ملك او د سره رود ولسوالۍ د ملکانو شورا منشي معلم معشوق هم تائیدوي. ښاغلی معلم معشوق د غونډۍ د جوړولو موخه ددې سیمې لپاره د یو تفریحي ځای جوړول ګڼي، نوموړی وایي چې د غونډۍ پر سر یوه اواره چوتره ده چې هلته به خلك لمر ته کېناستل. هغه مهال د غونډۍ شاوخوا کورونه نه وو، کوم خلك به چې د لیرې ځایونو څخه دلته دمېلو

لپاره راغلل ،نو ددې سیمې د سیل لپاره د غونډۍ سرته پورته کېدل او له هغه ځایه به یې ددې سیمې ننداره کوله ،خو په عادي وختونو کې به ددې سیمې خلك او د ولسوالۍ مامورین لمر ته په ساعتونو ساعتونو پـه دې ځـای کـې کېناستل.

د کوز سلطانپور یو بل تن مشـر اوسیدونکی امام جان بابا چې ځان اتیا کلـن راپېژني ،وایي: ((زموږ مشـر خواجه زمان چې پخوا وفـات شـوی، تـرې مـې اورېدلي چې دا غونډۍ د امیر شهید په وخت کـې جـوړه شـوې، هغـه ماتـه ټوله کیسه کړې چې ددې غونډۍ په جوړولو کې موږ د ورځې په یوه ټانګـه مزد کار کاوه. دا خاورې مو په خپلو اوږو پورتـه کـړې، دلتـه ټـولې هـدیرې وې، دا ځایونه هوار وو او د امیرشهید لخـوا دلتـه غونـډۍ جـوړه شـوه....). نوموړی وایي چې د خواجه زمان بابا څخه مې اورېدلي چې لـه پخـوا نـه د سخي سرور زیارت دلته موجود و.))

## د سخي سرور غونډۍ او دچینو (لال چشمه ها) ترمنځ د ویـالې غاړې ته چینه

د غونډۍ او د چینو (لال چشمه ها) ترمنځ چـې کومـه ویالـه بهیـږي، د دې ویالې غاړې ته یوه چینه ده او همدې چینې ته مخامخ د ګڼو چینو مخـې تـه یو حوض جوړ شوی، د حوض یوې څنډې ته د یـوه شـهید مقـبره ده چـې اکثره مشـران د دې مقبرې لپاره یوازې د شهید بابا نوم یـادوي، د دې شـهید په هکله پنځوس کلن ګرچرنـد سـینګ چـې د انقـلاب د مخـه د دې ځـای اوسیدونکی و او اوس یې کورنۍ په هندوستان کې ده او په جلال آبـاد ښـار کې دوکانداري کوي، د ځایي مشـرانو نظر تائیدوي او د شهید بابا لپاره کوم ځانګړی نوم نه یادوي، دی وایي: ((زمونږ مشـرانو همدومره ویل چې دلته د

مسلمانانو يو لوړ شخصيت دفن شوی او د نوم په هکله يې هيڅ راته نه دي ويل شوي، دا مقبره د شهيد بابا په نامه له پخوا نه مشهوره ده او موږ يې په همدې نامه پېژنو.))

د شهيد بابا او سخي سرور بابا د غونډۍ ترمنځ چې کومه وياله بهيږي د دې ويالې د پاسه له پخوانه يو پول جوړ شوی چې د دې پله له لارې غونډۍ ته خلک پورې وتل، دلته اوس هم يو پل شته،خو د رغېدا په اړه يې څوک نه پوهېږي. ځينې خلک وايي چې په مختلفو وختونو کې د پل د تخريب نه وروسته بيا ځل ترميم شوی. هغه ماشومان چې خوارځواکي وي او يا هم د عامو خلکو په اصطلاح په هغو ماشومانو چې سيوری ناست وي، دلته د دعا لپاره راوستل کيږي او د دې پله لاندې درې ځلې ګرځول کېږي. د چکرونو وروسته بيا د پله په څنګ کې د ويالې د غاړې په چينه کې غسل ورکوي، د تن جامې يې هم دلته پرېږدي، د خلکو په عقيده دا هغه جامې وي چې په دې جامو کې په ماشوم سيوری ناست وي او دا جامې بيا له ناروغۍ څخه نه پاکېږي، نو له همدې امله بيا ماشومانو ته نه اغوستل کيږي. کله چې دا جامې له ماشوم څخه وويستل شي او نورې جامې ور واغوستل شي،نو بيا زيارت ته دعا کوي او د ناروغ د صحت لپاره د الله تعالی له دربـاره غوښتنه کوي، خلک په دې عقيده دي چې د دې چارې په ترسره کولو سره ناروغ ښه کيږي. او ځينې خلک بيا وروسته له هغه ماشوم ته د پله لاندې چکر ورکوي چې له دې نه مخکې يې ناروغ ماشوم ته د شهيد بابا زيارت څخه لس دورې ورکړې وي. د سيمې مشران وايي چې دا ترتيب زمونږ له ماشومتوبه روان دی، په دې هکله مو د ګرچرند سينګ څخه وپوښتل هغه هم وايې چې زما د ماشومتوبه دا سلسله روانه ده. د انقلاب دمخه مسلمانانو، هيندوانو او سيکانو ټولو به دا ډول ناروغان دلته د دعا لپاره راوړل او بيا به د الله تعالی په امر ښه کيدل.

که څه هم تر اوسه خلك دې چینې ته دا ډول ناروغان د علاج لپاره راولي خو اهل هنود او سیکان له انقلاب نه وروسته ډېرکم د خپلو ناروغانو د دعا لپاره لېدل شوي او ډېر خلك وايي چې اوس بلکل نه راځي.

## کوز سلطانپور (سلطانپور سفلی)

د کوز سلطان پور قریې د ګڼ شمېر مشرانو په وینا دا کلی د سلطان محمود غزنوي په وخت کې جوړ شوی، د کلي یوتن اوسیدونکی معلم صاحب محمد حسن د خپلو مشرانو له قوله وايي: د سلطان محمود غزنوي په وخت کې د سلطانپور په نامه دوه کلي دلته جوړ شوي چې یو کوز سلطانپور (سلطانپور سفلی) په خپله سلطان محمود غزنوي او بر سلطانپور (سلطانپور علیا) د سلطان محمود غزنوي د ورور له خوا جوړ شوی دی. موږ دلته د کوز یا سلطانپور سفلی یادونه کوو. زیات خلك په دې باور دي چې دغه کلی په دې موخه جوړ شوی چې خلك ټولنیز ژوند ولري او له یو بل سره مرسته وکړي، هغه وخت خلك یو له بله ډېر لرې اوسیدل د ځناورو خطر هم لېدل کېده، په یواځېتوب کې د یو کور لپاره ژوند سخت و نو له دې امله دا کلی د ګډ ژوندانه لپاره د غونډۍ په شکل کې جوړ شو، په دې کلي کې سلطان محمود غزنوي د ځان لپاره نه کوم کور او نه هم کوم دمه ځای درلود، یواځې د خلکو د ګډ ژوند لپاره یې خواره واره خلك راټول کړل او دا کلی یې ورته جوړ کړ. دا هغه وخت و چې د سره رود ولسوالۍ د مرکز لپاره هم کوم ځانګړی ځای نه و ټاکل شوی، د هغه وخت دولتي اداره (ولسوالي یا علاقه داري) په باولیو کې وه، د سره رود ولسوالۍ په موجوده بازار کې نه بازار و او نه هم خلك اوسیدل. د خلکو په وسیله د خاورو غونډۍ جوړه شوه، د ګډ او ټولنیز ژوند لپاره په لومړي ځل زمینه برابره شوه، تر دې د مخه خلکو په دومره تعداد کې شریك ژوند نه درلود. او له ده

وروسته بیا سلطانپور علیا، چهارباغ صفا او بالاباغ کلي جوړ شول.
د کوز سلطانپور کلی چې د یوې لوړې غونډۍ د پاسه جوړ دی درې دروازې لري، په هره دروازه کې یو جومات جوړ شوی چې اوس هم پاتې دي. د کلی دروازې په شرقي، شمالي او جنوبي نومونو یادیږي چې د شرقي دروازې لور ته د کلي دننه یو درمسال هم جوړ شوی و چې اوس یې یوازې د دېوالو نښې پاتې دي او نور په مکمل ډول تخریب شوی دی. د کلي منځ کې یو بازار و چې د مشرانو د وینا له مخې همدا د سیمې لوی بازار و، هغه وخت د ولسوالۍ بازار نه و، د ډېرو لرې ځایونو څخه به دلته خلک د سودا لپاره راتلل. د غلو دانو منډوي هم دلته وه، په اوښانو به غله پورته کېده او لرې پرتو سېمو ته هم د خوراکي توکو او نورو ضروریاتو څخه اوښان باریدل او نورو سېمو ته به انتقالېدل، په دې بازار کې دهغه وخت سره رنګ ریزي، بجازي، جاله پزي، زرګري، خبازي، نجاري، کلالي او نور موجود وو. د کلي غربي کوڅه د کوچه میرا په نامه یادیده چې په دې کوڅه کې سیدان او معتبر خلک اوسیدل. دوی به خلکو ته دم او دعا کوله، په کلي کې د ځایي مشرانو په وینا د دوی د ذهني یاد له مخې شاوخوا (۲۰۰) دوه سوه کورنۍ دلته استوګنې وې، چې(۱۵۰) کورنۍ مسلمانان او (۵۰) کورنۍ سیکان اوسیدل. د ګرچرند سینګ په وینا چې د ماشومتوب وختونه یې په همدې کلي کې تېرشوي او همدلته پیدا شوی، دی وایي چې: ((د انقلاب د مخه موږ پنځوس کورنۍ هلته اوسېدو، د مسلمانانو سره مو شریک ژوند درلود، مړی او ژوندی مو شریک او د یو بل سره خواخوږي و او ماته ښه یادیږي چې زما د پلار د جنازې پسې (۵۰) تنه مسلمانان روان ول او همدې کلي ښکته چینو سره نږدې هندو سوزان ته مو یوړه.))
د کلي د جوړیدو په اړه د ګرچرند سینګ سره کره معلومات نشته، اما دی همدومره وایي چې د دوی مشران له پخوا څخه په همدې کلي کې

اوسېدل، دی زیاتوي چې بابا نانک له اوسني پاکستان نه دلته راغلی،یوه اونۍ دلته پاتې شوی او بیا له همدې لارې شوروي ته تللی. د دوی په عقیده کله چې بابا نانک دلته دېره شو، د څښاک اوبه نه وې خپله امسا یې راواخیسته او ځمکه یې ووهله، له هغه وروسته دا چینې وبهېدې او تر نن ورځې بهیږي چې د انقلاب دمخه د ویساک اووه ورځنۍ میله هم همدلته کېده چې د نړۍ د ګوټ ګوټ څخه سیکان او هندوان دې میلې ته راتلل او دلته به یې تر مذهبي مراسمو وروسته کوژدنې وشوې او بیا همدلته ډلیز ودونه کېدل او پوره اووه ورځې به لنګر روان و.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وېښته مبارک په هکله هم د دې سیمې ګڼ مشران پدې نظر دي چې دا ویښته د لومړي ځل لپاره د همدې کلي د یوې کونډې ښځې په کور کې چې خلکو ته به یې ډوډۍ پخولې پیدا شول، دا کونډه د سالم خباز انۍ وه،وایي چې یوه ورځ کونډه کور ته ننوځي ګوري چې له یوه بوتله رڼایي خوریږي له ده وروسته یې د کلي مشران اومخور خبر کړل،همدا و چې خلک په دې پوی شول چې دا ویښته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی او له دې وروسته دا ویښته په خاص احترام ساتل کېده، بیا وروسته د وخت دقاضي له لوري چې د چهارباغ کلي اوسیدونکی و دا ویښته مبارک یې خپل کلي چهارباغ ته انتقال کړ او بیا هم د وخت په تېریدو سره د داؤد خان د صدراعظمۍ پرمهال اوسني موقعیت ته د سړک غاړې موی مبارک جامع جومات ته انتقال شو.

د موی مبارک تاریخي بهیر داسې دی چې درسول الله (ص) د مبارکې ږیرې یو تار ویښته له عراق څخه هند ته، له هندوستان نه بیا پاکستان ته او له هغه ځایه کابل ښار ته وړل شوی. څه مهال په شاه دوشمشېره زیارت کې ځای پر ځای و او وروسته له هغې د ننګرهار سره رود ولسوالۍ ته راوړل شو. دلته د نغرکو په کلي کې د موی مبارک په نامه جومات او زیارت ورته

جوړ شو. دا ويښته د داخلي جنگونو پرمهال په قاچاقي ډول پاکستان ته يوړل شو او له هغې وروسته يې درک نه دی څرگند. د زيارت متوليان هم د ويښته د ځاى ځايگي په اړه له معلوماتو ورکولو ډډه کوي.

د دې کلي يو تن اوسيدونکی معلم محمد حسن چې ځان د خواجه خان کړوسی راپېژني، د خپل نيکه له قوله وايي چې غورنيکه يې خواجه خان د اميرحبيب الله خان فيل وان و خواجه خان په همدې کلي کې د اميرحبيب الله خان دوه شوخ فيلان چې خاص نومونه يې درلودل ساتل، د سيمې خلك وايې چې دا فيلان ډېر مست او شوخ وو، بغير له خواجه خان نه بل چا يې ساتنه نه شوه کولی، کله به چې اميرحبيب الله خان د راه کلان له لارې په پل پخته باندې د سلطانپور چينو ته راته نو د فيل دپاسه به ناست و او د فيل رسی به د خواجه خان په لاس کې وه او د فيل وان نه به څو قدمه د مخه يوتن چې معلم صاحب محمد حسن ورته د جارچي کلمه کاروله روان و، له ده سره به توره و او په تگ تگ کې به يې په لوړ غږ دا الفاظ تکرارول:

ای شاه غره مه باش

شاه شاهان ديگر است

او بيا به امير حبيب الله خان په لوړ غږ د (لبيک حق الله) چغه کوله، راه کلان چې د موی مبارك د اوسني پله له لارې د چهارباغ شاته تيرېږي او پورته د پيرصاحب ژرندې جنوب خواته او حضرت کلا غرب لور ته همداسې په احمدزيو د سلطانپور سفلی د شرقي دراوازې مخې ته تېريده او د امير حبيب الله خان په وخت کې د چينار نومې چينې نه د ښځلو اوبه سراج العمارت ته وړل کيدې او امير حبيب الله خان به همېشه د همدې چينې اوبه ښځلې.

## ظلم آباد کلا

د کابل – جلال اباد لویې لارې نه لاندې د درونټې په یو کیلو متری سیمه کې د شنو ونو او پټیو په منځ کې یوه پخوانۍ کلا ودانه ده چې دې کلا ته د ظلم آباد کلا وایي.

د ظلم اباد کلا د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کې موقعیت لري چې زرګونه کاله لرغونتوب لري او د سیمې د خلکو په وینا ددې سیمې اوسېدونکي ساکان دي او ددې کلا جوړوونکي د ساکانو حاکمان وو.

که څه هم ددې کلا ډېره برخه نړېدلې،خو له پاتې برخو نه یې ښکاري چې سلګونه کاله لرغونتوب لري. ددې کلا د دیوال پلنوالی دوه مترو او جګوالی یې تر پنځو مترو رسېږي چې په څلورو کنجونو کې لوی برجونه هم لري، خو اوس وران دي. پخوا پدغه کلا کې یوازې جبارخېل مشران اوسېدل،خو اوس پکې ډېر خلك مېشت دي.

ددې تاریخي کلا په تړاو د خلکو ترمنځ بېلابېل روایات موجود دي او همداسې له نسلونو یو بل ته راپاتې دي،خو کره نېټه معلومه نه ده.



۴. انځور: د ظلم آباد کلا

دا کلا چې په کومه سېمه کې موقعیت لري، ټوله سیمه اوس د ظلم اباد په نامه یادېږي. ددې سیمې اوسېدونکي محمدطاهر چې (۵۵) کاله عمر لري، وایي چې نیکونو یې ورته ویلي و چې دا کلا څلور سوه کاله وړاندې جوړه شوې وه، خو دا هم کره نېټه نه ده.
دی وایي: ((نیکه مې راته کیسه کوله چې په دې کلا باندې د وخت حاکمانو د خټو کار کاوه، یوه اونۍ به یې په خټو غوایان ګرځول او بیا به یې دیوال ته پورته کولې. په لاره به چې هر څوک تېرېدل، دوی به وربانـدې کـار کـاوه. یوه ورځ د لغمان ولایت نه یو هنـدو پـر همـدې لاره سـلطانپور تـه راروان و چې دوی ورته د کار کولو وویل، خو هندو ورسره دا خـبره ونـه منلـه، دوی پرې ټینګار وکړ ،خو هغه انکار وکړ، ددې کلا حاکم هغـه هنـدو ونیـو او پـه دیوال یې له پاسه کېښود او خټې یې پرې ووهلې چې بیا لـه همـدې کیسـې وروسته دا کـلا د ظلـم آبـاد پـه نـوم مشـهوره شـوه او تـر اوسـه پـه دې نـوم یادېږي.))



۵. انځور: د ظلم آباد کلا

په دې تړاو مې د سرمحقق عبدالله بختاني څخه هم پوښتنه وکړه؛ هغه هم پورته خبره تائید کړه او ویې وویل، چې: ((دا د جبارخېلانو کلا ده، دوی چې په دې کلا کار کاوه،نو په هر سړي د زور په واسطه کار سرته رساوه، چا چې په کار کې ناغیړي کوله، نو بیا به یې په دیوال کېښود او له پاسه به یې پرې ختې کېښودې، ځکه ورته د ظلم آباد کلا وایي،خو ما هم تر دې زیات ددې کلا په تړاو نه څه لوستي او نه اورېدلي دي.))

# د سره رود ولسوالۍ زیارتونه

د سره رود په ولسوالۍ کې ډېر زیات زیارتونه شته چې په اړه یې د خلکو ترمنځ بېلابېل روایات موجود دي، دلته به د هریو په اړه څه رڼا واچوو:

**۱. سید الیاس پهلوان زیارت:**

دغه زیارت د سره رود ولسوالۍ اړوند د تور غره په لمنه کې د کچړې په کلي کې د بېرې ونو په یو وړوکي ځنګل کې موقعیت لري چې ننګرهار او د هېواد دیو شمېر نورو سیمو څخه ورته خلک راځي او خپل مرادونه دلته بیانوي. دا زیارت د بادو د زیارت په نوم مشهور دی چې دقدامت او عمر په اړه یې خلک بېلابېلې خبرې کوي. د سره رود ولسوالۍ یو تن اوسېدونکی عبدالواسع انتظار چې (۳۷) کاله عمر لري وایي، چې زما د نیکونو د خولې خبره ده چې دا د څو پېړیو پخوانی زیارت دی، خو دومره ویلی شم چې زموږ نیکونو زموږ پلرونو ته ددې زیارت کیسې کړې او ویلي یې دي چې د دوی د پیدایښت څخه وړاندې دغه زیارت موجود وو.



٦. انځور: د سید الیاس پهلوان زیارت

**ددې زیارت په اړه دخلکو روایات:** د سیمې خلکو ته له پخوا زمانو څخه ددې زیارت په تړاو بېلابېل روایات رسیدلي دي، ځینې روایات داسې دي چې دلته به له دې تور غره څخه یو ښامار راته او خلك به یې خوړل چې دوخت خلك ترې ډېر په تنګ راغلي وو، یوه ورځ دغه ښامار راغلی چې خلك وخوري، ناګهانه په سیدالیاس برابر شوی چې نوموړي پرې د تیرېدو ګوذار کړی او ښامار یې وژلی دی چې بیا تر هغې وروسته ورته خلکو سیدالیاس پهلوان وایه. کله چې سیدالیاس پهلوان مړ شو؛ نو همدلته ښخ کړای شو او دا زیارت پرې جوړ شو. اوس هم د تور غره په یو ناو کې داسې یوه نښه شته چې ښامار اوږد غزېدلی او لاندې د راښکته کېدو په حال کې دی.

اوس خلك په دې باور دي هغه انسانان ښارمار خوړلي وو، له هغو څخه ونې جوړې شوي. که چېرته څوك کومه ونه ووهي، نو وینې ترې بهېږي نو همدې احترام دا ونې څوك نه وهي او نه ورته په بد نظر ګوري، بلکې ډېر قدر یې کوي او هغه تېره چې پهلوان بابا پرې ښامار وژلی، دپنجې شکل لري او باور داسې دی چې د وجود په کوم ځای مثلاً ملا، لاس او پښه باد تېر شوي او یا فلج شوي وي،نو دا پرې ووهي هغه د خدای په حکم سره ښه کېږي.

دې زیارت ته هغه مېرمنې ډېرې راځي چې اولاد نه لري او د بادو تکلیف ولري. پخوا به ورته له ډېرو لیرې ځایونو خلك راتلل، حتی د یوه میله ځای بڼه یې غوره کړې وه. نارینه و به ورته په ساعتونو ساعتونو انتظار کاوه چې نوبت ورشي او زیارت ته دننه شي خو اوس دغه زیارت ته ډېر لږ خلك راځي. لامل یې هم دادی چې دغه سېمه اوس نا امنه شوې او بل دا چې په ننګرهار کې یو شمېر زیارتونه د داعش وسله والو له لوري له منځه وړل شوي، نو اوس دومره خلك ورته نه راځي.

ددې زیارت په شاوخوا کې نږدې تر دریو سوو زیاتې ونې دي چې ډېرې پکې د سنځلو، بېرې او زیتونو ونې ،خو داوبو د نشتوالي له امله یې زیاتې ونې وچې شوي دي.



۷. انځور: د سید الیاس پهلوان زیارت

## ۲. باباجي صاحب زیارت:

باباجي صاحب په میاجي صیب هم مشهور دی. میا صیب یو فاضل عالم او روحاني شخصیت و ،د مذهبي، اخلاقي او تصوفي مفکورې د خپرولو په نیت د یو مبلغ په حیث له خپل ټاټوبي سعودي عربستان څخه دې سیمې ته راغلی و.

د باباجي صیب زیارت د سره رود ولسوالۍ د کوز ککړک د غونډۍ کلي په یوه پراخه ساحه کې موقعیت لري، په نوموړي سیمه کې د زیارت لپاره لږ ترلږه لس بسوې ځمکه د سیمې د خلکو لخوا وقف شوې ده، هغه خلک چې غواړي زیارت ته راشي؛ په پراخه پیمانه پکې ځاییږي.

په دې سیمه کې ټول پښتانه قومونه مېشت دي، د زراعتي ځمکو څخه حاصلات یې د بارانونو او چینو په وسیله لاس ته راځي، په دې معنی چې

ځمکې یې للمـي دي. د بابـاجي صـیب لـه وفـات وروسـته یـې اولادونـه د میاګانو په دوو لویو کلیو کې سره خواره واره شول چې اوس د میاګانو په نوم یادیږي.

**٣. شاه ناصر آغا زیارت:**

شاه ناصر اغا زیارت د سره رود ولسوالۍ اړوند د احمدزیو کـلي پـه جنـوب لوري غونډۍ کې موقعیت لري چې اوس د شاه ناصر اغا د غونـډۍ پـه نـوم یادیږي. ویل کیږي چې دوی په پیل کې له مصر نـه افغانسـتان تـه لـه خپلـو ځلورو ورونو او یوې خور سره یو ځای دې سیمې ته راغلي دي.



٨. انځور: د شاه ناصر آغا زیارت

ددې زیارت په اړه هم خلك بېلابېل روایتونه لري. ددې سیمې خلك وایي چې کلـه د تـور غـره لمنـو کـې کفـارو سـیدالیاس پهلـوان بابـا پـه شـهادت ورساوه،نو د سره رود دسیند (سرخاب) نه راپورې وتل او په معروف کلا کې د شاه ناصر آغا د لښکرو سره مخ شول، له جګړې وروسته شـاه نـاصر غـا د خپلو ځلورو واړو ورونو او خور سره یو ځای شهیدان شول چې په بېلو بېلـو ځایونو کې ښخ شول. د شاه ناصر آغا سره یو ځای د هغه دوه ورونه شاه باقر

آغا او شاه فتیح الله اغا د احمدزیو په کلي کې او شمس آغا د شیخ مصري په دښته کې ښخ شوي دي او د خور بي بي مزار يې په شهیدګل خان کلي کې دی چې د سره رود ولسوالۍ ډېرې ښځې يې زيارت ته ورځي او ورته عقيدتمندې دي.

د سره رود ولسوالۍ د شاه ناصر اغا غونډۍ یو تن اوسیدنکی محمدایوب چې (٤٥) کاله عمر لري، د شاه ناصراغا په تړاو وايي: ((له نيکونو، پلرونو او مشرانو مو ویل چې شاه ناصر اغا د خپلو نهو ورونو او يوې خور سره له مصر څخه د جهاد په موخه افغانستان ته راغلی و چې وروستی سنګر يې د سره رود ولسوالۍ همدغه سېمه ده چې خلک يې دمعروف کلا په نامه هم پېژني او اوس د شاه ناصر اغا د غونډۍ په نوم يادېږي. دا ځای دکوشانیانو ښار و، دلته د جګړې لومړی کرښه وه چې شاه ناصر اغا له خپلو ورونو او خور سره یو ځای پکې په جهاد بوخت و. شاه ناصر اغا به نه و خو تش بدن به يې جنګ کاوه،نو د جګړې مقابل لوري پریکړه وکړه چې داسې یو کار وکړي تر څو دوی مات کړي. هماغه و چې یوه ښځه يې راپيدا کړه، چې په اصطلاح نظربازه وه او نظر يې لګېده، هغه يې راوسته او شاه ناصر اغا ته يې مخامخ ودروله، هغې وویل چې څه بلا سړی، سر يې نشته او جنګ کوي. په همدې خبرې سره شاه ناصرآغا په ځمکه راپرېوت او شهید شو. خور يې هم همدلته شهیده شوې او شاه ناصر آغا ددې لپاره چې خور يې بې ستره نشي، د جګړې له میدانه لرې غورځولې وه چې څه موده وروسته ومونډل شوه او همدلته يې ښخ کړل شوه. د شاه ناصر اغا ځيني نور ورونه هم له ده سره ښخ دي او د خور مزار يې نږدې دوه سوه متره ورانډې له دې زيارت څخه موقعيت لري.))

د شاه ناصر اغا مزار ته دهېواد له بېلابېلو سېمو څخه د دم او دعا لپاره خلک راځي، پدې زيارت د خلکو باور زيات دی. ددې سېمې یو تن اوسيدونکی

محمدایوب دخپلو سترګو لیدلی حال راته داسې بیان کړ: ((زما په یادښت د طالبانو د واکمنۍ پر مهال داسې اوازه شوه چې په دې قبرونو کې سره زر او بوتان دي، نو د همدې خبرې سره د قبرونو کېندل پیل شول، یو سهار په لاره تېرېدم چې ګورم د شاه ناصر اغا قبر په منځ کې کېندل شوی دی او یو غټ مار پکې مړ پروت دی خو لا هم خوزېږي. د طالبانو د وخت یو قوماندان راته احوال راولېږه، چې دا ښخ نه کړئ، زه راځم او ګورم یې. په هغه ورځ یوه لویه مېله وه، ټول خلك راټول وو.))

**۴. د شاه قاسم بابا مزار:**

ددغه زیارت په تړاو داسې مشخص څه په لاس کې نشته، که څه هم له ډېرو خلکو سره مې په دې اړه خبرې وکړې، خو له هیچا سره هم په دې تړاو معلومات نه وو. یوازې ددغه زیارت دنوم او ځینو عقایدو په اړه مې له خلکو څخه یو څه معلومات راټول کړي دي.

د شاه قاسم بابا زیارت د سره رود ولسوالۍ په برشمسه پور کې دی، د خلکو په وینا چې دا هم د کفارو سره په جنګ کې شهید شوی چې اوس مهال د همدې خبرو په استناد خلك ورته ډېره عقیده لري، دوی وایي چې یو مهال خلك د قبرونو د کیندنو پسې ګرځېدل چې تر دې قبر پورې هم راورسېدل. نو ډېره هڅه یې وکړه چې دا مزار هم وکني خو بریالي نشول. خلك وایي چې دا یو روحاني شخصیت دی، ځکه یې د قبر په کیندلو بریالي نشول. ددې سیمې خلك دغه زیارت ته عقیدتمند دي، دې زیارت ته راځي، دخپلو ماشومانو لپاره چې ځېل او یا ډېره ژړا کوي، د دغه مزار نه تارونه تاووي او بیا یې د خپلو ماشومانو لپاره بند جوړوي، ددوی په عقیده چې ماشومان یې ورسره ښه کېږي. دې زیارت ته د یو منلي او رسېدلي شخص په نظر ګوري، البته د کومې مشخصې ناروغۍ د علاج لپاره ورته څوك نه راځي.

**۵. غازي شاولي بابا مزار:**

د غازي شاولي مزار هم د شمسه پور په کلي کې دی چې په دې اړه هم معلومات په لاس کې نه شته. د سیمې خلک وایي چې ددې زیارت ترڅنګ د خرما یوه لویه ونه وه چې ډېرې خوږې خرما به یې نیولې، ددې ونې یوه ځانګړنه دا وه چې پرته له نابالغ هلک به ورته لوی یا بالغ سړی نشو ختلی، که به ورپورته شو نو بیرته به ترې رالوېده.

**٦. موی مبارک:**

د موی مبارک سیمه د سره رود ولسوالۍ اړوند کانال ته څېرمه د سړک پر غاړه پرته ده. د سیمې دخلکو په وینا چې سلګونه کاله وړاندې د رسول الله ـ د ږیرې مبارکې ویښته له سعودي څخه یمن ته وړل شوی و، بیا بغداد او له هغه ځایه پاکستان ته راوړل شوی او کلونه وروسته بیا کابل او له کابل څخه ننګرهار سره رود ولسوالۍ چهار باغ صفا کلي ته راوړل شوی دی چې دوخت حاکم ورته یوه اندازه ځمکه ځانګړې او ورته یې ودانۍ جوړه کړه چې اوس هم دغه ودانۍ آباده ده.



۹. انځور: د موی مبارک پخوانۍ ودانۍ

ددې زیارت متولي (۷۰) کلن سیدغلام سخي د سید غـلام ربـاني ادبي زوی وایي چې په وینا د عبدالله بـن عبـاس رضي اللـه عنـه د اولادې څخـه دی، وایي: ((زموږ نیکونه چې دی یې څلورم پښت دی، له سعودي څخه یمن ته ولاړل، تر څه مودې وروسته بیا بغداد او لـه هغـه ځایـه پاکسـتان تـه مهـاجر شول، وروسته کابل ته او له کابل څخه د سره رو ولسوالۍ اړوند سلطانپور او چهار باغ صفا ته راغلل چې د رسول الله ـ دغه ویښته مبارک یې لـه ځـان سره راوړ.)) نوموړی وایي: ((زموږ نیکونو سلګونه کالـه د رسـول اللـه ـ د مبارکې ږیرې د ویښته زیارت او ساتنه کړې خو کله چې روسان افغانستان ته راغلل او هر څه وران شـول نـو پـه پټـه لـه دې ځایـه هغـه ویښـته مبـارک د پاکستان تهکال سیمې ته یوړل شو، خو د ځای معلومات یـې حتـی زمـوږ د کورنۍ غړې هم نه و، ځکه دلته بمبار او جګړې وې، ځان ساتل هـم ګرانـه خبره وه، بیا ددې مبارک ویښته. خـو کلـه چـې د طالبـانو واکمنـۍ پـای تـه ورسېده او د ولسمشـر حامدکرزي په مشـرۍ موقت حکومت جوړ شـو، نـو دوی هم بیرته خپل ټاټوبي ته راغلل او ویښته مبارک یـې د ځـان سره راوړ، په وروستیو کلونو کې چې وضعیت یو ځل بیا کړکېچن شو نو دی هم مجبور شول چې دا ویښته یو ناڅرګند لوري ته یوسي خو د سـیمې خلکـو پـه دوی پورې تهمت ولګاوه چې ګواکې عباسي کورنۍ د پېغمبر ▼ ویښـته مبـارک چا ته په ډالۍ کې ورکړی دی.))

ښاغلی غلام سخي وایي: ((موږ بیا د کنـدهار، هـرات او پکتیـا علـماء کـرام ننګرهار ته را دعوت کړل او د ټولو په مخ کې مو ویښته ورته وښوده چې چا ته مو نه دی ورکړی.)) هغه زیاتوي: ((دا ویښته له سـعودي عربسـتان څخـه شاوخوا (۲۵۰) کاله وړاندې افغانستان ته راوړل شوی دی.))

د موی مبارک متولي وایي چې دوی دم او دعا هم کـوي، ځکـه دوی تـه د نیکونو څخه اجازه شته، هغه میرمنې چې د اولاد مـوده یـې پـوره وي، خـو

اولاد يې نه کېږي نو دوی يې د قران کريم په ايتونو دموي او د خدای په حکم يې اولاد پيدا کېږي. همداراز په کم وخت کې دماشوم غورځېدلو، د لاسونو او پښو د بدنونو د کوږوالي سمېدلو، د ديو نظربند، پيران لرې کولو، صوفيان او ګڼو نورو ناروغيو لپاره درمل، بندونه او دعاګانې کوي چې د الله په فضل سره ښه کېږي.



۱۰. انځور: د موی مبارک نوې ودانۍ او جومات

د موی مبارک په تړاو سرمحقق عبدالله خدمتګار بختانی وايي: ((دا د حضرت محمد ـ د مبارکې ږيرې ويښته دی چې عقيدتمندانو يې له پخوا زمانو څخه تر اوسه ساتلی، مخکې د چهارباغ ښار په دننه کې د ضياء غلام جيلاني په کور کې و، دوخت حاکم چې جنرال و، له دوی څخه يې غوښتنه وکړه، تر څو يې له ښار څخه وباسي، هلته کورونه دي، خلک يې زيارت ته راځي،نو ښځې ورسره مشکل کې اخته وې، بيا يې ورته د دوسرکې په خوا کې ځمکه ورکړه، جومات او ګنبده يې ورته جوړه کړه چې اوس همدا سيمه د موی مبارک په نامه يادېږي. د ننګرهار، هرات، کابل او

کندهار د موی مبارک زیارتونه سره ورته دي، ټول د پیغمبر ـ پر ویښته جوړ شوي.))

په کندهار کې د موی مبارک زیارت په اړه علامه اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد د کندهار زیارتونه نومي کتاب په لومړي ټوك کې لیکلي:

((د کندهار د ښنین په سیمه کې د تبرک په ډول سره د کربلا د سیدانو په کورو کې ښت پر ښت یو ویښته ساتل کېده ددې متبرك ویښته په باب ویل کېده چې د حضرت محمد مصطفی ـ دی او له خورا پخوا زمانو څخه د خلکو عقیده او ددې نسبت تواتر موجود و. په ۱۲۵٦هـ ق=۱۸۷۹ع کال چې انګرېزانو ښنین تر خپلې اداري لاندې کړ او د کندهار له مرکزیته څخه دا غړی فرنګي استعمار پیل کړ د هغه وخت ځینو ښو خلکو د داسې متبرك ویښته پاتې کېدل په داسې سیمه کې چې د کفر تر استعمار لاندې وي مناسب ونه منل او دا ویښته یې کندهار ته راوړ، د احمدشاهي ښار په زړه جامع کې کېښوده او ډېر خلك یې زیارت ته ورتلل.

په ۱۳۳۱هـ ق کال چې د نایب الحکومه سردار محمدعثمان خان د سردار کهندل خان په نامه مشهورو جامع چې د احمدشاهي ښار په منځ کې د چارسو شمال شرقي خواته واقع ده ارته کړه او دهغې په ودانۍ کې یې څه اضافې راوستلې، د دغې جامع په شمال غربي ګوټ کې د موی مبارك لپاره هم یو ځای جوړ کړ او دا متبرك ویښته له زړې جامع څخه د کهندل جامع ته راوړل شو او تر اوسه پورې د سردار کهندل په جامع کې د خلکو مزار دی، د دې متبرك ویښته تولا د سیدقیوم او سیدعبدالقدوس په کورنۍ اړه لري. د موی مبارك په باب دمیا فقیرالله په یوڅلوېښتم مکتوب کې ډېر تفصیل شته: (۱۱: ۷-۸)

**۷. اخوند بابا (اخندبابا) زیارت:**

دغه زیارت هم د سره رود ولسوالۍ د نظراباد په کلي موقعیت لري.
دنوموړي د نسب او اولادې په اړه صفیه په خپلو یادښتونو کې لیکي:
((جناب قطب العارفین و زبدة السالکین مولانا خواجه قیام الدین صدیق د حضرت قطب الاقطاب شاه ابا کاجي صاحب ځوی چې مبارك مزار یې په ننګرهار ولایت جلال اباد ښار کې حمام مسجد ته مخامخ موقعیت لري چې د نسب لړۍ یې د اسلام لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق ته رسېږي. د نوموړي د اولادې لړۍ په لاندې ډول ده: مولانا خواجه حافظ جي صاحب، خواجه عبدالعظیم صدیق، خواجه محمدغلام صدیقي، خواجه احمدګل صدیقي، خواجه مولانا قاضي صاحب ګل صدیقي، مولانا مفتي عبدالحق صدیقي، مولانا شیخ الحدیث نورالحق صدیقي، مولانا قاضي عبدالخالق صدیقي، دحضرت خواجه قیام الدین صدیقي مشهور په اخند باپا او فیوضاتو او ښېګڼو نه ډېر خلك دهېواد په مختلفو برخو کې برخمن شوي دي، دده اولاده د لغمان په چهارباغ، دسره رود د بر سلطانپور او نظراباد په سیمو کې مېشت دي، چې د خواجه ګانو او صدیقیانو په نامه یادېږي.))(صفیه صدیقي یادښتونه) ناچاپ

د اخند بابا زیارت په تړاو د کلي د خلکو روایات ډېر دي پخوا په دې زیارت کې د پاوکي په نوم نذر او یا خیرات کېده، د کلي مشر به په خلکو غږ وکړ چې د پلاني سړي کور ته خپل وسه وریجي او یا پیسې ورکړي، دا به هغه مهال کېده چې کله په کلي کې ناروغان او یا پېښې ډېرې شوي دا وریجي به یو کس راټولې کړې او په یو ټاکلي ورځ به یې د همدې زیارت ترڅنګ پاخه او ټول کلیوال به راټول شول په دعا سره به یې خوړل شروع شول چې دوی وایي له دې سره به په سیمه کې ناورغي او بدې پېښې به راکمې شوې.

د نظراباد کلي اوسېدونکي او د ولسونو یو مشر حاجي قنداغا چې ۴۵ کاله

عمر لري وايي چې په دې تيرو څو کالونو کې د پاوکي خيرات نه دی شوی د خلکو باورونه دادي چې ورسره پېښې او ناروغان هم ډېر شوي دي.

په دې زيارت کې به مېرمني هم نذرونه ورکول لکه د اخر چهارشنبې په نـوم نذر او همدا راز به بې اولاده ښځي به د اخند بابا په سر ولاړه ونه کې به يې د ټوټو نه زانګو جوړ وله او ماشومان به يې پکې زنګول.

همداراز د هېواد تکړه شاعر او ليکوال قاضي محمدحسن حقيار د داخنـدبابا او ځينو نورو زيارتونو په تاريخي ارزښت او ورته د ولسونو د درنـاوي پـه اړه يو اوږد نظم ليکلی، چې د نوموړي د سباوون وړمې نومي شعري ټولګه کې چاپ شـوی دی، لـومړی يـې د خپـل کـلي سـتاينه کـړې او وروسـته يـې د تاريخي ځايونو يادونه هم کړې، چې موږ يې دلته رااخلو:

**خپل کلي ته**

ســتانرمې غېــږ کــې روزل شــوی یمــه
ســتا دتيوشــيدې مــې څښــلې دي
پــه دې دنيــاکې خومشــال نلــرې
حتــی کــوثر نــه هــم ښــاغلې دي

موربــه چــې ســتا پــه ســينه څملــولم
راتــه يــې غــوږ کــې الاهــو ويلــې
پــه پســته ژبــه اويوخــاص تــرنم
ماتــــه يــــې اللولــــوويلې

د نظرآبـــاد علـــم پـــرورې زانګـــو
تـــورغره تـــه نـــوره هـــم ښـــکلا ورکـــړه
دتصـــوف ډيـــوه دې تتـــه مشـــه
دې پـاس سـپوږمۍ تـه هـم رڼـا ورکـړه

دا د عرفـــان اوســـلوك ســـتره هســـتي
ســتا پســته غېـبره کــې خوبونــه کــو ي
د روحــاني فــیض وږمــې نــاڅي ورتــه
رنـــدا و زاهـــد یـــې طوفانونـــه کـــوي

هـــاغي یـــې دوه ســـترګوته نذرایښـــی
دا چـــې ((اخونـــدبابا))کې اوربلـــوي
بابـــا ! ســـتاغرونه،ګیاه نـــه ســـوځوي
اورد ســـلګۍ اوآهـــــ پـــه زوربلـــوي

دا شــــوخه دنګـــه اومغـــروره پېغلـــه
چـــې یـــې منګـــې پـــه سرکتارښـــکاري
داده د چاقبولــــــه شــــوې دعـــــا !
چـې ټـول وطـن پـرې لالـه زار ښـکاري

د قـــاف دغـــره دا بـــې پروابنـــاپېرۍ
د سـیند هنـداره کـې ټـول ځـان ګـوري
یـــو زیـــړ زیبښـــلی نـــا ارامـــه اروا
ســترګوددې کــې خپـل جهـان ګـوري

میـدان د سـترګو دې نـورهم پـراخ کـړه
ښـــکېلې حیـــا وې چورلکونـــه وهـــي
پکـــې ښـــکارېږي مقـــدس بغـــاوت
ګـــوره لـــه ورایـــه ســـترګکونه وهـــي

غـړپ د اوبـودې سـپین تنـدی تریـوکړ؟
دا پــه څپــودي پکــې بــورې اوښــکې

وخښــه بــې غمــې نــازولې پېغلــې!
د کــابلې پېغلــې مجبــورې اوښــکې

د ســیندهغه ســندریز شــور نشــته
چــې مــوخمار کــړي زنګېــدلي زړونــه
د موســیقیت وزرونــه وســوځېدل
لــه کــابلې نغموختــل دودونــه

قــدم قــدم سرای د مینــې شــه تــه
د ښــکلا نــوې قــافلې درځــي
غېــږه دې پرانیــزه لــږ وموســېږه
د کــدیخیلو نــه وږمــې درځــي

دا چــې د ستورو پــه څېــر ډېرځلیــږي
داده غبرګــون د بېــټ نیکــه د دعــا
د((بیټنیــــو)) میړنیوزلمــــو
دهمــت تــوره خلاصــه نکــړئ لــه مــلا

ای ((ګلبیلــې))رښــتیا د ګلــو لښــتې
بــورا نظــر تــاکې ګلچــین غــواړي
ګــوره کچکــول د مــاضي نیسيـ لمــن
حیــات الله پــه څېــر حســین غــواړي

غیبــي بابــا لاس یــې غیبــي ونیســه
دخیــال پــردې ســتا اسـطوری غــږوي
اسرې یــــې تاتــــه ننــــواتې راوړي
پــه سرومنګولوســتاجنډې هسـکوي

د درونټـــــې د بریښـــــنا ســـــپینوړانګو
جـــلال ابـــاد تـــه پـــاریس وشرمـــاوه
د((امرخېـــــل)) ملکـــــوتي انګـــــازو
لیـــــنن ګراد،کـــــرملین وخوځـــــاوه

د ننګرهـــــار پوهنتـــــون ســـــتاپه ټنـــــډه
لکـــــه اکســـــفورډ لکـــــه ازهرښـــــکاري
پـــه لراوبـــر یـــې پلوشـــې خپـــرې دي
دا ډیـــوه ونـــه بلـــی لمـــر ښـــکاري

د ســــــمچانو ســــــمڅې راز ســــــپړي
د نیکومســــــتې خــــــاطرې وایــــــي
د اریـــــایي مـــــدنیت هســـــکې نښـــــې
ســـتا د لرغـــون تـــاریخ کیســـې وایـــي

ای زردشـــتي پېغلـــې زموږکوڅـــه کـــې!
ســـتا د وربـــل څوســـیخکان پراتـــه دي
د بودایـــــت د قبلـــــې شـــــیخ او پـــــیره
راشـــه ســـتا هـــم څوخـــدایان پراتـــه دي

د غـــــــره لمنـــــــې د ګودرغـــــــاړې!
هرمـــازدیګر دې ســـور اوشـــین ښـــکاري
ته به وایې اوبـوېې لـه مـخ اور واخسـت
یـــــایي کبـــــانو تـــــه جبـــــین ښـــــکاري

هرســـباوون دې پـــه وږمـــو کـــې نغښـــتی
بـــوی پـــه غـــوټۍ کـــې اتڼونـــه کـــوي

د اسـمان تـول سـتوري ګـډېږي ورتـه
پیغلـود چـم تـه سـلامونه کـوي
د مخـامخ هسـکې غونـډۍ شـپونکیه
دا سـوې سـوې نغمـې مـه غـږوه
تـږى خـمار مـاران ازارکـړي درتـه
د زړه تارونـه یـې نـور مـه خوځـوه

د شـپیلۍ هریـو زیـراوبم تـال دي
د چـا دعشـق سـوي داغونـه چېـړي
د چـا احسـاس مسرې مسرې شي ورتـه
د چـا پـه زړه کـې ارمانونـه چیـړي

دپ ېغلـوپتې اوسـاده سـترګې
یوتقـدس لـري الهـام لـري
د لاشـعور چوپتیـایې خـوب مـه ګڼـه
تحـت الشـعورکې یوپیغـام لـري

ای د ادب او د هـنر پلوشـې
تـه د اسـیا د زړه پـه تـن کـې سـایې
د اوربـل ګـل یـې د وطـن د پیغلـې
تـه دسـپین غـره داننګوښـکلایې

دا بـې پروا،بـاغي حسـینه کـوچۍ
د زړه پـه مرانـدکې کیـږدۍ دروي
ژمـى دى، زړه غـوړوه، ګونـدې دلتـه
بخـت خلاصـوي اوس ډیـوه ګـۍ بلـوي

دا یلبنـــد ســتړې مینــه مینــه پیغلــه
شــپول کــې زمــوږ د ارام ســاه غــواړي
تنهـــاکې واغونـــدي پـــه ښـــپو راشي
ای د((حقیــار)) جــونګړ ي تــا غــواړي.
(۷: ۱۵٦-۱۵۸)

**۸. غیبي بابا زیارت:**

غیبي بابا زیارت د سره رود ولسوالۍ اړوند د تور غر په څنډه کې د امرخېلو کلي په لویدیځ د کانال په غاړه موقعیت لري. ددې زیارت په اړه ویل کېږي چې کله روسانو پر افغانستان په کال ۱۳۵۷لمریز کال تېری وکړ، ټانګونه يې د تور غره پـه لمنه له دې ځای څخه تېرېدل، نو غیب به شول او لـه همـدې امله یـې زیـارت غیبي بابا ونوماوه چې هره ورځ سلګونه تنه پر دې لاره تګ راتګ کوي.



۱۱. انځور: غیبي بابا زیارت

**۹. لعل قاسم اغا زيارت:**

د لعل قاسم اغا مزار هم د سره رود ولسوالۍ د غوچکو په کلي کې موقعيت لري، له ډېرې پخوا نه ددې مزار ترڅنګ په اخترونو او نورو ځانګړو ورځو کې ميلې وي، ماشومان، ځوانان او پېغلې مېرمنې دې مزار ته راځي، ميلې او خوراکونه وي، دې مزار ساحه ډېره پراخه وه خو اوس شاوخوا ځمکو کې کورونه جوړ شوي دي.

استاد عبدالله بختانی د لعل قاسم اغا زيارت په تړاو وايي: ((لعل قاسم آغا زيارت د زيړانيو په بر سر د غوچکو په کوز سر شمال شرق خواته موقعيت لري، لعل قاسم آغا د خواجه رستم زوی دی.))

شهيد سيدقاسم خاورين چې په لال قاسم اغا مشهور دی، ويل کېږي چې دی په ۱۳ کلنۍ کې وفات شوی. لال قاسم آغا د خواجه رستم پهلوان زوی دی، دی يو مبلغ، مجاهد او مبارز ځوان و چې انګريزانو سره په جهاد کې شهيد شوی دی، ددې مزار چې په وروستيو جنګونو کې سخت زيانمن شوی و، په ۱۳۸۳لمريز کال بيا ورغول شو.

د غوچکو کلي يو تن اوسېدونکی (۳۵) کلن شکرالله مشکور د لال قاسم آغا په تړاو وايي:

((پرموږ د غربت څپه تېره شوې، زه چې به تقريباً د لسو کالو وم چې دلته مې د مېلې په ورځو کې خوراکي توکي خرڅول، دومره ګڼه ګوڼه به وه چې هيڅ يې تصور نه کېده، څوک زيارت ته راتلل او څوک به دلته د ميلې او خوراکونو لپاره، ښځې به چې اولادونه به يې نه لرل نو په دې ونه کې چې د زيارت په بر سر کې ده، په څانګو کې يې وړې زانګوګانې اچولې او پکې به يې يوه ګوډۍ څملوله دا نو په دې فال و چې کواکې خدای ورته اولاد ورکړي، بس د خلکو عقيدې دي خو ماهغه مهال د دې زيارت په تړاو معلومات نه درلود خو په تلوسه کې وم.))

مشکور وايي وروسته چې يې زده کړې وکړې او په همدې لاره به هـره ورځ پوهنتون ته تلو؛ ددې زيارت په تړاو يې معلومات لـه خلکـو اخيسـتل، هغـه وايي چې د کلي مشـران ورته د دې زيارت په تړاو داسې ويلي:

((دلته يو پاچا و چې زيړن پاچا نومېده ويل کېږي، ډېر ظالم سړی و خلـك يې وژل، هرڅو چې به په مخه ورغي نو بې مرګه يې نه پريښـود، لال قاسـم اغا چې هغه مهال د اوو کالو به و، پر زيړن پاچا يې وسه نه رسېده،نو نېزه يې د پاچا لاندې کړ او پړ مخ يې وغورځاوه،نو د لال قاسم اغا نـوم ووت چـې تکليف ورته پيدا او بالاخره مړ شو او همدلته يې ښخ کړو چې اوس دا سيمه د لال قاسم اغا او لاندې کلی چې زيړن پاچا پکې اوسـېده، د زيړانـې کـلي په نوم يادېږي، د لال قاسم اغا پلار خواجه رستم اغا نومېږي چې په مرکـزي غوچکو کې يې مزار دی. د طالبانو واکمنۍ پرمهال يې قبر چا کيندلي و چې بيا يې د نشان سنګ په نوم تېږه پکې پيدا کړه، چې ډېره قيمتي تيـږه وه،دی وايي چې دده يو ملګري ورته کيسه کوله چې د طالبانو په دور کې يې د لال قاسم اغا قبر يې راوسـپړلو، پکـې يـو د سروزرو چـرګ ومونـد او همـدا راز ډېرې کېندنې پکې شوي دي.))



۱۲. انځور: د لعل قاسم آغا زيارت

تر دې وړاندې د(کله پنډو) بابا زيارت هم دی چې دې سيمې ته سنګ لاست وايي چې د دوی په خبره دلته د زيړن پاچا ځای و دلته اوسېدلو. د سنګ لاست په اړه ښاغلی مشکور وايي: ((په دې سېمه کې هم د کوشانيانو او غزنويانو کومه دوره تېره شوې. مشرانو ويل چې دلته زيړن پاچا دېره وه، وايي دلته يو غريب سړی و چې خلکو خرکار باله. د کروندګرو ځمکو ته به يي ډېرانونه چلول، د يو ملک ځمکه يې په اجاره واخيسته چې سره (کودکيمياوي) ورته يوسي چې سړی ناڅاپه ورک شو، ملک هم حيران شو خو ډېره موده وروسته يې په کوم بل ځای کې وليده، تر سترګې مشي وروسته يې ترې پوښتنه وکړه چې ته خو به هغه فلاني سړی نه يې؟ ويل يم خو ځنګه ورک شوې او اوس په دې حال؟ ويل، ما چې سهار ستا پټي ته ډېران چلول شروع کړل نو په دې ځای کې مې له خارو لاندې نه يوه چاټۍ راوويسته چې ډېر سره زر پکې و، هغه مې واخيستل، خرڅ مې کړل اوس مې ژوند جوړ دی.))




۱۳. انځور: د لعل قاسم آغا د مقبرې شناخته

**۱۰. شاه فیض الله اغا زیارت:**

شاه فیض الله اغا زیارت د سره رود ولسوالۍ په چهارباغ صفا کلي په بـر سر کې موقعیت لري چې پر مقبره یـې دوه ښایسـته ګنبـدې ،هـم جـوړې شـوي دي، خو اوس ورانه کنډواله ده.

ددې زیارت په اړه د سره رود ولسـوالۍ د چهاربـاغ صـفا کـلي اوسـېدونکي وایي چې دا یو ملنګ سړی و، د ورځې به په کلیو کې ګرځېده او د شپې به یې ځان همدې ځای ته رسولو او شپه به یې دلته سبا کوله.



۱۴. انځور: د شاه فیض الله آغا زیارت

ددې کلي یو تن قومي مشـر عبدالقیوم خواجه چې (۵٤) کالـه عمـر لـري، د خواجه فیض الله اغا په اړه وایي: ((دا یو ملنګ سړی خو بزرګ او عـالم و، دورځې به ددې ولسوالۍ په کلیـو کـې ګرځېـده، د شـپې د خـوب لپـاره بـه همدې ځای ته راته، شپه به یې په چهار بـاغ صـفا کـلي کـې کولـه چـې پـه همدې ځای کې مړ شو، نو حضرت صاحبانو ته په خـوب کـې راغـلی و او ورته یې ویلي و چې زه مړ یم خو همدلته مې ښخ کړئ. سهار چې حضرت صاحبان ورغلي وو، ګوري چې آغا صیب مړ دی، نیکونو موږ ته خبره کوله

چې دلته پخوا ډېر هندوان اوسېدل، چهارباغ کې کوم مشر هندو ته هم په خوب کې ورغلی و، سهار بیا هندوانو ویل چې مزار یې موږ جوړوو نو د چهارباغ خلک راپاڅېدل او جنجال جوړ شو چې دا یو مسلمان دی او بزرګ سړی دی، په هندوانو یې څنګه مزار جوړ کړو، بیا حضرت صیب او هندوانو په ګډه کار وکړ او پریکړه په دې وشوه چې زیارت ته یې چې هرڅوک راځي؛ ممانعت به نه وي.))

په زیارت جوړې شوې دغه ګنبدې له پخو مربع ډوله ښختو څخه جوړې شوي، دواړه ګنبدې یو له بلې سره نښلول شوي خو اوس یې دمنځ هغه کوټه چې دواړه ګنبدې یې سره نښلولې وې، نړېدلې. خلکو پرې لار جوړه کړې، د دویمې ګنبدې لرګینې تمبې ته ځنځیرونه او قفلونه پراته دي.

ددې ګنبدې یو لوی دیوال له نورو دیوالونو څخه راشلېدلی، لاندینۍ برخه یې نړېدلې. استاد عبدالله بختانی چې ددې سیمې اوسیدونکی دی،وایي چې دده دمعلوماتو په اساس ددې سیمې خلکو د دغې تاریخي ګنبدې شالید د غزنویانو په دور پورې وتاړه. استاد بختانی زیاتوي: ((دشاه فیض الله اغا په اړه یو کتاب چې په هند کې خپور شوی، او ده ته لسګونه کاله وړاندې د یو افغاني حکیم هندو په لاس چې نوم یې تاري و، ښودل شوی و. په هغه کتاب کې په دري ژبه لیکل شوي وو، هغه مهال چې غزنویانو دې سیمې ته لښکر راوسته نو دلته د رتن په نوم یو افغاني سوله غوښتونکی هندو و، رتن د غزنوي دور مشر سلطان محمود ته لیک ولیږه او غوښتنه یې ترې وکړه چې دلته باید د چا وینه تویه نشي، تاسې چې هر څه غواړئ، دوی ورته چمتو دي، کله چې د سلطان لښکرې راورسېدې نو دلته ډېرو خلکو د اسلام دین ومانه، رتن هم وروسته مسلمان شو نو په اسلامي طریقه دده نوم شاه فیض الله اغا وبلل شو.))

دده د زیارت درناوي ته د جلال اباد او چارباغ خلک راتلل، یو فولکلوریک روایت داسې دی چې د ژمي په منځ کې به د سیمې خلکو

یوې شړۍ یا کمبلې ته اور واچاوه، موخه یې ترې د ژمي د موسم تېرېده وو. افغاني هندوان چې به کله دې زیارت ته راتلل نو تر دعا او نمانځنې وروسته به دوی دې زیارت ته څېرمه د تورماک په نوم بڼ ته تلل او هلته به یې میلې کولې، استاد بختانی صاحب د دغه ګمبدې د خښتو بڼه مربع ډوله ښیي او د یو بل خو فلکلوریک روایت پر بنسټ وایي.

((غزنوي واکمن سلطان محمود چې کله د مهترلام بابا زیارت ودانی جوړه کړه، یوه اندازه خښته ترې پاتې شوه، سلطان امر وکړ چې دا خښته دې یو یو کس پورته کړي او جلال اباد ته دې یوسي،هلته به پر دغو خښتو د شاه فیض الله اغا ودانې جوړه کړي، عسکرو دغه خښتې راورسولې او یاده ګمبده یې پرې جوړه کړه.))

خو هغه مهال چې کورنۍ جګړې پیل شوې،نو د دغې ګمبدې برخه یې هم وکړه استاد بختانی د انتقاد په ژبه وایي:

((دا یو فرهنګي میراث دی خو افغانانو دغه میراث نه یوازې دا چې ونه ساته، بلکې ویې نړاوه، ده له لوړو مقاماتو نه غوښتنه وکړه چې لرغون پېژندونکي دې،یادې سیمې ته راواستوي چې د دغې تاریخي ګمبدې او ورته نورو اثارو قدامت څرګند کړي او ساتنه یې په غاړه واخلي.))




۱۴. انځور: د شاه فیض الله آغا مقبره

## ۱۱. د پیرسیدحسن ګیلاني زیارت:

پیر سید حسن ګیلاني چې په نقیب صیب مشهور دی، د سیدعلي نقیب الاشراف ګیلاني زوی دی، نوموړی اصلاً د بغداد څخه په ۱۲۲۹هـ هندوستان ته راغلی و چې هلته یې د قادریه طریقه چلوله او د همدې طریقې مشر هم و،خو وروسته افغانستان ته د همدې طرېقې د خپرولو لپاره راغی. دا د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ دور و، نقیب صیب ډېر مریدان پیدا کړل چې په دې وخت کې پرې دوخت پاچا خبر شو، نو پریکړه یې وکړه چې پیر صیب دې له هېواد وویستل شي، خو کله چې پیر صیب ورته خپل کرامات وښودل،نو د وخت پاچا یې قانع کړ. وروسته یې ورته د اوسېدو لپاره د سره ولسوالۍ اړوند صواتیو کې د اکبر پاچا کلا چې خورا لرغونی تاریخي شالید لري، ورکړه چې اوس دا سېمه د پیر صیب د کلي په نوم یادېږي.

پیرصیب سیدحسن ګیلاني په ۱۳۵۳هـ ق کال وفات شوی چې مزار یې په همدې باغ کې دی چې د پیر صیب د کورنۍ د مړو لپاره یې یو ځای ځانګړی شوی دی.



۱۵. انځور: د پیر سید حسن ګیلاني زیارت

د پیر صیب مزار ترخنګ د میلې لپاره ښه ځایونه شته، د مقبرې شرق خواته یو بل بڼ ته چې خلک پکې د دېګ خوراکونو میلې کوي، کورنۍ هم ورته راځي، همداراز په دې مزار کې یو ډول ځانګړې کوترې دي چې سیلانیان ورته راځي او ددې کوترو له ګرځېدو او الوتلو څخه خوند اخلي. په مزار کې یې د مرقب ترخنګ یو منجاور هم شته چې دم او دعاوې کوي. دپیر صیب زیارت ته ډېر خلک عقیدتمند دي.

سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار چې د سره رود ولسوالۍ یوه علمي ستړه ده، او د پیر صیب کورنۍ سره نږدې پاتې شوی وایي چې پیرسیدحسن قادري ګیلاني د غوث الاعظم جیلاني له اولادې څخه دی، کورنۍ ته یې د پیرانو کورنۍ ویل کېږي. بختانی صیب وایي: ((د سیدحسن ګیلاني نه دوه زامن پاتې و چې مشر یې سیدعلي ګیلاني و چې په شیرآغا مشهور و او وړاندې وفات شوی او کشر ـ یې سیداحمد ګیلاني و چې په افندي اغا مشهور و، په ۱۳۹۵هـ ق کال وفات شو.))

د پیرصیب کورنۍ د قادریه طریقې پیروان دي، شیخ عبدالقادر ګیلاني ددې طریقې مشر او مؤسس او په همدې نوم یې شهرت موندلی چې تر دې زمانې پورې رارسېدلی، د شیخ عبدالقادر ګیلاني د طریقې له مشهورو مریدانو څخه یو هم د هډې اخندزاده دی چې په نجم الدین اخندزاده مشهور دی.

**۱۲. سلطان بابا زیارت:**

سلطان بابا چې اصلي نوم یې سلطان شیرسرخ ولي دی او په سلطان بابا مشهور دی، د زوکړې په اړه یې کره معلومات نشته،خو د سره رود ولسوالۍ د تور غره په لمنه کې یې زیارت موقعیت لري.

ویل کېږي چې سلطان بابا له بخارا نه افغانستان ته د جهاد لپاره راغلی و چې هغه مهال په افغانستان کې د کفارو دوې سرلښکرې وې چې یوه یې امرخیل

او بل يې شېرکوټ نومېده او په همدې نومونو اوس هم دوه کلي په سره رود ولسوالۍ کې شته، د امرخېلو کلی د سلطان بابا مزار نه ښکته د کانال نهر په خواکې پروت دی او دشېرکوټ يوه غونډۍ ده چې د شمسه پور د کلي په برابرۍ په تور غره کې پرته ده چې اوس هم په دغه غونډۍ کې تاريخي اثار شته، لکه د تېرو سنگکاري او ځينې نور لرغوني اثار خلکو موندلي دي.

**١٣. احمد دشت غازي:**

د امده دشت غازي (احمد دشت) غازي چې په غازي بابا مشهور دی چې د سيدالياس پهلوان بابا زوی او سلطان شير سرخ ولي لمسی- دی، دی هم د خپل پلار او نيکه سره بخارا نه افغانستان ته د جهاد په موخه راغلی و، لا د ځوانۍ مرحلې ته نه و رسېدلی چې د شېرکوټ د لښکر سره جنگېده چې بالاخره همدلته شهيد شو، او دوصيت سره سم هملته د شېرکوټ غونډۍ لاندې ښخ شوی دی.

د غازي بابا زيارت ته هم خلک د باد او گوزڼ ناروغان راوړي، شپې او ورځې پکې تېروي او څوک چې پيران ولري،نو حاضرات پرې کوي.

سرمحقق عبدالله بختانی خدمتگار د غازي بابا په اړه وايي:((د امده دشت غازي مزار د تور غر د لمنې په دشته کې دی، د غازي په مزار کې د اختر او نوي کال په شپو ورځو کې ځانگړې مېلې کېدلې، خو اوس دغه ميلې يو څه کم رنگه شوي دي.))

**١٤. حضرت لوط پيغمبر:**

د لوط پيغمبر مزار د سره رود ولسوالۍ اړوند د گټه پور کلي شمال خواته د تور غره په لمنو کې موقعيت لري، په دې ځای کې نور قبرونه هم شته خو درې قبرونه له نورو وړاندې او جلا دي چې يو پکې د لوط پيغمبر مزار دی، خوا کې د خوربي بي قبر او درېيم د شاتر بابا قبر دی.

د گټه پور کلي اوسېدونکي ددې زيارت په اړه بيلابيلې نظريې لري، د ځينو

په وینا، دوی داسې هم اورېدلي چې لـوط پېغمـبر دلتـه راغـلی و چـې پـه جنګ کې یې لاس ټپي شو، بیرته له دې ځای ولاړ او د قبر په اړه یې څوک نه پوهېږي. خو ځینې بیا وایي چې همدلته شهید شوی او همدا یې مزار دی.
د لوط پېغمبر د زیارت ترڅنګ یوه خاورینه غونډۍ ده چې خاوره یـې سره ده او د ډېر لیرې ځایونو څخـه ورتـه کـولالان راځـي او دغـه سره خـاوره د ختینو لوښو د جوړولو لپاره وړي. ځایي اوسېدونکي په دې باور دي چې په دې خاوره د حضرت لوط پېغمبر دلاس وینې تویې شوي دي، نو ځکه یـې رنګ سور دی.
دې زیارت ته خلک ورځي، دعاګانې کوي خو د کومې ټاکلې ناروغۍ لپاره څه دم او دعا نه لري چې خلک پرې عقیده ولري خـو ځینـې ښـځې بیـا لـه کوره دده تر مزاره لوڅې پښې ورځي، او دا فال نیسي چې په دې طریقه یـې الله د لوط پېغمبر په خاطر سوالونه قبلوي.
استاد سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار د حضرت لوط پېغمبر د مزار په اړه وایي:
((د تورغر په لمن کې د لوط پېغمبر مـزار دی چـې دنومـوړي نـوم پـه قـران کریم کې هم راغلی، دا نوم عربي دی نو داسې اټکل کېږي چې دی د عربو څخه دی خو ددې زیارت په تړاو داسې کوم روایات نشته چې ډېرو خلکـو منلي وي.))
همداراز کتاب خان فیضي د علومو اکاډمۍ د لرغون پېژندنې څانګې غړی د ننګرهار د لرغونو سیمو په اړه په خپل علمي راپور کې لیکي: ((د امرخېلـو د هستوګې د سرک په لاره شمال لوري ته یو کیلو متر وړاندې د درې پـه مـنځ کې د لوط پېغمبر زیارت واقع دی، چې شمال ته یې تور غر، جنوب ته یـې د پاپین کاکوخیلو خوړ،ختیځ ته یې د شمشـپور او غـرب تـه یـې د پـاپین د کاکوخېلو کلی پروت دی.

دغه زیارت د ختيځ څخه د لویدیځ په لور پروت دی، چې تقریباً (۳۷) متره اوږدوالی او (۳) متره سور لري، چې لوړوالی تقریباً (۱،۵) مترو ته رسېږي او د تعمیراتي ډبرو (غرنۍ او بحري) څخه په غیر منظم ډول جوړ دی. دغه زیارت د ځايي اوسېدونکو لپاره ډېر ارزښت لري او په ځانګړو ورځو کې په دغه زیارت کې خیراتونه کوي، د لوط پیغمبر د مقبرې په جنوبي برخه کې لږه وړه یوه بله مقبره هم شته چې د خلکو په عقیده د لوط پیغمبر د خور قبر دی.))

د بختاني صیب په وینا په سره رود ولسوالۍ کې ډېر داسې زیارتونه شته چې تر اوسه نه دي سپړل شوي چې دا څوك او له کومه ځایه راغلي دي خو که حالت ښه شو نو ځوانان دې دا زیارتونه یو یو راوپېژني، تر څو راتلونکي نسلونو ته معرفي شي.

**۱۵. د زیدعلي پاچا زیارت:**

د زیدعلي پاچا مزار د سره رود ولسوالۍ اړوند په بر سلطانپور کې د سره رود په غاړه موقعیت لري، دنوموړي په اړه ویل کېږي چې دی دسخي صیب کشر زوی و، د خپل پلار سره یو ځای د اسلام د خپرولو لپاره راغلی و، ویل کېږي چې دی هم د کفارو سره په جګړه کې شهید شوی. د قبر اندازه یې تر (۹) مترو پورې اوږدوالی لری، دلته یوه لوړه پایه هم شته چې پخوا به د نوي کال په شپو او ورځو کې دلته میلې هم کېدې، خو اوس د ناامنیو له وجې میلې پکې نه کېږي، خو خلك ورته په انفرادي ډول راځي. ددې زیارت په اړه نور روایات دخلکو ترمنځ نشته. خو سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار وايي: ((د زید علي صیب مزار د بر سلطانپور په بر سر کې د سره رود په غاړه په داسې ځای کې دی چې د رود نه سړی تېر شي، نو شمسپور کلی راځي او زیدعلي په اړه ویل کېږي چې د حضرت علي کرم الله وجهه سره اړیکي لري.))

**۱٦. د قندهاري بابا زيارت:**

د قندهاري بابا زيارت د سره رود ولسوالۍ اړوند د فتح اباد په کلي کې د بازار لويديځ ته د سره رود او خوږياڼيو عمومي لارې جنوب خواته د سړک په غاړه موقعيت لري، دده د ژوند په تړاو هم معلومات نشته خو ويل کېږي چې نوموړی د قندهار و، نو ځکه يې قندهارى تخلص کاوه.

**۱۷. مبارک شاه اغا:**

د مبارک شاه اغا زيارت د چهار باغ صفا په کلي کې موقعيت لري، د نوموړي په اړه ويل کېږي، چې دى يو ښه او په عاميانه اصطلاح رسېدلى سړی و چې خلکو ورته عقيده هم درلوده، د ځايي خلکو په وينا دی له پورته نه د سرخاب په سيند کې راغلی او دلته په چهارباغ صفا کې يې مړی موندل شوی دی، او بيا همدلته پخواني ښار نه چې راوځي ښخ دی چې ترڅنګ يې يو مسجد هم دی.



۱٦. انځور: د مبارک شاه آغا زيارت

د سره رود ولسوالۍ د پخواني ښار چهارباغ صفا يو تن اوسيدونکی عبدالجميل چې (٥٤) کاله عمر لري، وايي چې نيکونو يې له يو نسل څخه

بل نسل ته د مبارک شاه اغا په اړه کيسې کړي او تر دوی راسېدلي دي، وايي چې په يوه زمانه کې په دې خوړ کې اوبه راتلې چې اوسني خوړونه يې په نيمه برخه کې هم نه راځي، خلک به يې سيل ته راتلل، يوه ورځ همداسې خوړ راغلی و چې د کلي ټول خلک ورته راوتلي و، نو په دې وخت کې د پورته څخه اوبو يوه ځانګو را په مخه کړې وه چې د اصلي ځای پته يې معلومه نه شوه، په دې ځانګو کې يو ماشوم و چې مړ شوی و، بيا خلکو په همدې ځای کې ښخ کړ او د مبارک شاه اغا نوم يې وکړ چې تر ننه په همدې نوم يادېږي.

دغه زيارت ته د ډېر ليرې ځايونو خلک راځي، د بېلابېلو ناروغيو لپاره دعا او مراد غواړي، د ځايي خلکو په وينا دغه زيارت ته اکثره د ستوني درد، کله پونډۍ (بوغوټې)، تورزيږي او ګڼو نورو ناروغيو ناروغان د درملنې لپاره راځي.

ددې سيمې يو تن اوسېدونکی عبدالجميل وايي چې له نن څخه شاوخوا (٤٢) کاله وړاندې يوه کېسه پېښه شوې وه چې دی هغه وخت دولس کلن و، وايي: ((پخوا دلته ډېر قوي سېلابونه راتلل چې يو مهال تر باران وروسته ډېر سخت سيلاب راغی چې د ډېرو ځايونو څخه ورته خلک د سېل لپاره راغلل، او يا هم که چېرته کوم اوبو وړی يې راوړی وي چې دوی يې مرسته وکړي چې په همدې مهال د پيرصيب د باغونو له لورې يو خيبر (خرس) اوبو په مخه کړې و، دلته چې راغی د خدای (ج) په قدرت ځای په ځای ودرېده، خلکو ټوپکونه راوويستل چې ويې ولي، خو چې ويې ليده چې خرس خپلې مخکنۍ پښې د سلامي په دود مبارک شاه آغا ته پورته کړې نو مشرانو اجازه ورنکړه چې ډزې پرې وکړي، بيا دلته خلک وو هغوی دا پورته کړ، بلې خوا ته يې بوت او هلته يې مړ کړ.))

**۱۸. حضرت ضیا معصوم مجددي:**

له ډېر لیرې ځایه په چهار باغ صفا کې یوه لوړه او ښکلې ګنبده ښکاري چې دغه ګنبده د حضرت ضیا معصوم مجددي او د هغه دمېرمنې او زوی غلام قادر مجددي چې په شهزاده جان اغا مشهور دی، زیارتونه دي. د زیارت مخې ته یو لوی جامع مسجد دی او دهغې مخکې او جنوب خواته د ګلونو او مېوو یو باغ دی.

په چهارباغ صفا کې د حضرت صاحبانو دغه لړۍ روانه ده او د وخت په غېږه کې یې وتلې څېرې رالوی شوي دي. په اوسني وخت کې هم د حضرت صاحب د باغ او زیارت د نومونو په اورېدو سره د خلکو ذهن ته د یو فضیلت څېره درېږي. حضرت صیب د قادریه طریقې مرشد او پیرو و. حضرت صیب ته د هډې اخندزاده صاحب لخوا د قادریه طریقې اجازه وه او د مشر ورور لخوا یې ورته د نقشبندیه طریقې اجازه ورکړل شوې وه.

د حضرت صیب په اړه داسې ویل کېږي چې نوموړی د بغداد څخه افغانستان ته راغلی او د سره رود په ولسوالۍ کې مېشت شوی دی او نوموړی د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د اولادې څخه دی.



۱۷. انځور: د حضرت ضیاء معصوم مجددي زیارت

استاد لعل پاچا ازمون په خپله مقاله کې د چې داتحاد مشرقي مجله کې نشر شوې، ليکي: ((ضياء معصوم قبر په گنبده کې دننه دی، دده پر سپينې اوږدې شناختې پېژندنه ليکل شوې ده، حضرت ضياء معصوم مجددي د حضرت عطاءمعصوم مجددي زوی دی، حضرت عطاء معصوم مجددي پر ضياء سربېره څلور نور زامن هم درلودل، چې نومونه يې دادي: حضرت غلام جيلاني مجددي، حضرت امين جان مجددي، حضرت شعورجان مجددي او حضرت نظام مجددي.))(۳: ۱۲)

د سره رود ولسوالۍ چهارباغ صفا کلي يو تن اوسېدونکی خواجه فرهاد يې په اړه وايي: ((حضرت صيب د هډې اخوندزاده صيب سره يو ځای دانگريزانو په مقابل کې جهاد کړی، حضرت صيب يو له هغه روحاني او علمي شخصيتونو څخه و چې د وخت پاچا اميرحبيب الله خان يې مريد و او چهارباغ کلا ته د پيرصيب زيارت کولو ته به راتلو. کله به چې اميرحبيب الله خان چهارباغ کلا ته داخل شو نو له اس څخه به ښکته شو او په پښو به د حضرت صيب پورې تللو، د بېرته تگ پر مهال به چې تر کومه ځايه د حضرت صيب مزار ښکارېده، تر هغې ځايه به په شا تلو. د حضرت صيب عقيدتمندان ډېر دي، خو په وروستيو کې بيا د وخت امير نادرخان فرمان صادر کړي چې دوی دې له هېواده ووځي، هماغه و چې پيرصيب کورنۍ له سره رود نه د پاکستان لاهور ته لاړه چې اوس يې هم هلته دکورنۍ غړي او زامن شته.))

خواجه فرهاد زياتوي: ((هغه مهال چې روسانو پر افغانستان يرغل وکړ او دلته يې ناتار جوړ کړ نو د حضرت صيب پر مزار يې هم څو ځلې هوايي بريدونه وکړل،خو دا چې نوموړی يو روحاني شخصيت او د کرامت څښتن و، نو هيڅ ډول زيان يې ورته ونه رساوه. د حضرت صيب مزار شاوخوا چې کومه ښکلې گنبده جوړه شوې، پکې به قاريان ناست و او تهوله ورځ يې

نورو ته درس وایه، خو هغه مهال چې روسانو پر دوی یو بـم وغورځـاوه،نو یو قاري پکې شهید شو چې بیـا همداسـې دغـه درس پـاتې شـو او قاریـان لاړل.))

ځینې خلك وایي چې د حضرت صیب مزار امیرحبیب الله خان جوړ کړی، دا چې څنګه یې جوړ کړی د چهار باغ صفا کلي اوسېدونکی خواجه فرهـاد یې په اړه وایي: ((د حضرت صیب مزار امیر حبیب اللـه خـان چـې دوخـت پاچا و، په خپل لګښت جوړ کړی، خښتې یې ورته راوړي او دلته یـې ورتـه بټۍ جوړه کړه، د مزار ترڅنګ به یې خښتې پخولې او بیا بـه یـې کـار کولـو چې د خښتو په جوړولو کې یې د چرګـې د هګیـو څخـه هـم کـار اخیسـتل شوی دی. پر مزار یې کاریګرو شپه او ورځ کار کاوه.))

د حضرت صیب مزار ته اوس هم د هېواد له بېلابېلو ولایتونو خلك راځـي، او زیارت یې کوي، په دې مانا چې اوس یې هم عقیدتمندان په هېـواد کـې شته.



۱۸. انځور: د حضرت ضیآء معصوم مجددي مقبره

د حضرت صیب ضیامعصوم د مزار منجاور محمدربي چې (۵٤) کالـه عمـر لري وایي: ((حضرت صیب د حضرت عمر فاروق AA د اولادې څخه دی،

دده دوه زامن و چې یو یې شهزاده جان آغا نومیده او بل یې میاجي جان آغا وه. یو زوی او مېرمن یې د حضرت صیب د مزار ترڅنګ ښخ دي او یو زوی یې په لاهور کې دی.))

د نومووړي په وینا د دوی نیکونو د حضرت صیب د مزار پالنه کوله او دا سلسله همداسې پاتې ده، تر اوسه پورې چې اوس یې دی پالنه کوي.

نوموړی وایي چې (۱۱۰) کاله کیږي چې دا ګنبده په دې مزار جوړه ده، او له تېرو (۱٦) کالونو د دوی په څمکو کې زه کروندګر یم.

**۱۹. خلیفه بابا:**

د سره رود ولسوالۍ عمومي لارې څخه کیڼ لوري ته یوه بله لار ګرځېدلې ده چې د جلال اباد د پخواني ښار چهارباغ لاره ده، بیا د پخواني ښار په منځ کې یوه بله لار پورته لورې ته تللې ده، وړاندې د سیاسنګ سره په خوا کې د یوې دښتې منځ کې د یوې نسبتاً لوړې غونډۍ پر سر په یوه چاردیوالۍ کې دننه مقبره ده چې خلک یې خلیفه بابا بولي. د ځایي خلکو په وینا دا یو روحاني او رسېدلی شخصیت دی چې د خواجه عبدالله انصاري کورنۍ ته منسوبیږي.

خواجه فرهاد الله چې ددې سیمې اوسېدونکی او (٤١) کاله عمر لري، وایي چې دوی هم د خلیفه بابا د کورنۍ او یا ټبر پورې تړلي دي، دنوموړي په وینا چې خلیفه بابا د خواجه عبدالله انصاري د کورنۍ څخه دی چې هغه په هرات کې زیږېدلی دی. خلیفه بابا دوه زامن درلودل چې یو یې صوفي جي صیب او بل یې صوفي میرجي صیب دی.

د خواجه فرهاد په وینا چې پلرونه یې ورته کیسه کړې چې د خلیفه بابا په چارباغ کې یوه پیرخانه وه چې پیلان به یې د لوخو پورې په دوو تارونو باندې تړل او فیل به بیا قدرت نه درلود چې ځان خلاص کړي.

د خلیفه د مقبرې ترڅنګ یې دواړه ځامن او یو یې ساتونکی چې ډېر لوی قبر یې دی، ښخ شوي دي. د خواجه فرهاد په خبره چې د خلیفه د قبر سرته

دالان کې د غومبسو لويه ځاله ده؛ خو د چېچلو اجازه ورته نشته چې څوک دې وچيچي.



۱۹. انځور: د خليفه بابا زيارت

عبدالقيوم چې (٥٤) کاله عمر لري او د همدې کلي اوسېدونکی دی، د خپلو سترګو ليدلی حال راته داسې بيان کړ: ((هغه مهال چې هېواد ته روسان راغلل نو د خليفه بابا مزار لاندې يوه لويه وياله ده چې اوبه پکې بهېږي، هغه وخت زياتې اوبه وې، خو اوس پکې کمې دي او يا هم کله هيڅ اوبه پکې نه وي،نو روسانو غوښتل چې د کوم هدف لپاره مزار ته راشي،خو چې کله دې ويالې خواته راورسېدل، نو چې څومره هڅه يې وکړه چې له ويالې واوړي خو بريالي نشول، بلکې د خليفه بابا په مزار کې غومبسې وې، د روسانو پسې راووتلې او هغوی يې له دې ځايه په منډه کړل.))
يو بل روايت داسې هم شته چې کله به کوم ناروغ مياعلي بابا ته ورغی،نو هغه به ورته ويل چې خليفه بابا ته ورشي، که ښه نه شو، نو بيا ماته راشئ، دی دومره روحاني شخصيت وه چې دې زيارت ته ليونيان، د سترګو درد لرونکي، د عصبي تکليف لرونکي او باد ناروغان راتلل او دالله (ج) په فضل به ښه کېدل.

د چهارباغ صفا خانانو کلي یو تن اوسیدنکی (۶۵) کلن عبدالقدیر خان د خلیفه بابا په تړاو خپل د سترګو لیدلی حال راته وایي:
((زما مشر زوی چې هیڅ په ځان نه و، پوره لیونی و، هیڅ یې نه پېژندل، همداسې ګډوډ و، یوه ورځ راته چا وویل چې خلیفه بابا ته یې یوسئ، زه هم لاړم خلیفه بابا زیارت ته چې زموږ د کورونو څخه وړاندې یې مزار دی. څو شپې مې هلته تېرې کړې، یوه شپه چې ویده وم، زوی مې راباندې غږ وکړ چې پاسه پلاره چې بابا وایي لاړ شئ، زه چې پاڅېدم، ما ویل ولې؟ ویې ویل چې ما په خاورو کې ګوتې وهلې، زما په مخ کې یې د خاورې ډېرې اچولې وي نو ما ته یې وویل چې تاسې نور لاړ شئ. په دې شپه ما هم خوب ولیده چې کله بېرته راغلو نو اوس مې زوی ښه دی، میلمه ته راوځي، خبرې ښې کوي، کار کوي، اوس بیخي ښه دی.))
د خلیفه بابا د منجاور داده ګل چې اوس د ناروغۍ په بستر پروت دی، مېرمنه یې چې ددې زیارت پالنه کوي دې وایي چې دا زیارت دلته پنځه سوه کاله وړاندې جوړ شوی دی وایي: ((دلته په سره رود او شاوخوا سیمو کې چې کوم زیارتونه تاسې ګورئ او لیدلي مو دي، دایې مشر او خلیفه دی. خوا کې یې ساتونکي یا بالکه یې ښخ دی، زما د مېړه د پلار او نیکونو نه موږ دلته یو او د دوی مزار پالنه کوو او دا ډېر رسېدلی سړی او ولي و.



۲۰. انځور: د خلیفه بابا زیارت

لیونیان د شپې راشي نو سهار روغ رمټ ځي. دې وایي چې یو مهال دلته یو څوکسه راغلي و، د ورځې یې عکسونه وویستل، د شپې پسې راغلل چې ویې سپړي چې لږ یې راسپړلی و، نو لاس یې پرې شوی و نو هغه هرڅه یې پرېښي وو او همداسې تښتېدلي و چې دا کرامات و او ویې نشو کړی چې قبر یې وسپړي، دا یې ځکه سپړلو چې کیدای شي پکې څه وي. دشپې لـه خوا چې لیونیان راشي ،نو موږ ورته زولنې اچوو او دلته یـې د شـپې سـاتو، سهار لیونیان خپله پاڅېږي، لمونځ کوي او په خپله لاره ځي او چې څـومره یې خوښه وي نو موږ ته شکرانه راکوي.

**۲۰. شهید حاجي صیب مزار:**

د شهید حاجي صـیب مـزار د سره رود ولسـوالۍ اړونـد د چهارباغ صـفا نـه پورته د حاجي صاحبانو کلي له عمومي سړك نه شاته او شـاوخوا سـل مـتره وړاندې دننه په کلي کې دی چې یوه چاردیوالي ترې تاوه ده.

سیدمحمدصاحب چې په تا معمور مشهور و، د شهادت نه وروسته په شـهید حاجي صیب شـهرت وموند چـې مـزار یـې د ننګرهـا رولایـت پـه سره رود ولسوالۍ کې د حاجي صاحبانو د کلي په هدیره کې دی اوس یې هم زیـات شمېر وګړي زیارت ته ورځي.



۲۱. انځور: د شهید حاجي صیب مزار

قاضي فضل غني کامه وال او سیدفضل مولا لټون په خپل (حاجي محمدسعید لاهوری او اولاده يې) نومي کتاب کې د حاجي صیب شهید په تړاو وایي: ((شهید حاجي صیب (سیدمحمدحاجي صیب) د انګلیسي- استعمار په مقابل کې د افغانانو د ازادۍ په جنګونو کې په شهادت رسېدلی دی، کیدای شي دا د افغان انګلیس وروستني جنګونه وي چې نولسمې عیسوي پیړۍ له وروستنۍ نیمایي نه پیل شوي او د شلمې عیسوي پیړۍ په پیل کې پای ته رسېدلي دي. سیدمحمدتاج معمور دخپل وخت صاحب کرامت ولي و او زیات عقیدتمندان يې درلودل. حاجي سیدمحمد تاج معمور د صاحب بزرګوار پلار نوم سیدعبدالله و، که څه هم د عبدالله نوم د نبوي احادیثو له مخې الله (ج) ته محبوب نوم دی او اکثره مسلمانان يې د نبوي سنتو د تعمیل په خاطر په خپلو اولادونو ږدي،خو زموږ په لاهوري ساداتو کې د سیدعبدالله بختور نومونه له دې امله زیات لیدل کیږي چې دا د حضرت محمدسعید لاهوري د مشر ورور او د حافظ سید رحمت الله صاحب او حافظ سیدعبدالحکیم صاحب د محترم پلار نوم و چې لاهوري ساداتو نسبي نیکه کیږي. د سیدعبدالله صاحب د پلار نوم سیدعنایت الله و، هماغه عنایت الله صیب دی چې کله د تیمورشاه ابدالي د سلطنت زمانه کې په کال ۱۷۸۶م کې د پنجاب په ایالت کې سکانو د تیمور شاه له سلطنت نه بغاوت وکړ او د پنجاب په بېلابېلو ښارونو لکه لاهور، ملتان، امرتسر- او نورو کې يې مسلمانانو ته او په ځانګړي توګه د ابدالي حکومت پلویانو ته سخت زیانونه ورسول او مرګ ژوبله يې ترې وکړه، په هغو کې د احمدشاه بابا د پیر (پیر افغانان حضرت محمدسعید لاهوری) اولاده هم شامله وه.))(۱۹: ۹۶-۹۷)

د شهید بابا د زیارت په تړاو د ننګرهار پوهنتون استاد پوهاند سیداحمدفاطمي وایي چې شهید بابا د دوی نیکه دی. استاد فاطمي

زياتوي: ((دا زموږ په کلي کې ښخ دی، نورو زيارتونو ته خلک د ځينو خرافاتو، ناروغيو او دعاګانو غوښتلو لپاره ورځي خو موږ دلته خلک له دې خرافاتو منع کړي دي. د شهيد حاجي صيب کورنۍ ډېره لويه ده، اوس هم ورته له ليرې ځايونو خلک راځي، دعا ورته کوي او بس. زيارت تر اوسه پورې هم ودان دی.))

**۲۱. پيرمکان زيارت:**

په برککړک کې پيرمکان بابا مزار دی
څه ښکلی ننګرهار دی، ديدن ته يې ورځمه

(د دې پورته مصرې شاعر معلومات مې ونه موند خو له ولسي ـ خلکو مې اوريدلي)

د پير مکان زيارت د سره رود ولسوالۍ اړوند برککړک کلي د غره په لمنه کې موقعيت لري، پيرۍ وړاندې دا مزار په ککړک کې ليدل شوی، ددې ځای اوسېدونکي د دې زيارت په اړه بېلابېل نظرونه لري. ددې سيمې يو تن اوسېدونکی (۵۰) کلن محمداجان د پيرمکان زيارت په تړاو وايي: ((په سره رود کې خو زيارتونه زيات دې، همدومره ورته خلک عقيدتمند هم دي چې په دې زيارتونو کې يو هم د پيرمکان زيارت دی چې زموږ په کلي کې دی او خلک ورته ډېره عقيده لري. کله به چې د چا غوږونه په درد شول، نو دې زيارت ته به يې راوست، الله تعالی به شفا ورکړه، اوس هم ورته د شاوخوا کليو څخه خلک راځي.))

د ککړک سيمې يو بل ځوان ليکوال فريداحمداکاخېل وايي: ((که ووايو چې ټول سرخرود د تاريخي ابداتو کور دی؛ مبالغه به نه وي. په هر کلي او ګودر کې يو تاريخي يادګار شته دی چې يو يې هم همدا د پير مکان زيارت دی، زه چې ماشوم وم،نو ددې زيارت په تړاو مې ډېرې خبرې اوريدلې وې، ويل کېدل چې نوموړی په جهاد کې شهيد شوی او بيا يې همدلته ښخ

کړی، اوس هم خلـك پـه دې بـاور دي چـې دا د خـدای تعـالی ولي و.))
ددغه زیارت په تړاو نور زیات معلومات په لاس کې نشته.

**۲۲. د پیر فقیر زیارت:**

د پیرفقیر زیارت هم د سره رود ولسوالۍ اړوند د ککـړك قریـې د نـاصرو او ګزك کلي ترمنځ په یوه دښته کې موقعیت لري، د قومي سپین ږیرو پـه وینـا دغه ځای هم پیړۍ پیړۍ مخکې تاریخي شالید لري. دغه زیارت ته هـم پـه پخوا زمانو کې خلکو ډېره کلکه عقیده درلود، د عقیدې په اړه یې د نبـو اکـا کلي یو سپین ږیری حاجي صاحب میاجان وایي: ((نوموړي زیار تـه خلکـو هغه څاروي د تداوۍ لپاره راوستل چې د تبك ناروغۍ به نیولي و، او ددې طریقه داسې وه چې خلکو به خپل څاروي درې ځلې له زیارت څخه چاپیر تاوول، له درې ځلې تاوولو څخه وروسته په څاروي ښه کېدل.))

**۲۳. پیر سبزولي بابا زیارت:**

د پیرسبزولي بابا زیارت د سره رود ولسوالۍ اړوند د بړینې سیمې پـه زیـارت کلي کې موقعیت لـري، دغـه زیـارت تـه ډېـر خلـك عقیدتمنـد دي، ددې سیمې د سپین ږیرو په وینا پیر سبزولي بابا زیارت د شنې ټوخلې د ښه کېدو زیارت وو. د سره رود ولسوالۍ د منصور کلي اوسېدونکي (٤٠) کلن رضوان الله د نوموړي زیارت په اړه وایي: ((د پیر سبزولي بابـا زیـارت تـه مـې یـوه ورځ خپل کشر ورو، چې د شنې ټـوخلې مریضي-یـې درلـوده وروسـت او هلته مې په زیارت کې د قبر خواته د څه وخت لپاره کښېناوه، وروسـته مـې راپورته کړ او بیرته مې راوست، کورته پـه رارسـېدو سره د خـدای تعـالی پـه حکم روغ رمټ شو. طریقه یې داسې وه چې مریض به د زیارت پـه داخـل کې د قبر خواته د څه وخت لپاره کینول کېده، وروسته بـه کورتـه وړل کېـده چې د الله تعالی په حکم به روغ او جوړ شو.))

**۲٤. شاولي بابا زيارت:**

د شاه ولي بابا زيارت د ککړك قريې په منصور کلي کې موقعيت لري، پخوا دغه زيارت ته ډېرو خلکو عقيده په سترګه کتل او له ليرې ليرې ځايونو څخه به خلك دغه زيارت ته راتلل.

ځايي خلك وايي چې دا څلور ورونه وو، پيړۍ وړاندې په همدې سيمه کې يې له انګريزانو سره په جهاد کې شهيدان شوي دي، ويل کېږي چې دې زيارت ته ډېرى د ملاريا او ملا درد ناروغان راتلل. د سره رود ولسوالۍ د ککړك قريې منصور کلي اوسېدونکی (٤٥) کلن رحيم الله ددې زيارت په تړاو وايي: ((دغاه زيارت ته به خلکو پخوا هغه مريضان راوستل چې هغه به د ملاريا ناروغي يا دپخوانيو خلکو په وينا د زيړه کې ناروغي درلوده، کله به چې زيارت ته راغی نو زيارت به يې وکړ او د الله تعالی په حکم سره به ښه کېدل.))

**۲۵. د شيخ نيکه زيارت:**

د شېخ نيکه زيارت د کابل جلال اباد سرك په ښې لوري د تورغر په لمنه کې د بېمارانو په کلي کې موقعيت لري. د بېمارانو کلي اوسېدونکي وايي چې دا يو ديني عالم او همدلته يې تدريس کولو.

د بېمارانو کلي اوسېدونکی ۴۵ کلن عبدالمجيد چې په ونه دنګ او خړ رنګ يې دی د شېخ نيکه زيارت په تړاو وايي:

شيخ صيب يو روحاني شخصيت دی چې په اووم پښت کې زموږ نيکه هم راځي له انقلابه وړاندې د شيخ صيب زيارت په شا اوخوا کې ګڼې وني او بوټي وي چې دا له هغه وخته دلته پاتي و چې کله شيخ صيب دلته تدريس کولو نيکونو نه مو دا کيسه موږ ته راپاتې ده چې شيخ صيب تر ټولو زيات له طالب عالمانو سره ډېره مينه کوله حتا چې ډوډۍ يې هم خپله ورکوله او تدريس يې هم ورته کاوه.

ښاغلی مجید پسې زیاتوي: زما پلار کیسه کوله، چې شیخ صیب د مړینې نږدې دوه سوه کاله کېږي. شیخ صیب اصلي د کندهار له سپین بولدک سره تړاو لري چې له هغه ځایه میدان وردګو جلریز ولسوالۍ ته راغلی او بیا د سره رود ولسوالۍ هجرت کلي د تورغر په لمنه کې یې استوګنه غوره کړې.

شیخ نیکه یو متدین شخص و او د خپل عبادت لپاره یې همدا سیمه چې اوس د بیماران په نوم یادیږي غوره کړې، دلته به یې د خدای عبادت کولو.

د هجرت کلي اوسېدونکی شپیته کلن حاجي محمد شریف وایي چې شیخ نیکه د احمدهجرت په اووم پښت کې راځي، شیخ نیکه زیارت ته د نورو زیارتونو په څېر ناروغان راځي او دم دعا غواړي. د ستونې درد او کله پوندهو نارغانو به چې د دې زیارت د نغري تورې ایرې په هماغه ځای کي ووهلې په کوم ځای به چې دغه ناروغي وه؛ نو خدای به ناروغ باندې رحم وکړ او تر دریو ورځو پورې به د ناروغانو په وجود کې تغیر ات راتلل.

### ۲٦. د سرې مخې چینه:

د سرې مخې چینه چې یو تاریخي ځای دی د کلتها او باندهې کلو ترمنځ موقعیت لري، ځایي خلک یې په اړه داسې روایات لري چې پخوا به هغه خلک چې بخار وړباندې راوخته نو دغې چینې ته به تلل او هلته به یې په اوبو باندې لامبل یا ځانونه مینځل او د الله تعالی په حکم به یې بخار ښه کېده.

### ۲۷. پخوانۍ سمڅې:

دغه څمڅې د نبو کلي ته څېرمه په تورغر کې موقعیت لري، دغه سمڅې چې تقریباً ډېر تاریخي قدامت لري، نوموړې څمڅې د کوټې په څېر جوړښت لري چې داوسېدو زیات ضروري شیان لکه نغري، تنور او داسې نور ځایونه پکې جوړ شوي دي.

د نبو اکا کلي یو سپین ږیري حاجي صاحب محمداجان یې په اړه داسې

وايي: ((دغه سمڅې د انګريزانو له وخت پاتې دي، هغوی دغه سـمڅې پـه پرمختللو وسايلو باندې جوړې کړي دي، پدې سـمڅو کـې د ختينـو لوښـو ځينې ماتې برخې هم ليدل شوي دي.))

البته دغه سمڅې د غازي امان الله خـان د دورې انګريزانـو نـه دي جـوړې کړي، بلکې له هغوی څخه پخوانيو انګريزانو جوړې کړي.

## د سره رود ولسوالۍ دودونه

په پښتو- پښتو تشريحي قاموس په درېيم ټوك كې د دود كلمه داسې تشريح شوې ده: (۱-رسم، رواج، دستور، عنعنه، تـړه، ۲-هڅـوب، كلچـر، ثقافـت، فرهنګ.

خط وخال په ښه جمال بانـدې يـو دود دى
نـه چــې حســن د خوبــان پــه دا مزيــد شــو

دلته د دود كلمه په لومړى مانا يعنې د رسم او رواج په مفهوم كلمه اسـتعمال شوې ده. دويمه معنى يې د بحث وړ ښكاري ځكه چې د كولتور مفهوم ډېر پراخ دى او په هغه كې د ټولنې ټول مادي او معنوي ارزښـتونه او د هغـوى د ايجاداتو په كار اچولو، انتقالولو وسـيلې چـې د تـاريخ پـه بهـير كـې منځتـه راغلي دي تر مطالعې لاندې نېول كېږي. دود د كولتور يـو تـوك دى او پـه اصطلاح كې د چلند بېلګو (Behavior Patterns) هغې مجموعې تـه ويـل كېږي چې په عنعنوي بڼه له يوه نسل څخه بل نسل ته انتقـالېږي او د فـردي نامنظم چلند څخه توپير لري، خو د ځينو ټولنپوهانو په اصطلاح فولكلـور د خلكو له كولتور سره مترادف او يو شانته وګڼو نو دود د خلكو د كولتـور پـر يوه توك اطلاق كېږي. ټول كولتور هڅوب نه احتوا كوي، دود د چلند هغـه ثابت قواعد او ضوابط دي چې د زمانې په اوږدو كې تشكيل شوي او په يوه يا بله ساحه كې د خلكو د ژوند لارې چارې تنظيمـوي لكـه دميلمـه پـالنې، واده، اخترونو او داسې نـور دودونـه. دودونـه د خلكـو د تـاريخ، اقتصـادي فعاليتونو، طبيعي، اقليمي شرايطو، ټولنيزې وضعې، مذهبي عقايدو او داسې نورو عواملو تر اغېز لاندې انكشاف كوي.(۱۲: ۷۸-۷۹)

افغانستان له نن څخه تر (۳۰۰۰) کاله دمخه د خاصو دودونو او رواجونو لرلو سره په نړۍ کې یو ځانګړی ځای لري او ددې خاورې اوسېدونکي له پېړیـو پېړیو څخه له مخه او حتی هغه زمانه چې افغاني اریایانو لا د یووالي او خپل جغرافیوي موقعیت د لرلو دمخه د خپل دود او دستور له یوه نسل څخـه بـل نسل پورې له خپلو پخوانیـو پلونـو قـدم ایښـودلی او لا هـم ځینـې پخـواني دودونه او رواجونه زموږ په ټولنه کې لیدل کېږي.

په افغاني ټولنه کې ډېر ښه لوړ او له ویاړه ډک دودونه شته چې افغانان پـرې ویاړي او د خپلو ښو دودونو ساتنه او درناوی کوي، خو ځینې ناوړه دودونـه او رواجونه هم شته چې دغو ناوړه دودونو لمن ورځ تر بلې په ټولېـدو ده او ټول افغانان په دې هڅه کې دي چې ددغو ناوړه دودونو او رواجونو ټغـر لـه خپلې ټولنې څخه راټول کړي او مخه ښه ورته ووایي.(۱۸: ٤)

سره رود ولسوالي هم ځانګړي دودونه لري، څکه دا هم یوه کولتوري ټولنـه ده چې دغه دودونه له پخوا راهیسې پدې ولسـوالۍ کـې پـاتې دي، دلتـه بـه ځینو ټولنیزو دودونو څخه یادونه وکړو.

## د جینۍ کور ته په مرکه ورتلل:

کله چې هلک د ځان لپاره د ژوند ملګرې (ښځه) خوښه کړي،نو که هلـک ځیرک وي مخامخ یې خپل پلار، مور یا ورور ته وایي او که ځیرکه نـه وي، نو بیا د ورور ښځې او یا خپلې خور ته وایي، په لومړي سر کـې یـې مـور او پلار داسې کوي چې د جینۍ له ډېرو نږدې خپلوانو سره ګوري په یوه بهانـه او بله بهانه د جینۍ کور او یا د جینۍ د ګاونډیانو کور ته ورځي او جینۍ لـه نږدې څخه ګوري، کله چې یې جینۍ خوښـه شي، نـو دوه یـا درې ورځـې وروسته د جینۍ کور ته په مرکه ورځي او جینۍ د مور او پلار څخـه د هغـې غوښتنه کوي دا ورتګ تر هغه وخته پورې کوي تر څو چې د جینـۍ د مـور

او پلار له خولې نه د هو او نه جواب واوري، کـه د نـه (انکـار) ځـواب یـې ورکړه نو بیا نه ورځي او که د هو ځواب یې ورکړه نو بیا بله شپه یو څو کسان له ځان سره بیایي او دهمدغه خلکو په مخ کې د جینۍ د پـلار سره د جینـۍ ورکولو خبره خلاصوي.
دا چې ناستو خلکو په مخ کې د جینۍ دورکولو خبره ښه پخه شي، د جینـۍ مور او پلار انکار ونه کړي او له بله پلوه دا چـې خپلـولي پـه راتلـونکي کـې خوږه پاتې شي، نو بیا ناسـتو خلکـو تـه د شـیرنۍ پاکټونـه وېشي ـ او ناسـت خلک شیریني خوري او د دواړو خواوو د خپلولۍ د ټینګښـت دعـا کـوي، خو ځینې خلک په دې هم تکیه نه کوي او د شاوخوا خلکو د خبرېدو او د خپلې لا زیاتې خوشالۍ او غوښتنې په اساس هوا ته د ټوپکو ډزې کوي تـر څو عام خلک هم پرې خبر شي، څرنګه چې دا دود پخوا ډېـر عـام و، خـو اوس په عام ډول نه خو په خاص ډول د ختمېدو په حال کې دی، یعنـې پـه سمه کې ختم او په غرییزو سیمو کې لا رواج لري.

## ګوږه ماتی:

کله چې جینۍ ورکړي، خبره خلاصه شي، نو د هلک پلار د خوږې یا ګوږه ماتي لپاره خپل ترتیبات نیسي او د هلک پلار د جینۍ د پلار په خوښـه سره د هغه په کور کې خوږه یا ګوږه ماتي کوي، د ګوږه ماتي او خوږې توپیر پـه دې کې دی چې په ګوږه ماتي کې عموماً شیریني پاکټونه وېشل کېږي او پـه خوږه کې یو یا دوه څاروي حلالېږي او خلکو ته ډوډۍ ورکول کېږي او بل توپیر یې دادی چې که خوږه وي نـو بیـا د مـازدیګر پـر مهـال خلکـو تـه د شیرنۍ پاکټونه ورکول کېږي، کله چې د خوږې یا ګوږه مـاتي مراسـم ختـم شي او مېلمانه خپلو کورونو ته ستانه شي نو هلک یعنې د جینۍ مېړه د خسر کور ته ورننوځي او په یو مناسب ځای کـې د خپلـو خپلوانـو او ملګـرو سره

کيني، ددې لپاره چې د هلك ښينه(د جينۍ خور) هلك تـه يـو څـه سـامان لکه جامې، څپلۍ، څادر، رانجه، هنداره، عطر او داسې نور شيان هم پکـې د تحفې په ډول ورکوي، خو هلك هم خپله ښينه هم همداسې تش لاس نه پرېږدي او يو څو روپۍ ورته ورکوي.

همدارنګه هلك له خپلوان او راغلي ملګري هم يـوه انـدازه روپـۍ د هلـك ښينې ته ورکوي، که رانجه يوازې دهلك ښينې نيولي وي،نو هغه روپۍ چې ورکړل شوي وي يوازې دهمدې حق کېږي او نور چا ته يې نه ورکوي او که بل کوم کس يعنې جينۍ ورسره شريکه وي نو بيا نوموړې روپۍ پخپل مـنځ کې نيمايي کوي.

## خوږه کونډۍ (خوږه کاسه):

ددې لپاره چې د دواړو کورنيو يعنې هلك او جينۍ د کورنيو د وګړو تـرمنځ تګ راتګ شروع شي، نو د لومړي ځل لپاره يو بل ته ډوډۍ ورکوي او هغه په دې ترتيب: لومړی د جينۍ د کور لـه خـوا د هلـك ټولـه کـورنۍ او نـور خپلوان د مېلمستيا لپاره غوښتل کېږي چې د جينۍ خاوند (مېـړه) هـم ورسره وي. کله چې د جينۍ کور ته ورشي نو د هلك ښـينه د دوی لپـاره خـواږې کړې شيدې راوړي او ټولو راغلو ميلمنو ته يو يو ګيلاس ورکـوي. دوی هـم کله چې شيدې وڅښي نو د شيدو په ګيلاسونو کې څـوك پنځـوس، څـوك سل او تر پنځه سوه کلدارو پورې روپۍ اچوي او دغه روپۍ د هلك ښـينې اخلي او بل چاته پکې حق نـه ورکـوي، پـه همـدې ترتيـب د شـيدو څخـه وروسته چای او بيا ډوډۍ خوري چې په همدې ورځ د هلك خپل خپلـوان د جينۍ د خپلو خپلوانو سره پېژني، يو او بل کور ته راتـګ شروع کېـږي او بل کور ته په ازاده توګه ورځي چې دې ته خوږه کاسه هم وايي.

همدارنګه کلـه چـې د هلـك د کـور وګـړي او نـور خپلـوان خپـل کـور تـه

راستنیږي،نو د جینۍ مور د هلک هغه خپلوانو ښځو ته چې هلته ورغلي وي یو یو ټکری ورکوي او په ډېر قدر او عزت سره یې کور ته رخصتوي، په سبا ورځ په همدې ډول د جنۍ د کور ټول خپل خپلوان دهلک کور ته راځـي، دوی هم لومړی ورته شیدې نیسي، کله چې د شیدو، چـای او ډوډۍ څخـه وروسته کورته ځي، نو ټولو ښځو ته یې ټیکري ورکوي.

## د اخترونو جوړه:

کله چې اخترونه لوی او که کوچنی رانـږدې شي، نـو د هلـک مـور او پـلار بازار ته ځي او د جینۍ لپاره جوړه اخلي چې په دې جوړه کـې د جینـۍ لـه جامو نېولې تر ټولو زینتي او سینګاري شیانو پورې اخـلي، ددې ترڅنـګ د جنۍ د کور ټول غړو او ځینې خپلوانو ته هم یو یو جـوړ جـامې اخـلي او د جنۍ کور ته یې وروړي، د جوړې وروړلو څخه یـوه ورځ مخکـې د هلـک مور دوه درې ښځې د استازي په توګه شاوخوا کورونو ته لیږي چې د جوړو استازي ورته وکړي او سبا د جوړو وروړلو په مراسمو کې له دوی سره ګډون وکړي.

کله چې د جوړو ورځ راورسیږي، ټولې ښځې د هلک کور ته ورځـي، یـوه مشهوره ښځه د جوړو بکس په سر کوي او له نـورو ښـځو څخـه مخکـې د سرکښ په ډول او نورې ښځې د چمبو وهلو سره یو ځای سندرې وایـي او د جینۍ کور ته ورځي، کله چې د جینۍ کور ته ورسیږي،نو هلته د څه ساعت د چمبو وهلو او د سندرو ویلو څخه وروسته هغه مشهوره ښـځه چـې جـوړه یې وروړې، د ټولو ښځو په منځ کې جوړې ښکاره کوي چې د هلک مور، خور او داسې نور خپلوان پرې روپۍ، چاکلیټ او داسې نور شیان شیندي او نورې ښځې یې په چکچکو بدرګه کوي.

د جوړو ښکاره کولو وروسته د هلک کور له خوا هغو ښځو ته چې لـه دوی

سره يې د جوړو په مراسمو کې ګډون کړی وي، يو څه اندازه وچه مېوه لکه: پلي، چارمغز، مميز او داسې نور شيان ورکوي چې له دې څخه وروسته ټولې ښځې خپلو کورونو ته ستنېږي.

## د واده پرېکون:

د جوړو د مراسمو د پای ته رسېدو وروسته د هلک کورنۍ د واده کولو لپاره داسې تصميم نيسي چې د هلک مور او پلار د جينۍ کور ته ورځي، چې د واده کولو نېټه ورسره وټاکي او په همدې وخت کې د ولور خبره هم ورسره کوي.

د سره رود ولسوالۍ پښتني دودونو اړوند سيمو کې د ولور اخيستلو معيار په عمومي ډول له نورو سيمو څخه کم دی؛ خو ځينې خلک داسې هم شته چې له خپلوانو څخه هيڅ ولور نه اخلي، د لور او خور د سر روپۍ اخيستل ورته يوه لويه ګناه ښکاري او ځينې يې په دې وجه نه اخلي چې په راتلونکي کې مې د لور او زوم ژوند خراب نه شي. په نوموړې ولسوالۍ کې د ولور اخيستنه ډېره نه ده، که شپيته زره افغانۍ ولور واخلي؛ نو د واده ټول سامان د جينۍ پلار کوي او که چيرته د جينۍ پلار د شپيته زره افغانيو څخه کم ولور واخلي، نو بيا د سامان يو لېست د هلک پلار ته ورکوي چې دا سامان بايد واخلي، لکه چې مخکې مو هم ورته اشاره وکړه چې ولور نه اخيستلو يو علت دا هم دی چې د جينۍ پلار فکر کوي، که زه ډېر ولور واخلم؛ نو کېدای شي چې له همدې وجې نه زما لور او زوم باندې فقر او غريبي راشي او راتلونکی ژوند يې له ستونزو سره مخامخ شي؛ خو ولې اوس خلک د علم په برکت په دې پوهېدلي دي، چې د خور او لور په سر پيسې اخيستل د اسلام له نظره يو حرام کار دی.

کله چې د هلک له پلار سره د ولور يا پرېکون خبره خلاصه کړي، نو د

جینۍ پلار یو څه شیان د هلك په پلار ږدي چې د جینکو نـارۍ هـم ورتـه وایي.

## د جینکو نارۍ:

د دود له مخې د جینګو نارۍ هغه خوراکي توکو او نورو ضروري شـیانو تـه ویل کېږي چې جینۍ د کور له خوا نه هلك په کور باندې ایښـودل کېـږي، لکه: یوه بورۍ بوره، یو من چای، یو من شیریني، یو من نکریـزې، یـو ټـیم غوړي او داسې نور د اړتیا وړ شیان چې د هلك پلار یې هـم بـې لـه ځنـډه ورته اخلي او د جینۍ کور ته یې وروړي، دا شیان د جینۍ پـلار ددې لپـاره ترې اخلي چې کله جینۍ واده شي او د درې ورځو پـورې نـاوې تـه ډوډۍ وروړي؛ نو لګښت به یې له همدې څخه کوي.

## د واده ورځ:

د پریکون له مخې چې کله د واده ورځ معلومه شي، لـه دې ورځـې نـه یـوه ورځ مخکې د جینۍ یا ناوې کور ته جوړه وروړل کېږي؛ نو ځکه د جوړو د ورځو په نامه یادېږي.

څرنګه چې دا ورځ د هلك د کور لپاره یـوه د خوشـحالۍ ورځ وي، نـو پـه همدې ډول د ناوې د کور لپاره هم یـوه د خوښـۍ او خوشـحالۍ ورځ وي؛ دهلك خپل خپلوان د هلك کور ته او د جینۍ خپل خپلوان د ناوې کور ته او په ځانګړي ډول همزولې او ملګرې راځي نو په همدغه ماز یګر د هلـك د کور له خوا نکریزې دکلي شاوخوا کورونو او د ناوې کور ته وروړل کېږي.
همدارنګه په دغه شپه د هلـك پـه کـور کـې د دود لـه مخـې د خوشـحالۍ ښکاره کولو په خاطر د سندرغاړو او هنرمندانو یو مجلس جـوړېږي چـې د

ډېرو لرې لرې ځایونو ورته خلك راځي او له نږدې یې ننداره کوي، کله چې شپه پخه شي؛ نو هنرمندان او سندرغاړو ته چې له پخوا څخه یو رواج دی ډوډۍ وروړي چې دې ته چرګ بانګی هم ویل کېږي، خو دا دود په عمومي توګه د نوموړې ولسوالۍ په نږدې کلیو کې د کمېدو په حال کې دی او په ځینو کلیو کې یعنې په هواره سیمه کې پرتې دي دا دود یو څه اندازه کم شوی دی. همدارنګه کله چې د واده ورځ یعنې د ناوې د راوستو ورځ شي او مېلمنو ته ډوډۍ ورکول ختم شي، بیا له دې څخه وروسته د ناوې راوړلو ترتیبات نیسي او دا هم په دې ترتیب چې لومړی ډولۍ جوړوي او د ډولۍ د جوړولو نه وروسته د ناوې کور ته ورځي، هلته د یو څه وخت وروسته د ناوې ماما راځي، هلك او د هغه ورور، پلار او داسې نور خپلوان د ناوې کور ته بیایي، ددې لپاره چې هلته جامې بدلې کړي، کله چې یې جامې بدلې کړې نو بېرته راوځي او د هلك خپلوان ملګري پرې روپۍ شیندي او څیرې ورته وراچوي، د یادګار په توګه ورسره یوه قطعه عکس هم وباسي او د هلك ماما خسر ناوې په ډولۍ کې کښېنوي؛ نو په همدغه وخت کې کله چې ناوې له پلار له کوره وځي، د ناوې ماما په دروازه کې کلك ودرېږي، او ناوې نه پرېږدي چې تر څو د ناوې مېړه یا خسر ورته د ماماتوب روپۍ ورکړي، کله چې د ناوې ماما ته د ماماتوب روپۍ ورکړي ناوې پرېږدي او د ناوې خپل خپلوان د هغې ډولۍ په اوږه تر نیمې لارې پورې وړي، په همدغه ورځ کله چې ناوې د پلار له کوره وځي نو د دود له مخې دهغې کشر ورور غنم، روپۍ، شنه کبل یا بل کوم شی دهغې د پلو پورې تړي، ددې لپاره چې په راتلونکي ژوند کې هرڅه پریمان وي او ژوند یې ښه وي چې دا کارونه اکثره د ښځو لخوا ترسره کېږي.

په همدې ترتیب د ناوې د مور او نورو خپلوانو ښځو له خوا ناوې ته دا دستور ورکول کېږي چې کله دې په قران شریف کې د خپل مېړه سره کتل

چې تر هغه مخکې شي او کوښښ به کوي چې په دې کتو کې په هغه لومړۍ شي تر څو په هغه اوچته شي او ته پرې زوروره شي، همدارنګه په همدغه ورځ له ناوې سره یوه یا دوه ښځې چې د ناوې نږدې خپلوانې وي ځي او د واده اوله شپه د ناوې سره تېروي. کله چې ناوې د هلك کور ته ورسوي او د ډولۍ څخه یې راښکته کړي، نور خلك یې په یو مناسب ځای کې کښېنوي او د کور لخوا ورته یوه اندازه خوږ شربت ورکول کېږي او د هلك مور یا خور او ورور ورته مېږه راولي او د ناوې سره یې یو ځای په پالنګ کې کښېنوي.

## په قرآن شریف کې کتل:

کله چې مېلمانه ټول کورونو ته ولاړ شي، د هلك ورور یا خور هلك راولي، د ناوې سره یې یو ځای په پالنګ کې کېنوي، په دې منظور چې ناوې او هلك له نږدې یو بل وګوري او بل د دود له مخې دواړه په قرآن شریف کې وګوري، لکه څرنګه چې مخکې مو هم ورته اشاره وکړه چې هلك ته همداسې ویل شوي وي، کله چې قران شریف ته وکتل، نو سم دواړه به خپل خاوند ته ګوري، تر څو اینده کې ورباندې ستا ستربالا (اوچت) وي او ناوې هم همداسې پوه شوي وي، څرنګه چې ناوې ته له یوې خوا حیا ورځي او له بله پلوه نابلده وي؛ دا کار نشي کولای نو هلك لومړی او په ډېره چالاکۍ سره قرانکریم ته او بیا ناوې ته ګوري او ناوې ته په سر یو ورو ګوزار ورکوي. دا چې دا یو مسابقوي دود دی نو اکثره وخت دا مسابقه هلکانو وړي وي، په نوموړې ولسوالۍ کې دا دود اوس هم موجود دی.

## د واده اوله شپه:

د ناوې هغه نږدې خپلوان چې د ناوې سره راغلي وي نو د واده اوله شپه د ناوې سره یو ځای د هغوي په کور کې تېر وي او ناوې سره تر هغې ناستې وي چې هلك خپلې کوټې ته راشي بیا نو ځانګړې شوې ځایونو ته ورځي او شپه تېروي او دا هم ددې لپاره چې ناوې د نوموړي کور او وګړو سره یو څه نا اشنا وي او د هغوی په خوی بوی نه پوهېږي، چې ناوې ډاډه اوسي چې د کورنۍ غړې ورسره دي، او یوازې نه ده، د هلك کورنۍ د هغوی ښه قدر او عزت کوي او په سبا یې په ښه شان سره رخصتوي.

## د نکاح تړل:

په سرخرود ولسوالۍ کې د نکاح مراسم هم د نورو سیمو په څېر په اسلامي طریقه ترسره کېږي او د هلك پلار د واده په لومړۍ شپه خپل خپلوان او د کلي امام راغواړي او د ډوډۍ، چاۍ او نورو خوړو وروسته نکاح په دې ترتیب تړي، چې لومړی ناوې سره د هغې هغه خپلواني ښځې هم ناستې، وي نو ناوې ته وایي چې ژر به د نکاح پلار نه په ګوته کوي نو ناوې هم همداسې کوي خو کله چې همدغې ښځې اجازه ورکړه چې اوس د نکاح پلار فلانکی دی نو ناوې یې د دوی په خوښه ټاکي.
همدارنګه کله چې ناوې لپاره مهر ټاکي نو روپۍ، پټي یا کوم بل شی ناوې ته په مهر کې ورکوي خو په نوموړې ولسوالۍ کې عمومي رواج د مهر له پاره نغدې روپۍ او یا پټي ټاکي چې د همدغې ښځې ګور او کفن یې بولي او بل څوك ورسره په دغه شخصي مال کې د ملکیت څښتن نشي کېدلی.

## د ماشومانو سُنتول:

په سرخرود ولسوالۍ کې کله چې يو څوک وغواړي خپل ماشوم سنت کړي نو مخکې له مخکې د ماشوم د مور له طرفه نيا او نيکه خبروي، کله چې د ماشوم د سنتولو ورځ راورسېږي نو د ماشوم پلار د کلي نايي يا ډاکتر راغواړي د ماشوم نيکه کورنۍ هم راځي، په همدې وخت کې چې ماشوم سنتوي،نو نيکه يا ماما يې ماشوم په يو خانک يا کاسې له پاسه کېنوي او سنتوي يې.

کله چې ماشوم سنت شي، نو د ماشوم نيا او مور او خپل خپلوان پرې روپۍ او مېوې شيندي او دماشوم ماما نايي يا ډاکتر ته حق ورکوي چې يو څه اندازه وچه مېوه هم ورسره ملګرې وي، او نايي يا ډاکتر د ما شوم تر هغې درملنه کوي، تر څو ښه روغ شي.

همدارنګه هغه اضافي غوښه چې له ماشوم څخه سنت شوې وي، د ماشوم مور يې را اخلي او د اصلي روپۍ او کونجکې سره يې يو ځای کوي، او د ماشوم په پښه کې يې اچوي، ددې لپاره چې درد پرې اسانه شي، بايد يادونه وکړم چې دا دود هم په غريبزه علاقو کې د شالۍ په دره کې لا اوس هم ژوندی دی، ولې په هوارو سيمو کې ختم شوی دی.

دا چې پخوا په نوموړې ولسوالۍ کې اکثره سنتونه خلکو په خپلو نايانو کول، ولې اوس دا سنت څوک په نايانو دومره نه کوي او خپل ماشومان په ډاکتر سنتوي، کله چې ماشوم سنت شي، نو خپل خپلوان او دوستان يې کور ته د مبارکۍ لپاره راځي او له ځان سره يو څه تحفه د ماشوم کور ته راوړي او زنانه چې کله مبارکۍ ته راځي په يوه ټکري کې وريجې، د شيريني پاکټ او يو څه نور شيان اچوي او د مبارکۍ لپاره ورکره ورځي خو اوس دا چاره تر ډېره په ډاکټرانو ترسره کيږې د نايانو باندې څوک دا کار نه کوي اوس.

# د جرګې دود

په هغه وخت کې چې د دوو کسانو، دوو کلیو یا د دوو قومونو تـرمنځ کومـه لانجه یا کومه شـخړه د کـومې خـبرې لـه املـه پېښـه شـوې وي؛ نـو پـه دې صورت کې د قوم هغه سپین ږیري مشـران او مخور خلک چې دواړو خواو ته قابل د قبول وي ټولېږي، ددې لپاره چې لانجه خلاصه کړي.
د جرګې لپاره چې کوم اشخاص ټاکـل شـوي وي، هغـوی لـومړی کوښـښ کوي چې له دواړو خواو څخه واک ترلاسه کړي؛ نـو پـه دوهـم قـدم کـې د واک اخیستلو او معلوماتو ترلاسه کولو نه وروسته دوی له دواړو خواوو څخه ضمانت په شکل یوه اندازه روپۍ اخلي.(چې دې تـه مچلغـه وایـي) دا کـار ددې لپاره کوي چې د کوم یو د دوی څخه د جرګې د پریکړې نه انکار ونه کړي او که چیرته یو لوري انکار هم وکړي، نو هغه روپۍ چې دوی ته تـرې د ضمانت په توګه اخیستي، نو یې ورکوي نه یوازې دا چې د ضمانت روپۍ نه ورکوي، بلکې ټول قوم ته یې مجرم او ظالم په نـوم ورپېـژني او هغـه بـل جانب مظلوم ګڼي.
د جرګې په جریان کې دواړه خواوې یعنـې یـو ورځ یـوه لـوري او بلـه ورځ بـل لوري د جرګې غړو ته ډوډۍ ورکوي، تر هغې دواړه خـواوې جرګـې تـه ډوډۍ ورکوي، څو جرګې فیصله نه وي کړي خو دا جرګې اکـثره یـو شـان فیصـلې نـه کوي، یعنې ځینې ظالمانه او ځینې منصفانه پریکړه، کله چې جرګه خپلـه فیصـله وکړي او دواړو خواو ته یې واوروي او کـوم یـو لـوري یـې ونـه منـي نـو جرګـه کوونکي تر دې پورې اختیار لري چې مال او جایداد یې په خپلـو منځونـو کـې ووېشي، او کور ته یې اور واچوي او سړي د وطن څخه فراري کړي.

## ننواتې

ننواتې د سرخرود ولسوالۍ پښتني ټولنې ډېره پـه زړه پـورې عنعنـه ده او پـه ډېرو اجتماعي او ټولنيزو معاملو کې ورڅخه استفاده کوي، دمثال په توګه که چېرې د دوو تنو ترمنځ خبرې جدي شکل غوره کړي او ترمنځ يـې خفګـان پيدا شي او يو پر بل باندې تېرى وکړي، په دې صورت کې تـيري کـوونکي او کبرجنه کورنۍ د خپلې ګناه د عفوې او ښښلو لپاره د کلي يو څو تنه سـپين ږيري د ناغې سره د هغه کور تـه د ننـواتې پـه شـکل وروروليِ او دوي هـم ورسره ورځي، کورنۍ د کلي د سپين ږيرو د احترام له مخې تـيرى کـوونکي ښښي او د دوى ګناه تيرى کېږي، په دې دهغـوى د احـترام لپـاره پـه ننـواتې ورځې د دوى ګناه ښښل کېږي او هغـه پخـوانۍ رخـه او کينـه د دوى تـرمنځ ورکېږي او ځانونه يو د بل غم او خوشحالۍ کې شريک بولي او د کـلي لـه مشـرانو څخه ډېره ډېره مننه کوي، په دې دود کې ملايان غوره مقـام لـري او کليوال يې احترام کوي او دهغوى خبرو ته غوږ نيسي، تربګڼ د خپل مـلا د خير خبرې مني.

## سيمه ييزې لوبې

د سرخرود ولسوالۍ د پښتني ټولنې هغه سيمه ييزې لوبې چې اوس د ځوانانو او کوچنيانو لخوا ترسره کوي، د پخوانيو لوبو سره ځينې لوبې توپير کـوي او ځينې يې لا په همغه شکل پاتې دی خو د نوو لوبو په راتګ سره هغه لـوبې اوس څوک نه کوي، لکه: ډانـډس، ټيقـي کـول، خـوسى، الادات، غـوزان کول، پسته ډبلۍ، ړنده جره او داسې د يادولو وړ دي.

د نومو ړې ولسوالۍ لوبې په دوو برخو وېشل کېږي چې يو د لويانو لوبې دي او بل د کوچنيانو.

۱. د لویانو لوبې لکه والیبال، کرکټ، خوسی، ډز غېږ، ډانډس، تیږه اچول، دمټ زور وهل، غېږه نیول، منډه وهل او داسې نور.
۲. د کوچنیانو لوبې ډېرې دي خو موږ د نمونې په توګه دلته یو څو راخیستي، لکه: چیندرو، پټپټوانې، هنګي، پسته ډبلۍ، توت کانی او داسې نور.

**۱. چیندرو:**

دا لوبه په دې طریقه سره ترسره کېږي چې دوه کسان پکې د لوبې اصلي غړي وي او یو بل کس چې هغې ته منځګړی وایي دا په دې معنا چې د دواړو اصلي لوبغاړو لپاره لوبه کوي، د نوموړې لوبې طریقه داسې ده چې لومړی په ځمکه باندې د دوه یا درې مترو په اندازه مستطیل ته ورته شکل رسم کړي، بیا دغه شکل په شپږو برخو چې مربع ته ورته وي تقسیموي چې په ترتیب سره اولې مربع ته اول پټی، دویمې ته دویم پټی، درېیمې ته دریم پټی د مویم وایي او له نورو څخه یو څه لوی وي او دویم پټي ته دوزخ وایي، همدارنګه څلورم پټي ته ارکو وایي او پنځم پټي ته پنځم یا سرحد وایي، او شپږم پټي ته شپږم یا زمزکو وایي چې ددې لپاره یو ګرده بیضوي شکل چیندرو چې له تیږې یا کودړي جوړه وي، لوبه ترسره کوي. دا لوبه چې په نوموړې ولسوالۍ کې له ډېرې پخوا څخه رواج لري، اوس هم ترسره کېږي.

**۲. پټپټوانې:**

دا لوبه په داسې شکل سره ترسره کېږي چې ډېرې جینکۍ ګرد چاپېره ودرېږي او داسې وایي، جینۍ له پانې، جنۍ به یې وخوري په ډېره مینه غونډۍ یې رنګینه، په همدې ترتیب هره جینۍ په خپل نوبت سره دا الفاظ وایي نو کله چې ټولې جینکۍ خپل نوبت تېر کړي او په اخر کې کومه جینۍ پاتې شي یعنې هغه جینۍ چې اخر لمبر یې وي، سترګې پټې کړي او نورې جینکۍ ترې ځانونه پټ کړي، هغه جینکۍ چې ځانونه یې پټ کړي

وي داسې وايي چې ښکاره خو ددې خبرې په اورېدو سره همدغه جينۍ چې سترګې يې پټې کړي، سترګې خلاصوي او د نورو جنکو په لټه لاس پورې کوي نو يې چې هره يوه پيدا کوه په سر ورته لاس کش کوي، او داسې وايي چې د منګي مات غوري تالا په همدې ترتيب سره هغه جينۍ چې په سر يې ورته کش کړي وي هغه سترګې پټوي او نورې تـرې ځانونه غيبوي او په همدې ترتيب لوبه تر اخره روانه وي.

**۳. هنګۍ:**

دا لوبه د دوو ډلو يا ګروپونو لخوا چې دوه پکې مشران وي او نور کسان پکې پخپل منځ کې سره ملي او وروسته نومووړې ډلې يو له بل څخه په دومره فاصله کې پټ ودرېږي چې اواز يې واوري او په سترګو يې ونه ګوري. کله چې هر سرمير خپله ډله يو د بل پسې کتار ودروي نو سرميران سره خپل ځانونه بدلوي نو دهر يو سرمير چې د هنګۍ (اواز کولو)) نوبت وي، بلې ډلې ته غږ کوي او داسې وايي: ((هنګۍ، مل دې څوك دی)) نو د مقابلې ډلې کې لومړۍ ولاړ وي نو هغه سرمير چې غږ يې کړی وي، د دويم ځل لپاره ورته وايي چې ((پرې راځئ)) نو هغوی هم داسې کوي او راځي او هغې ډلې ته بيل بيل ورته په شا کېږي، او بيرته يې خپل ځای يعنې د دمې ځای ته وړي او همدارنګه که چيرته د دويم کس مل په دويمه ډله کې دويم يا درېيم ولاړ وي نو سرمير ورته داسې وايي: ((دريو وروسته شه)) نو په دې وخت کې بيا د دويمې ډلې سرمير غږ کوي او لوبه جريان پيدا کوي.

دا لوبه له ډېرو پخوا څخه د سرخرود ولسوالۍ ښتنې ټولنې په هغه کليو کې چې په هواره کې پراته دي، زيات رواج لري. لکه: د اراضۍ کلي، تنر کلی او داسې نور او په هغو کليو او بانډو کې چې په غرييزو علاقو کې دي هلته رواج نه لري.

**۴. پسته ډبلۍ:**

دا لوبه هم له ډېر پخوا څخه رواج لري او عموماً د شپې له خوا کله چې د سپوږمۍ رڼا تر سترګو کېږي او د کولو طريقه يې په دې ډول ده: چې لس يا شل کوچنيان سره را جمع شي او په يو پراخه ميدان کې ګرده کړۍ کې کښېني او يو کس له دوی څخه څادر تاو کړي چې ډبلۍ ورته وايي، دغه ډبلۍ له ځان سره پټه نيسي او له ناستو کسانو څخه ګرد چاپېره چورلي، چا ته يې چې خوښه وي ډبلۍ د يو کس شاته داسې اچوي چې ناست کس پرې پوه نه شي، دا کس چې دويمه دوره وکړي او ناست کس ته راورسېږي، په هغه صورت کې چې ناست کس پرې پوه نه شي نو ډبلۍ ورپسې را اخلي او وهي يې، تر هغې چې دوره وکړي او بېرته په خپل ځای کېني او که ناست کس پوه شي نو له هغې مخکې ډبلۍ را اخلي او ولاړ کس تر هغه وهي چې کله د ده پر ځای کښېني.

**۵. توت کاڼي:**

دا لوبه هم د مخکې لوبې، يعنې هنګې په څېر تر سره کېږي. دا چې په دې لوبه کې هم دوه ډلې يا ګروپونه شامل وي چې دوه يې مشران يا ميران وي. دا لوبه اکثره د شپې له خوا چې سپوږمۍ رڼا وي د لوبغاړو له خوا ترسره کېږي چې د لوبې سرميران په لومړي سر کې خپلې ډلې په ميدان کې ودروي چې له دغې سر ميرانو څخه يو سر مير سره روپۍ يا کاڼي وي، دغه کاڼي د نورو کسانو منځ ته وغورځوي نو هغه هم ددې کاڼي د موندلو لپاره کوښښ کوي. د هرې ډلې کوم يو کس چې پيدا کړي، نور کسان يعنې د مقابلې ډلې کسان په ځان نه پوهوي او غلي يې خپل سر مير ته وروړي او مقابل جانب ته وايي چې يو چينجی مو درته شو او که چېرې دغه روپۍ يا کاڼي دويمې ډلې مينده کړ او خپل سرمير ته يې راوړي نو په دې وخت کې دواړه سره مساوي وي؛ يعنې يو بل ته يې چينجي ورته نه وي او بيا د همدغه ډلې وار (پاړۍ) وي او دويمې ډلې سرمير کاڼي اچوي او په همدې ترتيب لوبه روانه وي.

## اصطلاحات يا ګړنې

په ولسونو کې ځينې اصطلاحات يا ګړنې شتون لري چې په ځينو خاصو حالاتو کې د ولسي خلکو لخوا استعماليږي که څه هم جمله نيمګړي وي خو مفهوم يـ کـ نورل‌او دوي تري خاص مانا اخلې.

د اصطلاحاتو پههړا  اات  س‌د لال پاچا ازمون په خپل کتاب (پښتو فولکوري ادبيات) کې د اصطلاحاتو تعريف داسې کړی:(اصطلاح په پخو او رښو لفظونو کې هغه نيمګړی عبارت دی چې د حقيقي او رښتينې مانا پرځای مستعاره مانا ترې اخيستل کيږي.

اصطلاح د متل په څېر د خبرې،د پيښې يا يو عمل د پخلي او ثبوت لپاره کارول کيږي، اصطلاح زياتره مهال مستعاره مانا ښندي، اصطلاح شخصيتونه، سيمه،قوم او قبيله را ې  پ‌ژني. (۲: ۲۳۰)

د سره رود ولسونو هم خپل روزمره ژوند کې دا ډول اصطلاحات کاروي او په ځانګړې توګه په ډېرو او حجرو کې د ځوانانو او سپين ږيرو ترمنځ استعماليږي.

استاد لال پاچا ازمون د اصطلاحاتو جوړښت په اړه په همدي کتاب کې ليکلي دي: (اصطلاح نيمګړې جمله يا عبارت دی، استعاري بڼه لري، دغه نيمګړی عبارت پوره مستعاره مانا ښندی اصطلاح منظومه او منثوره بڼه لري) (۳: ۲۳۰)

دا هم بايد ياده کړو چې اوس د دوی د ژوند پخوانۍ او لرغوني بڼې تر يوې اندازې پورې تغير کړی دی او کليوالو او بانډه والو د سواد او تجارت د خپلې سيمې نه بلې سيمې ته او بازارونو کې د ګرځېدو او راګرځېدو له امله طبيعي پيښې پريښي او ژوند په کرونده کې يې د تمدن نوی څرك لګېدلی دی.

استاد ازمون په خپل کتاب کې (پښتو فولکلوري ادبيات) ځينې اصطلاحات

راوړي، چې تر ډېره د سره رود خلك هم دا کاروي، چې بېلګه یې په لاندې ډول دي:

په پوزه مچ نه پرېښودل
د اسمان کټ
زړه اچول
په رڼا ورځ د ستورو شمارل
له زانېو کټوری غوښتل
ګور ګورې څنډل
خاوره ایستل
پوره پرېکول
لاس ورکول
لاس تر زنې کېناستل

او پورته اصطلاحات په سره رود ولسوالۍ کې هم کارول کیږې چې هر یو یې ځانته مانا لري او ولسې خلك یې کاروي.

## کږنې، انګیرنې

د ټولنیزو پدیدو د ښو پېژندلو لپاره باید د هرې پدیدې ځانګړتیاوې په نښه شي، ترڅو یې له نورو ټولنیزو پدیدو سره توپیر وشي.

دا دی د فولکور ځانګړتیاوې هم بېلې بېلې بیانو:

۱. ټولې فولکلوریکي لاسته راوړنې په شفاهي توګه موجودې وي.

۲. فولکلوریک آثار به منظومه یا منثوره بڼه لري.

۳. ټولې فولکلوریکې لاسته راوړنې په عنعنوي او دودیزه توګه موجودې وي.

۴. د فولکلور جوړونکي یا رامنځته کوونکي معمولاً معلوم نه وي.

۵. فولکلور د کلتور د جز په توګه د هرې ټولنې په کلتور کې وي.
خاطره شينواري په خپل اثار د پښتو په شفاهي ادبياتو کې د انګېرنو ونډه او د هغوی تحليلي څېړنه کې د کړنو او انګيرنو په اړه ليکلي دي:
«د فولکلور د پېژندنې په لړ کې مو ويل چې فولکلور د خلکو هغو عنعنو ته ويل کيږي چې له ډېر پخوا زمانو څخه را پاتې وي، فولکلور د محتوا له مخې په شفاهي، غير شفاهي او نميه شفاهي باندې وېشل شوی، موږ دلته د فولکلور د نورو برخو څخه تيرېږو يوازې د نيمه شفاهي فولکلور يوه برخه چې هغه کرکې، کړنې او انګيرنې دي تر بحث لاندې نېسو، انګيرنې د فولکلوري توکو په منځ کې هغه توکی دی چې پښتانه يې په ژوندانه کې د پېښيدونکو بدلونونو او رامنځ ته کېدونکو پېښو سره په تړاو د عامل او لامل په توګه پېژني.»
د انګېرنو په اړه دا هم ويل کيږي چې لومړني انسان د طبيعت په اړه په څه نه پوهېدل، نو په همدې وجه يې د طبيعت ټولو پېښو ته خپل ذهن کې يو علت ټاکه چې ددې علت ټاکل په ټولنه کې د انګيرنو د پيدا کېدو سبب شو.
انګيرنې هغه جملې او پديدې دي، چې د علت او معلول تر منځ مدللې او عملي اړيکې موجودې نه وي، که کومه رابطه موجوده هم وي هغه به غير مستقيمه او نامطلوبه وي. کرکې، کړنې او انګيرنې د يوې ټولنې د وګړو د ذهني زيږنده دي، چې د ټولنې د وګړو تر منځ په ورځينو چارو کې په زياته پيمانه کارول کيږي، زياتره خلك په انګيرنو باندې کلکه عقيده هم لري، څکه کله، کله د انګيرنو پايله، لکه څنګه چې يې په اړه فکر شوی وي، هماغسې راوځي.
په لاندې ډول په سره رود ولسوالۍ کې يې نمونې درته وړاندې کوو چې ما اوريدلي دي. (۱۶: ۱)

**۱. د سترګو رپېدل:**

د انسان سترګې د ځینو مرضونو او علتونو په مقابل کې رپېږي، د سترګو رپېدلو د کلیو او بانډو په خلکو کې ډېر په زړه پورې او غوره فال ګڼل کېږي. د دوی د عقیدې له مخې په دې کې د مسافر او مېلمه د راتګ مفهوم پروت دی.

د کلیو او بانډو په خوار ولس کې د سترګو رپېدل داسې تعبیرېږي: د چا چې ښي سترګه ورپېږي، د مسافر د خیر او روغتیا مفهوم لري او که کینه سترګه ورپېږي، د مسافر د بدۍ، خفګان او زیان مفهوم ذهن او فکر ته رسوي.

د بانډو خلک د ښۍ سترګې په رپېدو باندې خوشحالېږي او هغه ځان ته نېک فال ګڼي او خپل زړونه پرې ډاډه کوي. دا شان د هغه خبر او زېري په معنا کارونه ورځینې اخلي چې دوی د لاروي سفر او تګ په خېر، خوښۍ، خوشحالۍ او ارامۍ سره ترسره کېږي.

**۲. د چای په پیاله کې د شمې درېدل:**

د چای د څښلو په وخت کې وینو چې پیالې ته د چای جوش او چاینک څخه د چای شمه او خسنې راتوییږي. کله چې په دې وړو، وړو شمو کې یوه نیمه په پیاله او چای په منځ کې نېغه او عمودي درېږي، دا حال دوی داسې تعبیروي: که خدای (ج) کول زمونږ مسافر به له سفر نه بېرته کاله ته راستنېږي. دا شان په پیاله کې د شمې درېدل د مېمله سره مینه لري نو له دې کبله وایي: مېلمه مونږ ته برکت له ځان سره راوړي.

**۳. د نر چرګ هګۍ:**

لکه چې جوته او څرګنده ده، چرګ هګۍ نه اچوي او په نادر ډول سره دا لېدل شوې ده چې چرګ هګۍ اچولې. په کلیو او بانډو کې که په کوم کور کې چرګ هګۍ واچوي، ډېر ورته خوشحالېږي، د دوی د ولسي عقیدې له مخې د چرګ دا هګۍ د دولت او شتو د ډېرېدو او برکت نښه بولي او ځانته

يې د خوشحالۍ او ابادۍ نېک فال ګڼـي او د غنمـو، وريجـو او وربشـو پـه کندو کې يې د برکت لپاره ږدي.

**۴. د کارغه اواز:**

که د يو چا له کور څخه يو په بل وطن کې مسافر وي او د مسافر د کور والا په مخکې کارغه اواز وکړي نو مور يې ماشوم ته وايي چې ته کارغه ته ووايه چې صابون چکۍ به درکړم زما پلار، ورور، کاکا راوله؛ يعنې د کارغه اواز د مسافر د راتګ زيري بولي او هم دا ورته وايي چې د ښو زيري وکړه، د بـدو زيري مه کوه؛ يعنې داسې فکر کوي چې کارغه کـوم يـو زيـری راوړی دی. بيا په ځينو ځايونو کې کارغه ته پـه ځـواب کـې وايـي: خـوږ زيـری، خـوږ زيری.

**۵. د ماښام پر وخت د چرګ اذان:**

دا هم د يوې واقعې د راتګ سبب بولي، چرګ د خپله ځايه شـړي او وهـي يې.

**۶. د وږو الوتل:**

دا هم د يو چا د راتګ زيری بولي.

**۷. د اوبو پړق:**

دا هم د يو چا د راتګ زيری بولي.

**۸. د ټيکري پلو سرته راتلل:**

دا هم د يو چا د راتګ زيری دی، په ځانګړې توګه هغه ښځه چې مېـړه يـې مسافر وي، داسې انګېري چې مېړه به يې کور ته راشي.

**۹. د ماشومانو کتل د پښو منځ کې:**

کله چې يو ماشوم سر ښکته کړي او د پښو په منځ يو طرف تـه وګـوري نـو مور يا خور يې وايي چې له دغه اړخه به مونږ کره مېلمه راځي.

**۱۰. د ورغوي خارښ:**

کله چې د يو چا ورغوی خارښ وکړي نو داسې انګېرې چې مال، دولت يې ډېرېږي.

**۱۱. په ماښام کې د سپي غپل:**

کله چې يو سپی په ماښام کې غاپي (دولي واهي) نو خلک وايي: چې په خوله کې ورته ايرې واچوئ او داسې انګېري چې دا د کومې واقعې د راتګ علامه ده.

**۱۲. په خوب کې د ماهيانو او مړي لېدل:**

په خوب کې د وړو ماهيانو او د مړي لېدل ښه انګېري او په روپو غاښ وتل خوشې انګېري. دا چې په اسلام کې د خوب تعبير شته او په خوب کې د غاښ وتل هم ښه نه وي نو دا هم په سمه او پرځای انګېرنه ده.

**۱۳. په غايب کې يو کس يادول:**

او په همدغه وخت کې د هغه راتګ د نوموړي کس د عمر د ډېروالي علامه بولي او وايي چې عمر يې ډېر دی.

**۱۴. د اور غرهار:**

اور په يو نيم وخت کې يو مخصوص اواز کوي چې ځينې خلک يې داسې انګېري چې ګويا زما غيبت څوک کوي.

**۱۵. يټکۍ کول:**

کله چې يو څوک يټکۍ وکړي، داسې انګېري چې چا ياد کړم.

**۱۶. په ماښام مهال د جارو وهل:**

په ماښام کې د کور جارو کول د کور د نېستۍ سبب بولي.

**۱۷. د نوکانو بې ځايه غورځول:**

د نوکانو غوځول او بې ځايه غورځول د نېستۍ سبب بولي. دا چې دا کار د اسلام او ادب له مخې سم او ښه کار نه دی نو يوه ښه انګېرنه هم ده.

**۱۸. غنو جالې جوړول:**

په يو کور کې د هغه کور د کوچ کېدو سبب بولي.

**۱۹. په خوب کې د اوښ لېدل:**

د مريض د راتلو علامه يا نښه بولي.

**۲۰. سپي ته لاړې اچول:**

سپي ته لاړل اچول په بدن باندې د زخو د راښکاره کېدو سبب ګرځي.

**۲۱. که يو ماشوم پروت وي:**

او بل څوک د پاسه ورباندې اخوا دېخوا اوړي نو داسې انګېري چې ګويا دا پروت کوچنی نور نه غټېږي.

**۲۲. زنې ته لاس کېښودل:**

د پلار په ژوند زنې ته لاس کېښودل داسې انګېري چې دا د پلار د مړينې سبب ګرځي.

**۲۳. د چرګ سر خوړل:**

د هغه چې چې پلار ژوندی وي او د چرګ سر وخوري، داسې انګېري چې پلار يې مري؛ يعنې د چرګ سر د پلار په ژوند نه خوري.

**۲٤. د لمانځه څخه وروسته د لاسونو او پښو له ګوتو څخه ټکونه ويستل:**

د شيطانانو د پيدا کېدو سبب بولي.

**۲۵. د بوټ يا څپلۍ يو پر بل اوښتل:**

په څټ کېدل د هماغه کس د سفر علامه بولي.

**۲٦. د مړي سترګې خلاصې لېدل:**

کله چې د يو مړي سترګې خلاصې پاتې وي نو خلک داسې احساسوي چې د مړي هغه نږدې خپلوان چې چېرته مسافر وي، د هغوی پسې سترګې غړوي.

**۲۷. د مړي خوله خلاصه لېدل:**

د مړي خوله خلاصه لیدل د نورو مړو د کېدو سبب بولي.

**۲۸. د میده نکریزو ساتل په کور کې:**

**۲۹. د وېښتانو اوړدېدل:**

د میده نکریزو ساتل په هغه کور کې د واقعې د پېښېدو سبب بولي.

هغه جنۍ چې وېښتان یې لنډ وي، د دې لپاره چې اوږده شي د ماما د چرګ د وزرو هډوکي دې د خپلو وېښتانو پورې وتړي تر څو اوږده شي.

**۳۰. د نظر ماتېدل:**

د یو سترګه ور انسان د نظر ماتېدلو لپاره د هغه په پل یا قدم باندې متیازې کول د هغه د نظر د نه لګېدو سبب کېږي.

**۳۱. د باران ورېدل:**

په اور کې د زیارتونو د تېږو اچول د باران د ودرېدلو سبب بولي.

**۳۲. د ږلۍ ورېدل:**

د ږلۍ ورېدول ځای ته د چړې او چاقو ور اچول داسې انګېري چې په دې سره ږلۍ ودرېږي او یا هم د ږلۍ یوه دانه په چاقو پرې کوي، تر څو ږلۍ بنده شي.

**۳۳. د یو چا پسې د تود تنور یا نغري ډبول په لاسونو سره:**

د مقابل لوري د تباه کېدو سبب ګرځي.

**۳٤. د جنګ زیاتېدل:**

د جنګ پر وخت د خوشایي په بډه کول او د نوکانو جنګول د جنګ د زیاتوالي سبب بولي.

**۳۵. یو کلي ته د بګوې مخ اړول او اواز کول:**

په هغه کلي کې د کوم مصیبت د راتګ علامه بولي.

# کیسۍ

چې په عربي او دري کې یې لغز او چیستان بولي، د ولسي۔ خلکو د ذهني مسابقې او په زړه پورې او غوره لوبه ده. د کلیو او بانډو ځوانان دا لوبه د ساعت تېرۍ او وزګارتیا کې په خورا خوښۍ سره ترسره کوي.
استاد محمد ابراهیم همکار یې داسې تعریفوي:
((که چېرته د یو څیز ځانګړنې او صفتونه ذکر شي او بیا له مخاطب څخه د څیز د پېژندلو غوښتنه وشي، کیسۍ ورته وایي.))(۲۵: ۴۸)
کیسۍ په منظوم شکل هم وي او په منثور شکل هم، خو په ولسي۔ ادبیاتو کې یې زیاتره منثور شکلونه لېدل کېږي.
کیسۍ له یوې خوا د ساعت تېرۍ لوبه ده خو له بلې خوا د ذهن د پیاوړتیا او انکشاف لپاره یوه په زړه پورې وسیله ده.
دا فولکلوري لوبه د کلیو اوبانډو ځوانانو تر منځ د دوو سیالو ډلو له خوا د شرط په اېښودلو پیل او د شرط په ګټلو پای ته رسېږي.

**۱. دا شی به چا ته معلوم وي؟**

څلور لاسونه لري، کلک پوستکی لري، خوراک یې اوبه دي. د دې کیسۍ ځواب ژی (مشک) دی. د وزې پوستکی چې وویستل شي، وروسته له وچېدو څخه ترې ژی (مشک) جوړوي چې کوچیان پکې اوبه راوړي. څلور لاسونه یې د پسه د څلورو پښو سره تشبیه شوي.

**۲. دا به چا ته معلوم وي؟**

مړي ژوندي زېږوي او ژوندي مړي: دا کیسۍ چې چاته جوته وي نو بې له ځنډه یې په ښودلو پیل کوي او وایي: هګۍ چې د ژوندۍ چرګې سینې ته

کېښودل شي، په هګیو کې د چرګې لاندې چرګوړي کېږي، چرګه یې په مښوکه وهي او چرګوړي د هګۍ نه راووځي.
کله چې نوي چرګوړي لوی شي او بیا نوې هګۍ اچوي، هغه بیا نور چرګوړي په دې ډول سره پیدا کوي. د دې کیسۍ ځواب د چرګۍ هګۍ ده.

**۳. دا به څه وي او چا ته به معلوم وي؟**

د ورځې نه یم، ټوله شپه ورسره یم، هېڅ ترې خفه نه یم
ځواب ورکوونکی په لومړي نظر د دې کیسۍ په اورېدلو سره داسې فکر کوي چې دا خو د ښځې او مېړه د یو ځای کېدو حال دی، خو سره له دې هم د ښځې او مېړه د ګډ او اوږده ژوند د تېرولو کې کله، کله خفګان او قهر پېښېږي او د څه وخت به سره خفه وي.
دا چې سړي د ورځې نه وي او د شپې ورسره وي، د خوب او څملاستو بستره ده، په بستره کې خلک څملي او هېڅ ترې نه خپه کېږي، نو دا کیسۍ د خوب د بسترې مفهوم لري، څرګنده ده چې بستره خبرې نه کوي، نو ځکه نه خپه کېږي.

**۴. دا به څه شی وي؟**

((وچ کلک د کولمو ډک))
کله چې دا کیسۍ واچول شي، نو د ملګرو نه یو تن غږ کوي چې زه یې ځواب کړم، غوږ ونیسي: دا خو کټ دی. کټ په بوڼ پیل کېږي نو دې حال ته وچ کلک د کولمو ډک ویل کیږي.

**۵. دا کیسۍ به د چا زده وي!**

س ((یو په مخ کې سل او څو یې په شټ کې))
د ملګرو نه چې چاته معلوم وي، ورته وایي: داسې اسانه کیسۍ دې واچوله چې هر څوک پرې پوهېږي، غوږ ونیسه چې درته یې وښایم: دا خو ملا صاحب دی. د لمانځه په وخت کې د ټولو نه مخکې محراب کې ولاړ وي،

خلك په هغه پسې وروسته كتار ودرېږي او د خدای عبادت ترسره كوي.

**٦. دا به څه وي؟**

((ورځې ګرځي د شپې، په ځان اغزي اچوي))

دا كيسۍ هم ډېرې فكر غواړي، دا ځكه: څوك چې د ورځې كار وكړي او ستړی شي، دمه، ارام او استراحت وكړي، تر څو چې ستړيا يې وركه شي، كه پر ځان اغزي واچوي، د دې پر ځای چې استراحت وكړي.

نور هم پسې تكليف كېږي. دا چې كيسۍ د تېروتنې او لغز په مفهوم اچول كېږي او د دوو ډلو ترمنځ پر مخ وړل كېږي، نو ددې كيسۍ اچول ډېر په زړه پورې دي. چا ته چې معلومه وي نو داسې يې په ښودلو شروع كوي، څه وخت چې سړی ويده شي، سترګې پټوي نو د سترګو بانه د اغزو سره تشبيه شوي دي.

د سره رود د دري ژبو خلكو په منځ كې ځينې ځانګړې كيسۍ وجود لري چې دامكان تر حده پورې دنورو خلكو په ادبياتو كې وجود نه لري، ځينې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

۱.تيره وړي، غوښه راوړي. (غولك)

۲.سر يې ببر، بېخ يې لغړ. (مسواك)

۳.هغه كومه مېوه ده چې دافغانستان بېرغ ترې جوړېږي. (هندوانه)

# د سره رود د خلکو متلونه

متلونه د ادبیاتو له مهمو فورمونو څخه شمېرل کیږي، متلونه د لېکلو او ویلو په وخت کې استعمالیږي، انسانان د ژوند په مختلفو ډګرونو کې لکه په جرګو او مجلسونو کې یې د خبرو اترو په وخت کې کاروي، استاد لال پاچا ازمون د پښتو فولکوري ادبیاتو په کتاب کې د متلونو د تعریف او ارزښت په اړه وایي:(متلونه هغه لنډه، ګنډه، پراخه او مفهوم لرونکې وینا ده چې له یو نسل نه بل نسل ته د خبرو اترو په ترڅ کې را پاتي کیږې، د ژوند له تجربو راوتې دي او د یوې ښکلې پایلې په توګه په ټولنه کې ژوند کوي.) ۲۲۷/۱

۱.اوزه د ځنکدن په حال او قصاب د غوښې په تمه.

۲.هندو ستړی خدای ناراض.

۳.په یو ګل نه پسرلی کیږي.

٤.کوږ بار ترمنزله نه رسیږي.

٥.په لوټه دریاب نه مرداریږي.

٦.په یوه څپېړه سل مخونه خوږیږي.

۷. د نن ورځ کار سبا ته مه پرېږده.

۸.غر که څومره لوړ دی په سر لاره لري.

۹.مار خوړلی له پړي بېریږي.

## د سره رود دخلکو نذرونه او باورونه

په دهخدا فرهنګ کې د نذر معنی داسې شوې چې یو څوک دیـو شرط پـه توګـه ځان یو څه ومني.
په دیني کتابونو کې هم د نذرونو یادونه شوېده، د مثال پـه ډول سره ابـراهیم علیه السلام غوښتل چې خپل زوی اسماعیل د الله په لاره کې قربان کړي.
په دري ادبیاتو کې نذرونه لاندې ډولونه لري:
۱.مذهبي نذرونه
۲.سنتي نذرونه
۳.د سه بي بي نذر
٤.د بي بي سعدیې نذر
۵.د بي بي روشني نذر
٦.د چهارشنبې په ورځ باندې زیارت ته تلل او د حلوا پخول.
دلته یې ځینې ډولونه په لاندې ډول بیانوو:

**۱. د وچې میوې نذر (نذر سخي):**

دغه نذر د سره رود د دري ژبو خلکو په منځ کې په هر کال کې یـو ځلـې د (ماه خدا) کې د ښځو لخوا ترسره کېږي چې البته یو ټاکلې ورځ لـري، ددې نذر د ستونزو لرې کول، د فقر او غربت لرې کول، د اولادونو خاونـد کېـدل او داسې ځینې نورې غوښتنې لري. ددې نذر خواړه اووه ډوله مېوه ده، په یو نوي دسترخوان کې اچوي چې په یاد دسترخوان کې هیڅ هم نه وي خـوړل شوي، ددغو مېوو پوټکی په همدې دسترخوان کې اچوي. بیا یـې پـه روانـو اوبو کې اچوي. په دې نذر کې یوازې ښځینه طبقه ګډون کولای شي.

**۲. د مالیدې نذر (د بي بي نذر):**

په دې نذر کې نیم من یا درې چارکه اوړه لمدوي، وروسته یې په تنور کې پخوي، دغه ډوډۍ له عادي ډوډۍ لږ څه فرق لري. کله چې ډوډۍ تیاره شوه،نو بیا یې میده میده کوي، غوړي او بوره هم ورسره ګډوي او په یو داسې دسترخوان کې یې اچوي چې له هغې څخه مخکې ګټه اخیستل شوې وي. له لږ وخت څخه وروسته اووه تنه نجونې چې کوژدن شوې نه وي، دسترخوان خلاصوي. ددې مالیدې په مخ کې د بي بي پنجه لیدل کېږي، کله چې ددغو نجونو پواسطه دسترخوان خلاص شو، نو نور ښځینه هم کولی شي ترې وخوري،خو نارینه ترې خوراک نشي کولای.

دغه نذر په کال کې یو ځلې ترسره کېږي، کوم ټاکلی وخت یا میاشت نه لري. البته چې د لومړي ځل لپاره کومه میاشت کې ترسره کړ، د دوهم ځل لپاره یې بیا په هماغه ورځ کې ترسره کوي. ددې نذر خپل مقصد ته رسېدل دي چې مقصد یې پوره شو؛ بیا یې نه ترسره کوي.

**۳. دیکچې نذر (نذر دیکچه):**

دیکچې یا د اخرچهارشنبې نذر د یو خاص مقصد لپاره ترسره کېږي، د مثال په توګه څوک چې اولاد نه لري، څوک چې له بې وزلۍ سره مخامخ شوی وي، یا څوک چې غواړي له پوهنتون نه په لومړۍ درجه فارغ شي،نو بیا دغه نذر ورکوي.

دا نذر د خطر په میاشت د چهارشنبې په ورځ ورکول کېږي، پدې نذر کې یو څه اندازه وریجې او یو څه اندازه شیدې اخلي او بیا یې پخوي، تر پخېدو وروسته خلک په کور کې او د کور څخه دباندې خوري. دغه نذر یوازې ښځینه طبقه خوري، کله چې مقصد یې پوره شو؛ بیا یې د دوهم ځل لپاره ترسره کوي.

**۴. نذر سه بي بي:**

کله چې يوه ښځه حامله وي او غواړي چې د ماشوم پيدا کېدو په وخت کې ورته ستونزې پيدا نشي نو پر ځان باندې د سه بي بي نذر بړدي. کله چې ماشوم پيدا شي نو نخود او مميز سره گډوي، په درېيو برخو باندې يې وېشي، يوه برخه په کور کې خوري، دوه برخې د کور څخه دباندې په خلکو وېشي ـ ددې نذر ځانگړنه داده چې نارينه هم ترې خوړلی شي، کله چې ماشوم په اسانی سره پيدا شو نو ښځينه طبقه گمان کوي چې د سه بي بي نذر برکت و.

**۵. د بي بي روشني نذر:**

په دې نذر کې نيم من يا درې چارکه وريجې له ماستې سره گډوي او چهارشنبې په ورځ برابر وي، دا نذر پدې خاطر باندې ترسره کوي چې له مصيبت او بيوزلی څخه خلاص شي، د يکی سر اووه تنه انجونې د بسم الله په ويلو سره خلاصوي، يوازې ښځې او انجونې په خوراک باندې شروع کوي، کله چې خپل مراد ته ورسېدل، ددې نذر او زښت ورکوي او بيا يې د دوهم ځل لپاره ترسره کوي يې نه.

**٦. نذر محرم (نذر دوازدهم):**

ددې نذر مقصد د حضرت محمد ـ ميلاد په مناسبت ترسره کېږي، دغه نذر د هر کال په دولسم مياشت کې ترسره کېږي، دا نذر هم ښځينه طبقه ترسره کوي. په دې شپه کې يو ښه چرگ حلالوي، وروسته يې پخوي او له پخېدو څخه وروسته د خپلو نژدې دوستانو سره يو ځای خوري، څوک چې توان ولري نو يو غوايي نذر کوي، ددې نذر هدف دادی چې خپل مقصد ته ورسېږي.

# پایلـه

د ننګرهار سره رود ولسوالي یو هم تر ټولو تاریخي ولسوالي ده چې تر نورو هغو په کې تاریخي ځایونـه ،تاریخي زیارتونه ،دودونـه ،فرهنګي فعالیتونـه او ادبي هستې ډېرې دي.
په دې ولسوالۍ کې تر سلو ډېر تـاریخي زیارتونـه او تـر سـلو ډېـر تـاریخي ځایونه شته دي چې د تاریخ بېلابېلو پړاونو پورې تړاو لري.
دلته د بودایانو او سامانیانو له دوره نیولی تر غزنوي دورې او را وروسته حتی د روسانو د یرغل مهال تاریخي داستانونه شته دي چې هر یو یې په تاریخي لحـاظ ددې ولسـوالۍ ارزښـت ډېـروي او کـه دولـت یـې د یـوې تـاریخي ولسوالۍ په توګه وساتي دا به مو یو فرهنګي او تاریخي میراث خوندي کړی وي.
په سره رود کې ډېر زیارتونه له آره د خپلو افغانانو نه دي او اکثره په کې هغه عرب صالحین دي چې د وخت د اړتیـا لـه مخـې لـه عراقـه دلتـه د اسـلامي عقایدو له مخې جهاد ته راغلي او بیا تر ژوند کولو وروسته دلته مـړه او ښـخ شوي دي.
په سره رود کې د پښتني فوکلور ډېره غني برخه پرته ده او هره ورځ ترې عام خلك ګټه پورته کوي، دلته د منظوم فولکلور او منثور فولکلور دواړو ډېرې ښې بېلګې پرتې دي، د خلکو ژوند یې هـم یـو بېـل فولکلوریـك اړخ دی چې تر نورو هغو ډېر توپیرونه لري.
په سره رود کې د پښتو ژبـې او دب ډېـرې ویـاړلې هسـتۍ تېـرې شـوي ،بې شمېره شاعران او لیکوالان په کې اوسېدلي چې پر یوشمېر یې د پښتو ژبې د

غني کولو حساب هم کېږي.
د سره رود په زيارتونو کې اکثره د خلکو عقايد مطرح کېږي، تر ډېره دا زيارتونه د ستونزو حلولو په تېره د ناروغيو مخنيوي لپاره وسيله ګرځول کېږي او ډېر لږ شمېر يې يواځې د يو زيارت په توګه شته نور ټول يې د لسګونه عقيدتمندانو د راټولېدو ځايونه دي.
د سره رود تاريخي کلاګانې او هستوګې له دولتي ادارو او مرستندويه ادارو لرې په ناپامۍ کې اوسي، دا کلاګانې او هستوګې د تېرو جګړو او موسمي بريدونو تر سختو څپو تېرولو وروسته په بد حالت کې دي او هره ورځ يې د نړېدو امکان په ډېرېدو وي.

## مناقشه

سره رود ولسوالي خورا د تاریخي ارزښت لرونکي ولسوالي ده، چې ما یې د ولسونو کلتوري څېړنه کړې ده.
که څه هم زما څخه وړاندې د سره رود د کلتوري او تاریخي ځایونو په اړه ځینو لیکوالو لیکنې کړي او ددغه ولسوالي د کولتور په ارزښت یې رڼا اچولې؛ لکه پوهاند رازقي نړیوال ((دافغانستان تاریخي او فرهنګي ویاړونه)) کتاب کې یواځې ددې ولسوالۍ د بیمارانو تپې یا هستوپې لنډه یادونه کړې ده، خو دومره په مفصل ډول نه دي څېړل شوي لکه څنګه ما را اخیستي.
په دې لیکنه کې مې هڅه کړې چې هرې تاریخي سیمې ته په خپله ولاړ شم، له خلکو سره مرکې وکړم او نوي معلومات لاسته راوړم.
دغه راز استاد محمد داود وفا ((دننګرهار فرهنګي بهیر ته یوه کتنه)) تر سرلیک لاندې کتاب کې د سره رود ولسوالۍ د تاریخي ځایونو یوازې یادونه کړې ده چې لوستونکي ترې پوره معلومات لاسته نه شي راوړلی، خو ما دهمدغو تاریخي ځایونو په باب بشپړ معلومات راټول کړي او د لوستونکو په واک کې مې ورکړي دي.
ځینو لیکوالو چې ددې ولسوالۍ د تاریخي ځایونو په باب معلومات راوړي، ډیری یې د نورو لیکوالو له کتابونو څخه اخیستي دي، خو ما هڅه کړې چې خپل معلومات کره او دقیق کړم او له ځایي اوسېدونکو، لیکوالو، شاعرانو، مخورو او هغو خلکو څخه چې د پاخه عمر څښتنان دي او ددغو سیمو د تاریخي ارزښت څخه معلومات راټول کړم. د تاریخي ځایونو انځورونه مې اخیستي او په دغه لیکنه کې مې ځای پر ځای کړي دي، تر څو مې څېړنه لاغني شي.

د څېړنې د ترسره کولو پرمهال مې د سره رود بېلابېلو سیمو ته سفرونه وکړل، زیارتونه، هستوپې، تاریخي کلاګانې او سمڅې مې له نږدې څخه ولیدلې او په مستقیم ډول مې ددغو تاریخي ځایونو په باب معلومات راټول کړل، چې ویډیویي راپور مې هم پرې چمتو کړی دی.

# وړاندیزونه

ددې لپاره چې سره رود ولسوالي له فرهنگي او تاریخي پلوه یوه معلوماتي ولسوالي ده، نو د پوهنې وزارت د ښوونځیو زده کوونکو لپاره د تفریح او علمي گرځېدنې ښه او مناسب ځای دی څو په تاریخي او کلتوري توگه یې د معلوماتو ترلاسه کولو کې زیاتوالی راشي.

دا ډول ننگرهار پوهنتون اداري ته وړاندیز کوم چې د ژبواو ادبیاتو او ښوونې او روزنې پوهنځي محصلین دې د عملي اوعلمي سیر لپاره دې ولسوالۍ ته یوسي او تاریخي ودانۍ او زیارتونه دې د تاریخي کلتوري ترڅنگ ورته وښیي.

د دې ترڅنگ د ننگرهار اطلاعاتو او فرهنگ ریاست ته وړاندیز کوم چې د سره رود ولسوالۍ د لرغونتیا څرگندولو په اړه دې د علمي هستیو یو درې ورځنۍ علمي سمینار په همدې ولسوالۍ کې جوړ کړي.

دافغانستان علومو اکاډمۍ ته وړاندیز کوم چې د خپلو څېړنیزو علمي پروژو په لړ کې دې پر دې ولسوالۍ یوه کلتوري او تاریخي هراړخیزه څېړنه وکړي او مواد دې د چاپولو ترڅنگ په ارشیف کې هم خوندي کړي.

ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانگې ته وړاندیز کوم چې د سره رود تاریخي کلتوري څېړنه د نړیوالو ادبیاتو او ادبتاریخ په برخو کې محصلینو ته بیان کړي.

# ماخذونه

۱.احمدزی، ذبیح الله. (۱۳۷۸). ماتې ښانګې. کابل: عنایت خپرندویه ټولنه.
۲.اداره احصائیه مرکزی. (۱۳۵۳). اطلس قریه های افغانستان (جلد اول). کابل: صدارت عظیمي.
۳.ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹٤). د ننګرهار مزارونه، اتحاد مشرقي مجله، څلورم کال پنځمه ګڼه.
٤.الماس، محمدجعفر شعري ټولګه.
۵.انصاري، صدیق منصور. (۱۳۷۹). ترورمی کې مشالونه. پېښور: جهاد کولتوري ټولنه.
٦.حصارشاهیوال. اسدالله.(۱۳۷۹). لوی ننګرهار. پېښور: دوحدت ورځپاڼې مطبعه.
۷.حقیار، محمد حسن. (۱۳۷۷). سباوون ورمې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۸.څواکمن، رحمت. (۱۳۹۱). د ننګرهار تاریخي جغرافیه. جلال اباد: ګودر خپرندویه ټولنه.
۹.خادم، قیام الدین. (۱۳۸٤). نوې رڼا. خپرندوی: دلیکوال کورنۍ.
۱۰. دودیال، محمدبشیر. سیدپاچا باور او اسدالله حصارشاهیوال. (۱۳۸٤). دننګرهار ولایت او جلال اباد ښار پېژندنه. ننګرهار: دشهید عبدالحق د ټولنیزو خدمتونو اداره، فرهنګي څانګه.
۱۱. رشاد، عبدالشکور. (۱۳۸۹). د کندهار زیارتونه (لومړی ټوک).

کندهار: علامه رشاد اکاډیمي.
۱۲. روهي، محمدصدیق.(۱۳۹٤). فولکلور پېژندنه. سریزه او بیا کتنه: سیدغني غني. جلال اباد: ګودر خپرنځی.
۱۳. سرتېر، عبدالوهاب. (۱۳۸۰). سوی ډاګ. پېښور: سبا کتابخانه.
۱٤. سعید، محمدنذیر. (۱۳۸۰). سعیدالبیان، پېښور: یو.این.او تعلیمي مطبعه.
۱۵. سعیدي، سیدعبدالله. (۱۳۸۱). پرېشانه اوښکې. جلال اباد: عمران خپرندویه موسسه.
16. . شینوارې، خاطره.(۱۳۹۴ل). د پښتو په شفاهي ادبیاتو کې د انګېرنو ونډه او د هغوی تحلیلي څېړنه. کابل: د افغانستان د علوم اکاډمی د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.
۱۷. صدیقي، صفیه. (۱۳۸۳). سپینې خبرې. کابل: حسیب مطبعه.
۱۸. عبدیانی، ولی محمد. (۱۳۹۵). دافغانانو دودونه او رواجونه. جلال اباد:
۱۹. فیضي، کتاب خان. (۱۳۸٤).ګذارش علمي از ساحات باستانی ولایت ننګرهار. کابل: علومو اکاډمي، باستانشناسی ارشیف.
۲۰. کامه وال، سیدفضل غني او سیدفضل مولا لتون. (۱۳۷۸). حاجي محمدسعید لاهوري (رح) او اولاده یې. پېښور: مرکز نشراتي میوند-سبا کتابخانه.
۲۱. محمدعیسی. (۱۳۹۲). ننګرهار ولایت سیمه ایزه جغرافیه. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
۲۲. نړیوال، رازقي. (۱۳۹۲). د افغانستان تاریخي او فرهنګي ویاړونه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
۲۳. واجد، عبدالواجد. (۱۳۸۱). د پښتو ادبیاتو تاریخ، جلال اباد: ننګرهار

عالي دارالمعلمین.
۲٤. وفا، محمدداود. (۱۳۷۷). د ننګرهار فرهنګي بهیر ته یوه کتنه. کابل: د افغانستان د مطالعاتو مرکز.
۲۵. همکار، محمدابراهیم. (۱۳۹۵). بدیع فن او پښتو شاعري (اتم چاپ). جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

**د سره رود ولسوالۍ د ځینو اوسېدونکو سره مرکې:**

۱.امام جان بابا سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/۵/۲۸لمریز.
۲.اول ګل خاکسار سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/۵/۷لمریز.
۳.احمدظاهر زهیر سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/٦/۱۱لمریز.
٤.حاجي صاحب میاجان سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/۵/۱۲لمریز.
۵.حاجي محمدانور اکرام سره مرکه سره مرکه. نېټه: نېټه: ۱۳۹٦/٦/۳لمریز.
٦.رحیم الله سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/٦/۲لمریز.
۷.رضوان الله سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/۵/۹لمریز.
۸.روزالدین سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/٦/۱٦لمریز.
۹.صفي الله فاني سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/٦/۱٤لمریز.
۱۰. عبدالواسع انتظار سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/۵/۲۵لمریز.
۱۱. عبدالمجید سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/٦/۳لمریز.
۱۲. عسکرخان سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/۵/۲۱لمریز.
۱۳. غلام حیدر حیدري سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/٦/۲۵لمریز.
۱٤. فریداحمداکاخېل سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/۵/۲۹لمریز.
۱۵. فضل الرحمن سره مرکه، نېټه: ۱۳۹٦/٦/۱۳لمریز.
۱٦. لال پاچا ازمون، ازادۍ راډیو، فرهنګـي پروګـرام: ۳۱/ چنګـابښ/ ۱۳۹٤ لمریز.
۱۷. لمر مومند سره مرکه. نېټه: ۱۳۹٦/٦/۱۱لمریز.

۱۸. محمداجان سره مرکه. نېټه: **۱۳۹٦/۵/۱۵**لمريز.

۱۹. محمدانور اکرام سره مرکه. نېټه: **۱۳۹٦/٦/۵**لمريز.

۲۰. مخور مشر غلام رحمن سره مرکه. نېټه: **۱۳۹٦/٦/۲۲**لمريز.

۲۱. معلم محمدحسن سره مرکه. نېټه: **۱۳۹٦/٦/۸**لمريز.

۲۲. ملنګ کاکا سره مرکه. نېټه: **۱۳۹٦/٦/۳**لمريز.

۲۳. مولوي حفيظ الله سره مرکه. نېټه: **۱۳۹٦/٦/۱۲**لمريز.

۲٤. د سره ولسوالۍ د ملکانو شورا منشي- معلم معشوق سره مرکه. نېټه: **۱۳۹٦/٦/۱۰**لمريز.

۲۵. په جلال اباد کې دسيکانو قومي مشر او د درمسال امام اقبال سنګ سره مرکه. نېټه: **۱۳۹٦/٦/۲۸**لمريز.

د سلطانپور سفلی کلي يو تن پخواني اوسېدونکي ګرچرند سنګ سره مرکه. نېټه: **۱/٦/۲۸ ۳۹٦**لمريز.